د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# ټولنیز لوستونه

## لسم ټولگی

### د دیني مدارسو لپاره





ټولنیز لوستونه- لسم ټولگی

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري. پیرودل او پلورل یې منع دي.
curriculum@moe.gov.af

۱۳۹۸ هـ.ش

د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# ټولنیز لوستونه

## لسم ټولگی

(د دیني مدرسو لپاره)

۱۳۹۸
هـ . ش.

## مؤلفین

- د سرمؤلف مرستیال قدیم شیرزی بابکرخېل
- سرمؤلف شیرمحمد رونقی
- پوهنمل زلمی هوتک
- د سر مؤلف مرستیاله سامعه واعظ
- سرمؤلف محمد رفیق مومند
- د سرمؤلف مرستیال غلام سرور ګلابزی
- پوهنیار محمد فاروق عمرخیل
- د سرمؤلف مرستیال محمد انور مشفق

## مسلکي ایډیټ:

- د سرمؤلف مرستیال قدیم شیرزی بابکرخېل
- سرمؤلف نجیب الله امین افغان
- سرمؤلف میر عبیدالله فاضل

## د ژبې ایډیټ:

- سرمؤلف امین الله نژند
- مؤلف اقا محمد ګرندی
- مؤلف محمد قدوس ذکوخیل

## دیني، سیاسي او کلتوري کمېټه:

- دکتور عبدالصبور فخري
- حبیب الله راحل د تعلیمي نصاب د پراختیا په ریاست کې د پوهنې وزارت سلاکار.

## إشراف

- دکتور شیر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې رئیس.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحیم

بسم الله الرحمن الرحیم

## د پوهنې د وزیر پیغام

الحمد لله رب العالمین والصلوة والسلام علی رسوله محمد و علی أله و آصحابه آجمعین، آما بعد:

د پوهنې تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې د نظام بنسټ جوړوي او د هیواد د اوسنیو او راتلونکو نسلونو په علمي، فکري او سلوکي ودې او پراختیا کې بنسټیز او ارزښتمن رول لري.

تعلیمي نصاب باید د وخت په تېرېدو او د ژوندانه په بېلابېلو ډګرونو کې له بدلون او پرمختګ او د ټولنې له اړتیاوو سره سم، هم د مضمون او محتوا او هم د معلوماتو د ورکړې د لارو چارو له مخې، بدلون او پراختیا ومومي.

د تعلیمي نصاب په ډګر کې یو هم د اسلامي زده کړو نصاب دی چې بیا کتنې او ودې ته یې جدي اړتیا لیدل کېده؛ ځکه له یوې خوا باید د دیني مدرسو فارغان د ټولنې د معنوي مخکښانو په توګه د معارف د هڅو د پوره پام وړ وګرځي او له بلې خوا د دیني مدرسو په نصاب کې د اسلام د سپېڅلي دین عقاید، احکام او لارښوونې راغلې دي چې د انساني ژوند د ټولو اړخونو بشپړ نظام او قانون او د نړۍ د خالق او پروردګار د وروستني پیغام په توګه د قیامت تر ورځې پورې، د بشریت د لارښوونې دنده سرته رسوي.

د اسلامي امت عالمانو د تاریخ په اوږدو کې د اسلامي معارف او د اسلامي تعلیماتو د سیستم په رامنځته کولو، پراختیا او بډاینه، په تېره بیا د اسلامي نړۍ د علمي مرکزونو او مؤسسو د تعلیمي نصاب په تدریجي وده کې، خپله دنده سرته رسولې ده.

د اسلامي علومو تاریخ ته کره کتنه، دا څرګندوي چې د دیني مدرسو او علمي مرکزونو نصاب تل د اسلام د تلپاتې او ثابتو احکامو پر بنسټ، د ټولنې له اړتیاوو سره سم، هر وخت او هر ځای پراختیا موندلې ده.

زموږ ګران هیواد افغانستان د علمي ځلانده تاریخ په درلودلو سره د علم او پوهې زانګو او د وخت لوی علمي مرکز و چې د اسلامي ستر تمدن په جوړښت کې یې مهم رول درلود. د علم او فرهنګ په مختلفو ډګرونو، په ځانګړې توګه د عقایدو، تفسیر، حدیث، فقهې او د فقهې د اصولو په څېر په شرعي علومو کې د زرګونو پوهانو او عالمانو شتون، زموږ ددې وینا پخلی کوي.

په اوسني عصر کې د اسلامي ویښتابه له پراختیا سره سم زموږ په هېواد کې اسلامي زده کړو د شومره والي او څرنګوالي له مخې زیات بدلون موندلی او د هېواد کوچنیان او ځوانان په ډېره مینه او لیوالتیا د اسلامي زده کړو مرکزونو او مدرسو ته مخه کوي.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت د خپل مسؤولیت او دندې له مخې د هېواد له اساسي قانون سره سم د اسلامي زده کړو د کیفي او کمي پراختیا او په هغې کې د اسلامي زده کړو د نصاب په اړه د پام وړ ګامونه پورته کړي دي.

په دې لړ کې د پوهنې وزارت، د هېواد د ډاډ وړ تجربه لرونکو عالمانو، استادانو او متخصصانو څخه په بلنه د دیني مدرسو د تعلیمي نصاب، د لا ښه کولو لپاره، مروج کتابونه، د متنونو د شرحې او توضیح او د فعالیتونو، ارزونو او تمرینونو په ورزیاتولو د درسي کتابونو له نویو معیارونو سره سم چمتو کړل.

هیله من یم، د پوهنې وزارت د عالمانو او متخصصانو د ستاینې وړ دا هڅې، په افغانستان کې د اسلامي زده کړو د لا پراختیا او بډاینې او د لوی خدای جل جلاله د رضا د ترلاسه کولو لامل شي.

وبالله توفیق

دکتور محمد میرویس بلخي

د پوهنې وزیر

## مقدمه

**قدرمنو ښوونکو او ګرانو زده کوونکو!**

د ديني مدارسو د اجتماعياتو درسي کتاب د افغاني ټولنې د اړتياوو، د پوهنې وزارت د پاليسي، د نصاب د ليکنې فن او معاصرو معيارونو او درسي مفرداتو د افقي او عمودي تسلسل په پام کې نيولو سره ليکل شوی دي.

د ديني مدارسو د اجتماعياتو په مضمون کې پر تاريخي مطالبو سربېره د جغرافيې او مدني معلوماتو مفاهيم شتون لري. د تاريخ په برخه کې هڅه شوې چې د ديني مدرسو زده کوونکي د زده کړې په وخت د افغانستان او نړۍ له لرغوني تاريخ، منځنيو پيړيو، نوې پيړيو او معاصرو پېښو سره پېژندګلوي او معلومات تر لاسه کړي او هم پدې پوه شي چې انسانانو په ټوله نړۍ په ځانګړې توګه په افغانستان کې کوم تاريخي پړاوونه تير کړي دي او په راتلونکې کې ښايي څرنګه چلن وکړي.

د جغرافيې په برخه کې د علمي اړتياوو په پام کې نيولو سره علمي مطالب داسې توضيح شوي چې زده کوونکي د موقعيتونو، طول البلد، عرض البلد، غرونو، سيندونو، جهيلونو، بحرونو، کرنې، ځارويو، معادنو، ځمکنۍ، بحري او فضايي ترانسپورت، اوبو او هوا، نژاد، ژبو، مذهب، لويو وچو او هېوادونو په اړه معلومات تر لاسه کړي چې د ژوند په سمون کې له هغه څخه ګټه پورته کړي.

د مدني معلوماتو په برخه کې د بشري ټولنو، ارزښتونو، مقرراتو او قوانينو، اعتقاداتو، اقتصاد، سازمانونو، ټولنو، جوړ ښتونو او د مادي او معنوي اړتياوو په اړه لازمي او اړين مطالب توضيح شوي چې زده کوونکي په ورځنيز ژوند کې ورڅخه ګټه پورته کولای شي.

د اجتماعياتو د مضمون د يوې بشپړې دورې (له اووم څخه تر دوولسم ټولګي پورې) له زدکړې وروسته تمه کېږي چې د ديني مدرسو زده کوونکي د ټولنيزو علومو په مبادیو او اساساتو پوه شي، د دې علم له مهمو اصطلاحاتو سره آشنايي تر لاسه کړي. د هيواد او نړۍ د ورځنيو پېښو په خبرونو وپوهيږي، سياسي اقتصادي او ټولنيزې پېښې تجزيه او تحليل کړای شي او پايله ورڅخه واخيستلای شي او په دې توګه په ټولنه کې فعال غړي شي او د ديني او اجتماعي علومو په يو ځای کولو سره د خدای(ج) د دين ريښتيني او اغيزمن مبلغين ورڅخه جوړ شي.

هيله کېږي چې د دغه مضمون محتويات د ديني مدرسو د استادانو لپاره په زړه پورې او زده کوونکو ته يې د ټولنيزو معلوماتو يوه ګټوره منبع وګرځي.

و الله ولي التوفيق

# لړلیک

## د تاریخ برخه

**سرلیک** **مخ**


لومړی څپرکی.......................................... ۱
احمدشاه بابا څرنگه افغانستان بیاورغاوه؟.......................... ۳
د احمدشاه بابا اصلاحات .......................................... ۷
تیمورشاه.......................................... ۱۱
شاه زمان .......................................... ۱۳
د شاه محمود لومړی ځل پادشاهي (۱۸۰۱-۱۸۰۴) زیږدیز .......................... ۱۷
د شاه شجاع لومړی ځل پادشاهي ( ۱۸۰۴ - ۱۸۰۹ ) .......................... ۱۹
واک ته د شاه محمود د دویم ځل د رسېدلو څرنگوالی (۱۸۱۸-۱۸۰۹) .............. ۲۱
د امیر دوست محمد خان لومړی ځل پادشاهی .......................... ۲۳
د شاه شجاع دویم ځل پاچاهي .......................... ۲۷
د امیر دوست محمد خان د دویم ځل واک ته د رسیدو څرنگوالی .......................... ۲۹
د امیر شیرعلي خان لومړنی سلطنت (۱۸۶۶-۱۸۶۳ زیږدیز).......................... ۳۳
د امیر محمد افضل خان سلطنت (۱۸۶۷-۱۸۶۶ زیږدیز) .......................... ۳۵
د امیر محمد اعظم خان سلطنت (۱۸۶۸-۱۸۶۷ زیزدیز) .......................... ۳۷
د امیر شیرعلي خان دویمه پاچاهي (۱۸۷۸-۱۸۶۸ زیږدیز).......................... ۳۹
پر افغانستان باندې د انگلیسانو دویم یرغل (۱۸۷۸ کال نوامبر- ۱۸۸۰ کال) ....... ۴۲
د مرکزي دولت ټینگښت ( ۱۸۸۰ - ۱۹۰۱ زیږدیز) .......................... ۴۷
د تړونونو لاسلیک) .......................... ۵۳
د امیر حبیب الله خان سلطنت ( ۱۹۰۱ - ۱۹۱۹ زیږدیز).......................... ۵۵
د مشروطیت نهضتونه .......................... ۵۸
د امیر امان الله خان پاچاهي او د هیواد په خپلواکی کې د هغه ونډه .......................... ۶۱
د هیواد د خپلواکۍ درې گونې مورچلونه.......................... ۶۵
اصلاحات ۱۹۲۸-۱۹۲۱ زیږدیز.......................... ۶۹
د غازي شاه امان الله خان اروپایي سفر( ۱۹۲۷ ز – ۱۳۰۶ لمریز).......................... ۷۳
د اصلاحاتو پر وړاندې غبرگون.......................... ۷۷
د بحران پای او د قدرت ټینگښت ( (۱۹۲۹ز) (۱۳۰۸ لمریز).......................... ۸۱
د اصولنامې ترتیب او تدوین .......................... ۸۵
د محمد ظاهر شاه سلطنت.......................... ۸۹
لومړنی پنځه کلن پلان ( ۱۹۵۶ زیږدیز) (۱۳۳۵ لمریز).......................... ۹۳
د دېموکراسی لسیزه ( ۱۳۴۲ - ۱۳۵۲ لمریز).......................... ۹۵
د ۱۳۵۲ لمریز کال د چنگابښ د ۲۶ مې کودتاه .......................... ۹۹

## د جغرافيې برخه


**لومړی څپرکی ........................ ۱۰۳**
نقشه ........................ ۱۰۳
اقتصادی او مواصلاتي نقشې ........................ ۱۰۶
مقیاس ........................ ۱۰۸
په نقشه کې درنگ استعمال او لوري معلومول ........................ ۱۱۰
د مصنوعي سپوږ مکیوله انځورو څخه کا اخېستل ........................ ۱۱۳
**دویم څپرکی ........................ ۱۱۶**
طبیعي چاپېریال ........................ ۱۱۶
د ځنګلو ورشوګانې اوځړ ځایونو ساتنه ........................ ۱۲۰
د وحشی ژویو او ملی پارکونو ساتنه ........................ ۱۲۳
د اوبو، خاورې او هوا ساتنه ........................ ۱۲۷
له ککړتیا څخه د کلیو او ښارونو د هوا ساتنه او مخنوی ........................ ۱۲۹
**دریم څپرکی ........................ ۱۳۳**
زلزله ........................ ۱۳۳
د زلزلې خطرونه ........................ ۱۳۵
د زلزلې د اندازې اټکل کول ........................ ۱۳۷
د هېواد زلزله لرونکې سیمې ........................ ۱۳۹
سیلاوونه ........................ ۱۴۱
د سلاو زیان او دهغې مخنوی ........................ ۱۴۳
اورغورځوونکی (اتشفشان) ........................ ۱۴۵
په هیواد کې پخوانی او غورځوونکې سیمې (حوزې) ........................ ۱۴۷


## د مدني زده کړو برخه


لومړی څپرکی ........................ ۱۴۹
قانون څه شی دی؟ ........................ ۱۵۰
د قانون موضوع ........................ ۱۵۲
د قانون ارکان او عناصر ........................ ۱۵۴
د قانون بنسټ (اساس) ........................ ۱۵۶
د قانون موخه ........................ ۱۵۸
د قوانینو وېش ........................ ۱۶۰
اساسي قانون ........................ ۱۶۲
زموږ د ګران هېواد افغانستان اساسي قانون ........................ ۱۶۴
دویم څپرکی ........................ ۱۶۶
فرهنګ (کلتور) څه شی دی؟ ........................ ۱۶۷
سمبولونه ........................ ۱۶۹
ژبه ........................ ۱۷۱
عقاید، قواعد او ارزښتونه ........................ ۱۷۳
د فرهنګ (کلتور) ځانګړتیاوې ........................ ۱۷۵
فرهنګ (کلتور) او ټولنه ........................ ۱۷۷
کوچني فرهنګونه ........................ ۱۷۹
ولې ټولنې فرهنګ ته اړتیا لري؟ ........................ ۱۸۱

# لومړی څپرکی

د افغانستان بیا را ژوندي کول

# د څپرکي موخې

۱- واك ته د احمد شاه بابا له رسيدو څخه وړاندې د اقتصادي، سياسي او ټولنيز حالت سره پېژندګلوي،

۲- د افغانستان له بيارغونې سره پېژندګلوي،

۳- د احمد شاه بابا د شخصيت او د هغه د پوځي سوقياتو په اړه معلومات لاس ته راوړل،

٤- د احمد شاه بابا د ځای ناستو او د هغوی له واکمنيو سره پېژندګلوي،

٥- د انګليسانو د پاليسۍ په اړه معلومات او د هغوی پېژندګلوي،

٦- د خپل مېنځي شخړو په اړه معلومات تر لاسه کول.

۷- د مشروطيت له خوځښت سره پېژندګلوي.

۸- د تاريخي نقشو د رسم کولو مهارت.

۹- په نقشو پوهېدل او د هغو پر مخ د پام وړ ځايونو ښودل،

۱۰- د سياسي او کلتوري وضعيت تحليل،

# احمدشاه بابا څرنگه افغانستان بیا ورغاوه؟



په دغه لوست کې به په لنډه توگه هڅه وکړو چې پوه شو احمدشاه بابا څرنگه واک ته ورسېد او څرنگه وتوانید چې افغانستان بېرته ورغوي.

احمدشاه بابا د ابدالي زمانخان زوی او د سدوزي دولت خان لمسی دی. مور یې زرغونه انا نومېدله چې د الکوزي عبدالغني خان خور وه او الکوزی عبدالغني خان د نادرافشار د حکومت پر مهال د کندهار والي و. احمدخان په ۱۷۲۲ زېږدیز کال په هرات کې وزېږېد.

ابدالي احمدخان د ځوانی پرمهال د نادرافشار په پوځ کې شامل شو. نادرافشار ته ژر د هغه وړتیا او کفایت معلوم شول او نوموړي هغه د افغاني قطعې د قوماندان په توگه وټاکه. کله چې ابدالي احمدخان د مرکزي حکومت د ټینگولو لپاره هڅه وکړه، په افغانستان کې لاندې شرایط واکمن وو:

د پردیو ځواکونو په وسیله د افغانستان وېش (په لوېدیځ کې ایراني صفویان، سهیل او ختیځ کې

هندي بابريان او په شمال کې د ماوراءالنهر شيبانيان ) چې د هغوی د لاس و هنو له امله مرکزي حکومت ړنګ، ټولنيزه وضعه ناأرامه او اقتصاديې له رکود  سره مخامخ کړ.

له نېکه مرغه په ګاونډيو هېوادونو کې سياسي بدلونونه د دې لامل شول چې په افغانستان کې د يو مرکزي حکـومت د جوړېدو لپـاره لاره هواره کـړي.

د نادر افشار لـه وژل کېـدو وروسته د هغه په لوی پوځ کې بې نظمي ښکاره شوه او بايد ووايو چې د نادرافشار د پوځ يوه برخه افغان لښکرو جوړه کړې وه چې په هغو کې نږدې ( ۴۰۰۰ ) غلجي، (۱۲۰۰۰) سدوزي او ازبک وو. د نورمحمدخان غلجي او د يادو شويو قطعاتو د عمومي قوماندان ابدالي احمدخان په وړانديز، نوموړي قطعات د کندهار په لور بوتلل شول. وروسته نورمحمدخان له غلجيو، ابداليانو، ازبکو او هزاره وو څخه د يوې قومي جرګې د جوړيدو غوښتونکی شو چې د جرګې د غړو له منځه يوتن د پادشاه او يا د خپل مشر په توګه وټاکي چې د افغانستان د اداري لپاره حکومت جوړ کړي.

د مزار شير سرخ جرګه د قندهار د نادرآباد په پوځي کلاکې جوړه شوه. له ډېرو خبرو اترو څخه وروسته په نهمه ورځ پرېکړه وشوه چې د جرګې يوغړی دې د حکـم په توګه وټاکل شـي، نوموړی هـماغه صـابرشـاه کابلي د «لايخوار» زوی و چې د کندهار ټولو خلکو هغه ته درناوی کاوه. نوموړی پورته شو او ابدالي احـمدخان يې د مشر يا پادشاه په توګه معرفي کړ او د غنمـو خو وږي يې  د پادشاهی د تاج په توګه د هغه په پټکي کې وټومبل او لويو خانانو د ناچاری له مخې ابدالي احمدخان ته بيعت وکړ.

کله چې احمدشاه بابا پاچا شو، افغانستان د پرديو په وسيله ټوټه ټوټه شوی و  او ان ترديې چې د له منـځه تللو د ګواښ تصور يې کېده. د نادرافشار وژل کېـدل د ايران د سياسي حالـت د کمزوري کېـدو لامل شو.

په شمال کې د بخارا د جنيدي حکومت مخ په ځوړ شو، په هند کې د سېواجي په مشری د «مرهټه» دولت رامنځته شو چې د اورنګ زيب له مړينې وروسته، د هند بابري دولت ددې توان نه درلود چې په افغانستان کې لاس وهنه وکړي. د سيمې بدلونونو په افغانستان کې د حکومت د جوړېدلو لپاره ښه لاره هواره کړه او احمدشاه د سياسي وړتيا، درايت او تجربې له مخې وتوانيد چې د افغانستان په نوم لوی

دولت جوړ کړي. لومړی یې هغه ولایتونه چې د فترت پرمهال له مرکزي حکومت څخه بېل شوي وو، بېرته له مرکزي حکومت سره یو ځای کړل او وتوانېد چې په افغانستان کې یو ملي حکـومـت جـوړ کـړي. د افغانستان د ځمکنی بشپړتیا پر بیرته اعاده کولو سربېره، احمدشاه بابا په سفرونو او پوځي سوقیاتو لاس پورې کړ. لس ځلې یې د لوېدیځ، ختیځ او سویل لوري ته سوقیات وکړل، ډېرې سیمې یې فتحې او لویه امپراتوري یې جوړه کړه.

د افغانستان خلکو احمدشاه بابا ته د ښو خدمتونو او اخلاقو په بدل کې د «بابا» لقب ورکړ او احمدشاه بابا په افغانستان کې یواځینی پادشاه و چې تاج یې پر سر نه اېښود او د پادشاهۍ د تخت پرځای پر ځمکه کښېناسته. له خلکو سره یې نېغې اړیکې لرلې. د پادشاهۍ په وخت کې یې عیاشي او تجمل ونه کړ او د چارو په حل او فصل کې یې انصاف کاوه. هغه خپله کورنۍ او نږدې خپلوان د حکومت په چارو کې له ګډون او مداخلې څخه لرې ساتل.

احمدشاه بابا د خپلې واکمنۍ په وروستیو کې ناروغ او شهزاده تیمور یې په هغه غونډه کې چې لوړپوړي دولتي چارواکي ټول پکښې موجود وو د ولیعهد په توګه وټاکه او په ۱۷۷۳ زېږدیز کال د جون په میاشت کې یې د پنځوس کلو په عمر له نړۍ سترګې پټې او په کندهار کې خاورو ته وسپارل شو.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي، یوه ډله دې احمدشاه بابا معرفي او بله ډله دې واک ته د احمدشاه بابا د رسېدو د څرنګوالي په اړه بحث وکړي.

## پوښتنې

۱. احمدشاه بابا په کومه جرګه کې د افغانستان د مشر په توګه وټاکل شو؟

۲. د نادرافشار له وژل کېدو وروسته عمومي قوماندانانو، افغاني پوځي لښکرې کوم لورې ته سوق کړې؟

۳. کومو بدلونونو په افغانستان کې د یو مرکزي حکومت د جوړېدو لپاره لاره هواره کړه؟

## له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده کوونکي دې له ښوونکو او فرهنګي شخصیتونو څخه د احمدشاه بابا د اخلاقو او ښېګڼو په اړه معلومات راټول او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

# د احمد شاه بابا اصلاحات



په کندهار کې د احمدشاه بابا مزار

په تېر لوست کې مو ولوستل چې احمدشاه بابا څرنګه واک ته ورسېد او څرنګه يې افغانستان بيا ورغاوه. په دغه لوست کې به په لنډه توګه زده کړئ چې احمدشاه بابا واک ته له رسېدلو وروسته په هېواد کې څه اصلاحات رامنځ ته کړل.

افغانستان د هرات د تيموري دولت له زوال څخه وروسته د شپاړسمې زېږدېزې پېړۍ د لومړۍ نيمايي څخه کابو دوه نيمې پېړۍ د دريو بهرنيو ځواکونو( ايراني صفويانو، د ماوراءالنهر شيبانيانو او هندي بابريانو ) تر يرغل لاندې راغی. اقتصادي او ټولنيز نظام له منځه لاړ، هېواد ټوټه ټوټه شو او ان د له منځه تلو تصور يې کېده. له دغو ځواکونو هريو هڅه کوله ډېرې سيمې ونيسي. د دغو هڅو پر وړاندې له هماغه پيله خلکو د تېري او استبداد پر وړاندې آزادي غوښتونکې مبارزې کولې.

په ۱۷۰۹ زېږدېز کال هوتکيانو د حاجي ميرويس نيکه په مشرۍ ديرش کاله په کندهار کې يو قوي

حکومت جوړ کړ. د هغوی له زوال وروسته بېرته افغانستان د پردیو تر یرغلونو لاندې راغی. د افغانستان خلکو ډېر کلونه د بهرنیو لښکرو او دکورنیو ملوك الطوایفو تر فشار لاندې تېر کړل. د ډېرو مالیاتو ورکول، د پوځي لښکرو لګښتونه او د مصؤنیت او امنیت نشتوالي خلك تر ستوني ونیول، خو د خپلواکی د لاسته راوړلو لپاره د بهرنی واکمنی پر وړاندې د هغوی مبارزې جاري وې.

تر هغه چې په ۱۷۴۷ زیږدیز کال کې احمدشاه بابا په کندهار کې یو ځواکمن حکومت جوړ کړ. احمدشاه بابا پوهېده چې لوی مالکان او د قبیلو رئیسان به د خپلو ګټو د لاسه ورکولو له امله دولت ته ستونزې جوړې کړي. نوموړي ددغې ستونزې د حل لپاره هغوی په دولتي چارو، جرګو او شوراګانو کې ورګډ کړل او د هغوی نظرونوته یې درناوی کاوه. احمدشاه بابا د دولت له جوړېدو وروسته لاندې ټکي د یو ځواکمن حکومت د جوړښت لپاره د مهمو موخو په توګه په پام کې ونیول.

- په افغانستان کې د ملي وحدت رامنځته کول او د مرکزي دولت بیا جوړول،
- له آمو سیند څخه تر سند پورې د افغانستان د طبیعي سرحدونو ټاکل او ټینګول.

د ګاونډیو هېوادونو د یرغلونو پرورړاندې یې دفاعي لښکرې جوړې کړې. احمدشاه بابا د کورنیو اختلافونو د له منځه وړلو او دولتي چارو د سرته رسولو په موخه د لومړي ځل لپاره یوه دایمي غونډه جوړه کړه چې د ( مزار شیرسرخ ) د جرګې یو شمېر غړو هم چې مخکې یې یادونه شوې وه، په دغه جرګه کې ګډون وکړ.

د دولتي چارو د ښه اداره کولو لپاره یې لومړی اداري او پوځي تشکیلات رامنځته کړل. دغه تشکیلات د میرویس نیکه له تشکیلاتو څخه اخیستل شوي وو، احمدشاه بابا غوښتل چې د هغه نا تمام کارونه بشپړ کړي. نوموړی په اداري قضایي او پوځي تشکیلاتو کې د نظر خاوند او د غوښ دریځ لرونکی و.

د ټول هېواد د چارو اداره دده په لاس کې وه او وتوانېد چې په مرکز او ولایاتو کې اداري، قضایي او پوځي تشکیلات جوړ کړي.

کله چې احمدشاه بابا پاچا شو، هیواد په دولتي ادارو او د پوځ د لګښتونو په کار کې مالي ستونزې

درلودې، ځکه تامیناتي مدرک نه و، ترڅو وکولای شي دولتي لګښتونه له هغې لارې پوره شي، خو کوم ښه چانس چې هغه ته برابر شو، د ختيځ افغانستان په ملتان او پنجاب کې د څوکلونو د مالیاتو کاروان و چې (د یو میلیون او درې سوه زره طلا نغد او جنس) د بولان له لارې د نادرافشار دربارته روان و، نيغ په نيغ کندهار ته راغی او د احمدشاه بابا دربارته راوړل شو. دغو پیسو له مالي پلوه د احمدشاه بابا دولت تقويه کړ.

احمدشاه بابا د دربار لګښتونه لږ کړل او د دولت د مامورينو او د اردو د افسرانو معاشونه يې په خپل وخت ورکول. مالي دفترونه او د دولتي معاش، دخل او خرڅ ترتيب او تنظيم شول. په لومړي سرکې احمدشاه بابا په پلازمېنه کې يوشمېر اداري جوړې کړې، لکه: وزارت (صدارت)، ديوان (د ماليې وزارت ) خزانه داري، دفتـرضـبط بيګي ( امنيت او کوتوالي )، نستـوچي باشي ګري (د مجازاتو پلي کوونکی)، د اروغه ګي (د ښار د امنيت او ساتنې دفتر)، هر کاره باشي (ضبط احوالات يا دولتي امنيت)، باجګير (د ټکس او دګمرك د راټولولو مسؤل) ميرآخورباشي (د څارويو لېږد رالېږد)، ميرآب (د اوبو لګولو مسؤل)، مامورثالثات (د دولت عوايد درې برخې کېدل، يوه برخه يې خزانې ته ورکول کېدل او دوې برخې يې د اداري او پوځي چارو د لګښتونو لپاره ورکول)، خالصه جات (د دولتي ځمکو مسؤل)، حاکم، پيشکار (معاون) د لښکر امير، مستوفي، قاضي، قلعه دار او کلانتري، لښکرنويس (د نظام دفتر)، اردو باشي، جارچي باشي، سيورسات (د څارويو د خوراکي توکو تيارول)، وقورخانه (وسله جوړول)، په پلازمېنه او ولايتونو کې شرعي محکمې او د قضائيه قوې ځای درلود. د لويو قبيلو د رئيسانو، افسرانو او لوړ رتبه مامورينو شورا کله کله په پلازمېنه کې جوړېدله، په مهمو پوځي او سياسي چاروکې به يې خبرې کولې او پادشاه ته به يې خپل نظر ورکاوه.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي، یوه ډله دې د احمدشاه بابا د بنسټیزو موخو په اړه او بله ډله دې د احمدشاه بابا د پادشاهۍ د لومړنۍ غونډې د جوړښت په اړه په خپلو کې خبرې اترې وکړي او د هرې ډلې استازی دې نورو زده کوونکو ته د خپلې ډلې د خبرو لنډیز ووایي.

## پوښتنې

۱. په کندهار کې د هوتکیانو حکومت څو کاله پایښت ومونده؟

۲. د هغو دریو بهرنیو ځواکونو چې د ۱۶ مې زیږدیزې پیړۍ په لومړیو کې پر افغانستان یرغل وکړ نومونه واخلئ؟

۳. احمدشاه بابا د پوځ او د دولتي ادارو د لګښتونو لپاره له کومو پیسو ګټه واخیسته ؟

## له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده کوونکي دې له فرهنګي شخصیتونو او ښوونکو څخه د احمدشاه بابا د اصلاحاتو په اړه معلومات راټول او په ټولګي کې دې نورو ټولګیوالو ته بیان کړي.

# تیمورشاه



له احمدشـاه بابا څخه وروسـته د افغانستان پراخې سیمې، دولت او د افغانستان غـبـښتلی حکـومت گـډوډ او له ړو دوړ، بهرنیو یرغلونو او د خلکو له ناخوښـی سـره لاس اوگریوان شـو چې په دغه لوسـت کې به په لنډیز سره ولولو چې له احمدشاه بابا څخه وروسته، تیمورشاه ځرنگه واک ته ورسېد او د هغه پر وړاندې د خلکو غبرگون څه و؟

احمدشاه بابا اته زامن درلودل. شهزاده تیمور د هغه دویم زوی په ۱۷٤۲ زکال په مشهد کې وزېږېد. نوموړي تعلیم کړی و او د پښتو او دري ژبو شاعر هم و، د پلار په وړاندې تر نورو وروڼو ډېر گران او د پلار د مړینې پر مهال د هرات والي و. احمدشاه بابا په خپل ژوند کې، نوموړی خپل ځایناستی وټاکه.

د احمدشاه بابا له مړینې څخه وروسته شهزاده سلیمان د شـهزاده تیمور له نه شتون څخه گټه پـورته کـړه، د لومړي وزیر شاولي خان په ملاتړ یې چې د هغه خسر هم و، په کندهار کې پادشاهي اعلان کړه. کله چې شهزاده تیمور د هغه د پادشاهۍ له اعلان څخه خبر شو، د هرات له خلکو، هزاره وو او ایماقو څخه یې لښکر جوړ کړ او کندهار ته یې مخه وکړه. کندهار ته په رسېدلو سره تیمور خپل مشر وررور سلیمان له پادشاهۍ عزل او شاولیخان یې هم د لارې په اوږدوکې اعدام کـړ. درباریانو، پخوانیو دولتي چارواکو او د کندهار خلکو له هغه سره بیعت وکړ او هغه یې د افغانستان د پادشاه په توگه وټاکه.

د دربار او ابدالي قبیلې د لـوی شخصیت شاه ولیخان اعدام، د شیرمحمدخان ( مخـــتارالدولة او سـردار جهان خان سپهسالار لرې کېدل د اور لومړنې بخرې وو چې د خانانو او د قبیلو د لویانو په درمند کې اوربل کړ. د یادونې وړ ده چې احمدشاه بابا د خپل کفایت او ځیرکی له مخې د دولت او قبیلو د مشرانو ترمنځ تعادل ساتلی و، خو د تیمورشاه په پادشاهۍ کې د دولت او قومي مشرانو ترمنځ درز پیدا شو او تیمورشاه پر هغوی خپل اعتماد له لاسه ورکړ. له دې امله هغه اړشو چې د خپلې پادشاهۍ په لومړي کال د هیواد پلازمېنه له کندهار څخه کابل ته یوسي. د تیمورشاه دغه تند چلن ددې سبب شو چې یوشمېر خانان او د قبیلو مشران د هغه پرضد ائتلاف جوړ کړي. د سدوزیو او غلجیو قبیلو هوډ

درلود چې تیمورشاه له واک څخه لرې او د سدوزیو له مشرانو څخه یوتن چې عبدالخالق خان نومېد، د تیمورشاه پرځای واک ته ورسوي. دوی په ۱۷۷۴ ز کال لــه ۲۵ زرو عسکرو سره دکابل په لور روان شول، خــو د تیمورشاه لس زره کسیز ځواک له ځواکمنې توپخانې سره د ششګاو په سیمه کې د هغوی لاره ونیوله او د سدوزیو ځواک یې له ماتې سره مخ کړ. د وردګو د ششګاو له جګړې وروسته تیمورشاه د څو نورو کورنیو پاځونونو او شورشونو سره مخ شو، خو د ځواک په زورېې هغوی مات کړل.

تیمورشاه په داسې وخت کې ژوند کاوه چې په اروپا کې یوه لویه تاریخي پېښه رامنځته او اروپایي هېوادونه یې ویجاړکړل، هغه د فرانسې لوی انقلاب (۱۷۸۹ ز) و، چې پر سیمه او نړۍ یې اغېزې وکړې، چې د نړۍ په تاریخ کې د لوی نوښت او د عطف ټکی پېژندل شوی دی.

تیمورشاه له پرتمین او ښکلي دربار سره مینه درلوده. نوموړي ۳۳ زامن درلودل. د ډېرو ښځو او زامنو لرل او همدا راز د ولیعهد نه ټاکل د نوموړي لویه تېروتنه وه، ځکه د هغه ځینې زامن دده له مړینې څخه وروسته د بهرنیانو په هڅونو سره په افغانستان کې د ګډوډیو سبب شول. د هېواد په دننه او بهر کې له ډېرو ستونزو سره سره تیمورشاه وتوانېده چې له پلار څخه په میراث پاتې امپراتورۍ سرحدونه وساتي.

تیمورشاه په ۱۷۹۳ ز کال په پېښور کې ناروغ او وروسته کابل ته راوړل شو او هلته وفات شو. د هغه جسد یې د کابل په چــهار باغ کې خاورو ته وسپاره او د قبر ودانــۍ یې د هغه د زوی (زمــانشاه) د پادشاهۍ پرمهال جوړه شوه. د تیمورشاه تر مړینې وروسته شاه زمان چې د عمر له پلوه د هغه پنځم زوی و او د ورتیا، کفایت او مدیریت له پلوه ډېره غښتلی او توانمن و، پادشاه شو.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې واک ته د تیمورشاه د رسېدو په څرنګوالي او دویمه ډله دې د تیمورشاه د کورنیو ستونزو په اړه په خپلو کې خبرې وکړي او پایله دې په ټولګي کې بیان کړي.

## پوښتنې

۱. تیمورشاه په کوم کال پلازمېنه له کندهار څخه کابل ته یووړه؟

۲. د تیمورشاه په وړاندې د پاځونونو او سرکښیو لاملونه په لنډه توګه وړاندې کړئ؟

۳. د تیمورشاه د پادشاهۍ په مهال په اروپا کې کومه لویه تاریخي پېښه رامنځته شوه؟

## له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده کوونکي کولای شي د منابعو او ماخذونو په مرسته د تیمورشاه د پادشاهۍ په اړه معلومات ترلاسه او سبا ته دې په ټولګي کې وړاندې کړي.

# شاه زمان



په دغه لوست کې به په لنډه توګه د شاه زمان د شخصیت او واک ته د هغه د رسېدلو په څرنګوالي او د بې اتفاقیو او کورنیو جګړو په اړه معلومات ترلاسه کړي.

د تیمورشاه د زامنو ترمنځ د اختلافونو یو لامل هم د هغه له خوا د ځایناستي نه ټاکنه وه. شاه زمان چې د نورو ورونو پر پرتله پلار ته نږدې او د اعتماد وړ و، ښه پوه هوډمن او د کلکې ارادې خاوند ؤ. له پلار سره یې د هېواد په چارو کې مرسته کوله، پردې اساس یې ځان د پلار ځایناستی باله. د تیمورشاه له مړینې وروسته شهزاده زمان له ټولو شهزادګانو او قومي مشرانو وغوښتل ترڅو د نوي پادشاه د ټاکلو لپاره په غونډه کې ګډون وکړي. په پای کې د جرګې له پرېکړې وروسته، شاه زمان د افغانستان د پادشاه په توګه وټاکل شو او شاه زمان ددې لپاره چې پر اوضاع واکمن شي د جرګې غړي یې په بالاحصار کې د لنډې مودې لپاره بندي کړل. د هغه دوو ورونو (شهزاده محمود او شهزاده همایون ) په جرګه کې ګډون نه وو کړی او د هغه پادشاهي یې ونه منله. په جلا جلا جګړو کې شهزاده محمود او شهزاده همایون ماتې وخوړې. محمود ایران ته وتښتېد او همایون یې ونیو او ړوند یې کړ.

زمانشاه سردار پاینده محمدخان د وزارت له مقام څخه لرې کړ چې دغه کار د هغه ناخوښۍ سبب شو

ترخو له مخالفو سردارانو سره يوځای او زمان شاه لـه پادشاهۍ وغورځوي. کـله چـې زمان شاه د سردار پاینده محمدخان له هوډه خبر شو، هغه يې ونيو او مړ يې کړ. شاه زمان هيله درلوده چې د افغانستان حالت ښه او سوله ټينګه شي، هغه د هېواد دننه د ورونړو او قومي سردارانو له کرکې او مخالفت سره او په بهر کې د انګليس او ايران له هڅونو سره مخ شو.

کله چې شاه زمان د هيواد دننه له کورنيو جګړو سره لاس او ګريوان شو، بهرنيانو او استعمارګرانو له دغه حالت څخه ګټه پورته کړه، لکه څنګه چې د شمال له لوري د بخارا د پاچاهانو، د سهـيل له لـوري د سند ميرانو، د لوېديځ له لوري د ايران پادشاه آقا محمد قاجار او د ختيځ له لوري سکانو د افغانستان سرحدي سيمې ترګواښ لاندې راوستې. په دې توګه په ۱۷۹۳ زکال شاه زمان پنجاب ته مخه کړه او کله چې پېښور ته ورسېد، ورور يې شهزاده همايون د سند د ميرانو په مرسته د بولان له لارې تېرشو او کندهار يې ونيو په دې توګه شاه زمان د پنجاب سفر نيمګړی پرېښود او د لـنډ مهال لپاره يې له هـغه څخه مخ واړاوه او په بيړه کندهار ته وګرځېد.

همايون يې ونيو او ړوند يې کړ. وروسته يې د علي تالپوري د ټکولو لپاره د بولان درې له لارې پر سند يرغل وکړ او د سند ميرانو له خوا د ۳۰۰۰۰۰ سروزرو د سکو په ورکولو سوله وشوه. لا ډېر وخت نه و تېر شوی چې بل ورور يې شهزاده محمود له هرات څخه د شاه زمان پرضد لښکر راوويست او شاه زمان په بيړه د هغه مخه ونيوله او له سختې جګړې وروسته شهزاده محمود ماته وخوړه، خو د محمود د مور په شفاعت يې هغه بېرته د هرات والي وټاکه. د بلخ ښار چې د بخارا د ازبکو پادشاهانو لخوا نيول شوی و، له سختې جګړې وروسته د شاه زمان تر ولکې لاندې راغی. په ۱۷۹۷ زکال شهزاده محمود بيا شورش وکړ او شاه زمان د هغه د ټکولو لپاره کندهار ته راغــی، شهـزاده محمود دې ته اړ شو چې ايران ته وتښتي او شاه زمان خپل زوی (قيصر) د هرات والي وټاکه.

شاه زمان پر اوضاع باندې له واکمن کېدو وروسته په دولتي تشکيلاتو کې اصلاحات راوستل او د وخت په وسـله سمبال ۱۳۰ زره کسيز پـوځ يې جـوړ کـړ، ترڅـو پرهنـد يرغـل وکـړي او د احــمدشــاه بابا د امپراتورۍ له لاسه وتلې سيمې بېرته ونيسي. د هغو ترڅنګ د هندوستان خلکو

له شاه زمان څخه هیله درلوده چې انګلیسي استعمارګران له هـند څخه وشړي. په دغه مهال ناپلیون بناپارت مـصر ته ورسېـد او شاه زمان ته یې لیک راواستاوه چې د انګلیس د یرغلګرو پوځونو مخنیوی وکړي او هم یې له زمانشاه څخه وغوښتل چې له فرانسې سره د دوستي لاره غوره کړي. څرنګه چـې زمانشاه ۱۵۰ زره کـسیز پـوځ درلود، نو د ناپلـیون خبره یې بابېزه وګڼله او شاه زمان خپله د هند د خلاصون هڅه وکړه.

په ۱۷۹۸ زکال یې په لاهورکې له رنجیت سنګ سره خبرې وکړې او رنجیت سنګ له شاه زمان سره پریکړې ته ورسېد او د شاه زمان د اداري د ټینګښت لپاره یې خپل تیاری څرګند کړ. په دغه مهال شهزاده محمود د ایران د قاجاري قوا او د افغان تښتېدلو سردارانو په مرسته چې د قاجار په دربارکې اوسېدل، له جګړې پرته خراسان او هرات ونیول. بیایې پر سیستان او فراه یرغل وکړ او ترکندهاره راورسېدل. د شاه زمان پوځ دکندهار د دفاع لپاره پرهغه لوري حرکت وکړ. د لارې په اوږدوکې جنرال احمدشاه نورزی د شاه زمان د پوځ سرلښکر له خپلو لس زرو سرتېرو سره له جګړې پرته د شهزاده محمود له پوځونو سره یوځای شو او د محمود لښکرې غزني ته ورسېدې. شاه زمان ددغه حالت په لېدلو د پېښور په لور شاتګ وکړ او د شینوارو په سیمه کې د ملا عاشق الله شینواري په وسیله ونیول شو او بیا د خپل ورور شهزاده محمود په وسیله ړوند کړای شو.

شهزاده محمود په ۱۸۰۱ زکال د افغانستان پاچا شو. د یادولو وړده چې شاه زمان له ړندېدلو وروسته د کوه نور الماس د ملا عاشق الله په کلي کـې پټ کـړی و چـې وروسته د شهـزاده محمود لاسته ورغلل. د انګلـیس د استعماري سیاست، د ایران د دولت د لاس وهنو او هم د ځینو سیاسي مشرانو د مخالفت په پایله کې افغانستان یوځل بیا په سیاسي، ټولنیزه او اقتصادي ځوړتیاکې راغی.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي. یوه ډله دې د شاه زمان د واکمنۍ په مهال دکورنیو او بهرنیو ستونزو په اړه او بله ډله دې واک ته د شاه زمان د رسېدلو پر څرنګوالي خبرې وکړي او وروسته دې د خبرو پایلې په ټولګي کې وړاندې کړي.

## پوښتنې

۱. شاه زمان معرفي کړئ؟

۲. شاه زمان چیرته او د چا په وسیله ونیول شو او د شاه محمود دربار ته وسپارل شو؟

۳. شاه زمان ته د ناپلیون د وړاندیز په هکله معلومات ورکړئ؟

## له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده کوونکي دې د منابعو او ماخذونو په مرسته د شاه زمان پر وړاندې دانګلیس د دریځ په اړه معلومات ترلاسه او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

# د شاه محمود لومړی ځل پادشاهي ( ۱۸۰۱ - ۱۸۰۴ زیږدیز )



په دغه لوست کې به پوه شو چې شهزاده محمود له شاه زمان څخه وروسته څرنګه واک ته ورسېد او څه يې وکړل.

شهزاده محمود د شاه زمان له ړندولو وروسته د وزيرفتح خان په مرسته واک ته ورسېد.

شاه محمود د وزير فتح خان د خدمتونو په بدل کې هغه ته د ( شاه دوست ) لقب ورکړ. د شاه محمود د بې کفايتۍ په وجه د هېواد په اداره کې کړکېچ رامنځته شو او د قاجاري ايران دولت د انګليس دلاس وسيله شو او د خراسان د ولايت د تجزيې په فکر کې شو. د پنجاب په ولايت کې چې پخوا د افغانستان تر واک لاندې و، سکانو خپله خپلواکي اعلان کړه.کله چې د شاه محمود ورور شهزاده شجاع الملك د شاه زمان له ړندولو او بندي کېدلو او د شاه محمود له پاچا کېدلو خبر شو، د شاه زمان د غچ اخيستلو په بهانه يې د افغانستان د تاج او تخت د نيولو هڅه وکړه. که څه هم چې انګريزانو په لومړي سرکې د شاه زمان د نسکورولو لپاره د شاه محمود ملاتړ کاوه، خو وروسته يې د خپلو استعماري موخو د پرمخ بيولو لپاره او د ناپليون د احتمالي يرغل د له منځه وړلو لپاره د شاه محمود په موافقه، د هندوستان د اشغال لپاره شجاع الملك ( شاه شجاع ) مناسب وليد او هغه يې پرضد وهڅاوه.

په داسي یو حالت کې شاه محمود د بالاحصار په ماڼۍ کې په عیش او عشرت بوخت و او دولتي چارې د داسې کسانو په لاس کــې وې چې د واك د لاس ته راوړلو لپاره یې سیالي کــوله، لکه وزیرفتــح خان ( شاه دوست )، شیرمحمدخان ( مختارالدولة ) او محمد اکرم خان لومړی وزیر په دغسي وضعیت کې وزیر فتح خان د مالیاتو د ټولولو لپاره پېښور، بنو او کوهاټ ته سفر وکړ. د نوموړو سیمو د مالیاتو له ټولولو وروسته په کندهار کې شهزاده کامران ته ورغی. کله چې کابل ته ستون شو، د محمد اکرم خان پرځای د لومړي وزیر په توګه وټاکل شو. په همدغه حال کې یو شمېر لوړپوري دولتي چارواکي له کابل څخه وتښتېدل او له شاه شجاع سره یوځای شول.

د کابل خلك چې د شاه محمود له کمزوري حکومت څخه ترستوني راغلي وو، د نوموړي پرضد یې پاڅون وکړ او هغه یې په بالاحصار کې کلابند کړ. د شاه محمود پوځونو د خلکو پرضد مقاومت وکړ تر هغو چې د کوهدامن او کوهستان خلکو د کابل د خلکو خلاصون ته ورودانګل. شاه محمود یې بندي کړ او وزیرفتح خان ته یې په قلعه قاضي کې ماته ورکړه او په دې توګه د شاه محمود لومړی ځل پادشاهي پای ته ورسېده.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي، یوه ډله دې واك ته د شاه محمود د رسېدلو په هکله او بله ډله دې د شاه محمود د حکومت پرورړاندې د ایران د کړنلارې په اړه په خپلو کې مباحثه وکړي او وروسته دې پایلې په ټولګي کې بیان کړي.

## پوښتنې

۱. د شاه محمود د حکومت مهم کارونه په ګوته کړئ؟

۲. د شاه محمود د حکومت په وروستیو کې کومو خلکو د کابل له خلکو سره مرسته وکړه؟

۳. شاه محمود د وزیرفتح خان د خدمت په بدل کې هغه ته څه لقب ورکړ؟

## له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده کوونکي دې د منابعو او ماخذونو په مرسته د شاه محمود د حکومت پرورړاندې د انګلیس د دریځ په اړه معلومات راټول او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

# د شاه شجاع لومړی ځل پادشاهي ( ۱۸۰۴ - ۱۸۰۹ )



شجاع الملک چې په شاه شجاع مشهور و، له شاه محمود څخه وروسته په کابل کې واک ته ورسېد. په دغه لوست کې به په دې اړه لنډ معلومات زده کړو.

د شاه زمان ړندېدلو، د شاه محمود اداري کمزوري او له هغه څخه د خلکو کرکې د شاه شجاع د پادشاهۍ لپاره لاره اواره کړه. په ۱۸۰٤ زېږدیز کې شاه شجاع د کابل د خلکو په غوښتنه د زرمت او لوګر له لارې کابل ته راغی او د بابر په بڼ کې هستوګن شو او د خپلې پادشاهۍ له لومړیو څخه يې له انګرېزانو سره خپله دوستي په ډاګه کړه. وزیر فتح خان د شاه شجاع له خوا د کابل د نیولو پرمهال د مالیاتو د راټولولو لپاره بامیانو ته تللی و. کله چې کابل ته ستون شو، له کلابندۍ څخه د شاه محمود د خلاصون او د هغه د حکومت د زوال د مخنیوي هڅه يې وکړه او دکابل په قلعه قاضي کې د وزیرفتح خان او شاه شجاع د عسکرو ترمنځ جګړه ونښته، په پایله کې وزیرفتح خان ماته وخوړه او په کندهار کې يې شهزاده کامران ته پناه يوړه. وروسته شاه شجاع خپلې لښکرې بالاحصار ته ننویستې او پادشاهي يې اعلان کړه.

د شاه شجاع پلویانو د هغه له پادشاه کېدلو وروسته ملاعاشق الله شینواری ونیو او کابل ته یې راوست، لومړی یې د کوه نور الماس ورڅخه واخیست او وروسته یې وواژه. شاه شجاع د خپل حکومت په موده کې له وزیرفتح خان او د هغه له ورونو وېره درلوده ځکه خو یې هڅه کوله چې له وزیرفتح خان سره خپلې اړیکې ښې کړي او دښمنی پرېږدي هغه وزیرفتح خان په عزت کابل ته راوغوښت او د وزیرفتح خان د وراره سردار دوست محمدخان له لور سره یې نکاح وکړه، خو له هغو سره سره یې هم یو پر بل اعتماد نه کاوه، ځکه د دوی د دښمنۍ اصلي لامل د شاه زمان په وسیله د وزیرفتح خان د پلار سردار پاینده محمدخان وژل کېدل و. وزیرفتح خان هڅه کوله ترڅو دویم ځل شاه محمود واک ته ورسوي. دغه مهال شاه محمود د کابل د بالاحصار له زندان څخه وتښتېد او په هغه جګړه کې چې د شاه شجاع او شاه محمود د لښکرو ترمنځ وشوه، شاه شجاع ماته وخوړه، او شاه محمود دویم ځل پادشاه شو.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې واک ته د شاه شجاع د رسېدلو د څرنګوالي په اړه او دویمه ډله دې د شاه شجاع د پادشاهۍ د زوال په څرنګوالي خبرې وکړي او پایلې دې په ټولګي کې وړاندې کړي.

## پوښتنې

١. شاه شجاع د خپلې پادشاهۍ په موده کې کوم کارونه وکړل؟
٢. شاه شجاع د څه لپاره غوښتل له وزیرفتح خان سره خپلې اړیکې ښې کړي؟
٣. کله چې شاه شجاع، شاه محمود بندي کړ، وزیرفتح خان ولې له کابل څخه وتلی و؟

## له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده کوونکي دې د شاه شجاع په وسیله د شاه محمود د لومړي ځل پادشاهۍ د له منځه وړلو د لاملونو په اړه معلومات راټول او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

# واک ته د شاه محمود د دویم ځل د رسېدلو څرنګوالی (۱۸۰۹ - ۱۸۱۸)

په دغه لوست کې به واک ته د شاه محمود د رسېدلو په اړه لنډ معلومات زده کړو.

شاه محمود د وزیرفتح خان په مرسته د دویم ځل لپاره واک ته ورسېد. د شاه محمود د دویم ځل د پادشاهۍ په موده کې د افغانستان په اداري او سیاسي ډګر کې پېښې رامنځته شوې، د بېلګې په توګه: شاه شجاع له خپلو نږدې ملګرو سره له هغې ماتې څخه وروسته چې د شاه محمود په وسیله يې خوړلې وه، بهر ته پناه یوړه او هغه دولتي چارواکي، لکه: محمد اکرم خان (امین الملک)، شیرمحمدخان د مختارالدوله او میرعلم خان او داسې نور د شاه محمود په وسیله ووژل شول، ځکه دوی د شاه محمود په لومړي ځل پادشاهۍ کې له شاه شجاع سره یو شوي وو.

وزیرفتح خان د واک د لاټینګولو لپاره، خپل وروڼه په مهمو دولتي دندو وګومارل خو د وزیرفتح خان د واک زیاتېدل د محمود د زوی شهزاده کامران د اندېښنو سبب شو ځکه نوموړي د وزیرفتح خان او د هغه د وروڼو نفوذ په ټول افغانستان کې نه شو زغملای. په دغسې حال کې شاه محمود د کابل په بالاحصار کې په مزو او چرچو بوخت و او له دولتي چارو هیڅ خبر نه و او د دولت د واک سیمې یوازې کابل او کندهار وې.

دغه مهال پېښور د شاه شجاع تر واک لاندې و او کشمیر د عطا محمد خان له خوا اداره کېده چې له مرکزي دولت څخه يې اطاعت نه کاوه. په هرات کې د شاه محمود سکني ورور فیروز الدین حکومت کاوه او شاه محمود د خپلې دویم ځل پادشاهۍ له پیله تر ډېره په پلازمېنه کې اوسېده. کله چې افغاني پوځونه د افغانستان په ختیځ کې پر جګړو بوخت وو، ایرانیانو د هرات غوریان ونیو. فیروزالدین له مرکزه مرسته وغوښته ترڅو د ایرانیانو د پرمختګ مخه ونیسي، وزیر فتح خان له دېرش زرو عسکرو سره له کابل څخه د هرات پر لور حرکت وکړ.

وزیرفتح خان لومړی شهزاده فیروزالدین له فامیل سره یوځای کندهار ته ولېږه. د شهزاده فیروزالدین پانګه او (ګاڼې) د وزیرفتح خان د ورور سردار دوست محمدخان د وګړو لخوا غلا شول. په دویم ګام کې وزیرفتح خان له ایرانیانو سره جګړه وکړه چې په پایله کې ایراني پوځونو ماته وخوړه او پرشاه وتمبول شول. کله چې شاه محمود د فیروز الدین د کورنۍ له سپکولو خبر شو شهزاده کامران يې د سرداردوست محمدخان د ټکولو لپاره هرات ته ولېږه، خو سردار دوست محمدخان لامخکې له هرات څخه تښتېدلی و او کامران وزیرفتح خان ونیو او ړوند يې کړ، ځکه نوموړی د وزیرفتح خان او د هغه د وروڼو له ځواک او نفوذ څخه وېره درلوده.

د وزیرفتح خان ورونه د خپل ورور له ړندېدلو خبر شول او په ټول افغانستان کې یې له کشمیره نیولې تر هرات پورې شورش وکړ. سردار دوست محمدخان له کشمیر څخه راوګرځېد، کابل یې ونیو. وزیرفتح خان له شاه محمود سره بندي و او شاه محمود له وزیرفتح خان څخه وغوښتل ترڅو خپل ورونه پوه کړي چې له شورش او سرغړونې څخه لاس واخلي خو د وزیر فتح خان وروڼو جګړه بنه وګڼله.

شاه محمود د سردار دوست محمد خان د پوځونو پروړاندې مقاومت ونه کړای شو او له کابل څخه د غزني په لور لاړ او په همدغه مهال شهزاده کامران له ۱۲۰۰۰ عسکرو سره د خپل پلار مرستې ته غزني ته ورسېد. د کشمیر والي سردار محمدعظیم خان هم د سردارد دوست محمدخان مرستې ته کابل ته لاړ.

د کابل او غزني ترمنځ د سردار دوست محمدخان او شاه محمود د عسکرو ترمنځ سخته جګړه ترسره شوه، په پای کې شاه محمود او کامران ماته وخوره. د تېښتې پر مهال، شاه محمود د وردګو د سیدآباد په سیمه کې ړوند وزیرفتح خان ونیو او مړیې کړ، شاه محمود او کامران په هرات کې حاجي فیروزالدین خان ته ورغلل. د شاه محمود او فیروزالدین له مړینې وروسته کامران له ۱۸۲۹تر ۱۸۴۲ پورې په هرات کې حکومت وکړ.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو ووېشل شي، لومړۍ ډله دې د وزیر فتح خان د وژل کېدلو په لاملونو او دویمه ډله دې د هغو اداري او سیاسي بدلونونو په اړه په خپلو کې مشوره وکړي چې د شاه محمود د دویم ځل پاچاهۍ لپاره یې لاره هواره کړې وه، وروسته دې پایلې په ټولګي کې وړاندې کړي.

## پوښتنې

۱. د وزیرفتح خان د مړینې څرنګوالی بیان کړئ؟
۲. د وزیر فتح خان وروڼو ولې په ټول افغانستان کې په شورشونو لاس پورې کړ؟
۳. د سدوزیو او بارکزیو ترمنځ د اختلافونو اصلي لاملونه په لنډه توګه بیان کړئ؟

## له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده کوونکي دې د سدوزیو د حکومت د نسکورېدلو او په افغانستان کې د هغو د ناوړو پایلو په اړه معلومات راټول او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

# د امیردوست محمدخان لومړی ځل پادشاهی



په دغه لـوست کـې به له سـدوزیو څخه دبارکـــزیو کـورنی ته د واک د لیـــږد او واک ته د امیردوست محمدخان د رسېدلو او په افغانستان باندې د انګریزانو د لومړي یرغل د څرنګوالي په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

د سدوزيو حکومت واک ته د احمدشاه بابا په رسیدلو ( ۱۷٤۷ ز کال ) پیل او د ایوب شاه سدوزي د حکومت په پای ته رسېدلـو، پای ته ورسېـد چې د هغـو په نسکـورېدلو کـې ځینو کورنیو او بهـرنیو لاملونو رول درلود چې په اجمالي توګه یې یادونه کېږي.

د افغانستان په کورنیو چارو کې د انګلیس او ایران مستقیم یرغلونه او سیاسي توطئې، د تیمورشاه د زامنو او لمسیانو زیاتوالی چې له شاه زمان څخه وروسته پر سیالانو د بري لپاره یې ځانونه د ایرانیانو او انګریزانو غېږو ته غورځول، همدارنګه د بارکــزیو د سردارانو وژل کېدل، لکه: سـردار پاینده محمدخان او سردار وزیرفتح خان، د سدوزیو د زوال لامل او بارکزیو ته د واک د لیږد لامل ګڼل کیږي.

مخکې له دې چې سردار دوست محمدخان پاچاهۍ ته ورسېږي، له سکانو څخه د افغانستان د اړوندو سيمو د بېرته نيولو لپاره د عامو خلکو تر فشار لاندې و او له دې پرته بله لاره يې ونه ليده چې د ديني عالمانو او قومي مشرانو څخه د جهاد فتوی واخلي. په دې توګه ديني عالمانو سردار دوست محمدخان ته سلا مشوره ورکړه چې ځان اميرالمؤمنين اعلان کړي ترڅو د جهاد د اعلان شرعي صلاحيت ورته حاصل شي. په ۱۸۳۵ ز کال کې دوست محمدخان له خپلو يوشمېر باوري افرادو سره د عيدګاه جومات ته لاړ (هغه مهال د عيدګاه جومات بګراميو ته نږدې سيمو کې و). او هلته د مشهور عالم او مبارز ميرواعظ د زوی ميرحاجي په وسيله چې دديني عالمانو په سرکې و، د مراسمو په ترڅ کې هغه اميرالمؤمنين وټاکه او لومړنۍ خطبه د هغه په نوم ولوستله شوه.

اميردوست محمدخان له بيعت اخيستلو څخه وروسته د جهاد فتوی ورکړه او خلکو خوښي څرګنده کړه. په ۱۸۳۵ ز کال کې يو لښکر چې (۵۰۰۰۰) پلي او لس زره سواره پکې وو، پېښور ته لاړ او د خيبر درې هغه لوري ته د شيخان په سيمه کې ځای پر ځای شو. د امير ورور سردارسلطان محمدخان طلايي د لس زرو باجوړيو ځوانانو مشرې کوله چې دغه وګړي د پوځ يوه برخه وه. په دغه مهال د پنجاب حکومت ته انديښنې پيدا شوې او هڅه يې وکړه چې په سوله خبره حل شي، انګريزانو د (هارلان) په مشرۍ يو پلاوی د امير دربار ته ولېږه او هارلان دنده درلوده چې د افغاني لښکرو په منځ کې اختلاف واچوي او سلطان محمدخان ته يې د پېښور د حکومت هوډ وکړ او سلطان محمدخان خپل لس زره کسيزه لښکر له افغاني پوځ څخه بېل کړ.

اميردوست محمدخان ددغه وضعيت په لېدلو په بېړه کابل ته راغی چې د امير دغه هوډ ټول خلک هک پک کړل، په تېرلوست کې يادشول چې د افغانستان له لارې د ناپليون بناپارت احتمالي يرغل انګليس ته انديښنې پيدا کړې وې، په همدغه مهال همارغه پېښې د روسيې له لارې رامنځته شوې. په دې توګه انګريزانو له افغانستان سره ليوالتيا او علاقه مندي ښکاره کړه. انګريزانو له امير څخه وغوښتل چې ناپليون ته اجازه ورنه کړي، ترڅو د افغانستان له لارې هند ته ننوزي. اميردوست محمدخان د پېښور د بېرته ورکولو په شرط د انګريزانو غوښتنه ومنله، خو انګريزانو کابل ته د روسي د پلاوي راتلل بهانه کړه او له امير سره يې اړيکې وشلولې. د ۱۸۳۸ ز کال د

مني په میاشت لاهور کې د مثلث پرېکړه لیک په نامه د رنجیت سنګ، شاه شجاع او د انګلیس د استازي ( مکناټن ) ترمنځ لاسلیک شوه چې لاندې مواد پکې شامل وو:

۱. شاه شجـاع دې د اندولـس د سیند په لـوېدیځ کې د افغاني ولایت، لکه: پېښور او دیره جـات او د افغـانستان له ټولو حقونو څخه د سک د دولت په ګټه تېر شي.

۲. د پنجاب امیر وعده کوي چې د هغو په بدل کې به له شاه شجاع سره مرسته وکړي ترڅو د افغانستان پاچاهي ترلاسه کړي.

۳. د بریتانیا دولت د دواړو لوریو ترمنځ د دوست په توګه ژمنه کوي چې د دواړو لورو د مقاصدو او موخو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي.

د پورتنۍ پرېکړې او د شملې اعلامیې موادو ته په پام، د انګلیس سرتېري د سند له سینده تېر شول او د شـاه شجـاع د مـرستې لپاره د بولان درې ته ورننوتل شـول او کـندهار د هغوی په وسیله ونیول شـو او شاه شجاع په رسمي توګه د افغانستان پاچا اعلان شو. همدا رنګه شاه شجاع په کندهار کې ژمنه وکړه چې د انګلیس سرتېري به تل په افغانستان کې پاتې کېږي. په دغه مهال د انګلیس نور لښکر جلال آباد ته ننوتل شو. د امیردوست محمدخان له بد حالت سره سره، سردار وزیرمحمد اکـبر خـان او د غزني والي سـردار غلام حیدرخان ته امر وکړ چې په ټول توان سره د دښمن پر وړاندې ودرېږي، خو هغوی ددښمـن پر وړانـدې د درېـدلو جـوګه نه شـول. انګلیسانو غـزني ونیو او کابل ته نـږدې شــول.

امیردوست محمدخان بخارا ته پناه یووړه. که څه هم چې شاه شجاع په ظاهر کې پاچا و، خو ټول واک د مکناټن او انګلیسانو پرلاس کې و او په دې توګه افغانستان د انګلیسي لښکرو لخوا ونیول شو.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي، لومړۍ ډله دې د ( ۱۸۱۸- ۱۸۳٤ ) زېږدیزو کلونو ترمنځ د ټولنیزې او سیاسي اوضاع په اړه او دویمه ډله دې پر افغانستان باندې د انګلیسانو د یرغل د لاملونو په اړه معلومات ترلاسه او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

## پوښتنې

۱. امیردوست محمدخان څرنګه واک ته ورسېد؟

۲. د امیردوست محمدخان تګلاره څرنګه ارزوئ؟

۳. امیردوست محمدخان ته ولې د امیرالمؤمنین لقب ورکړل شو؟

## له ټولګي څخه د باندې فعالیت

له منابعو او ماخذو څخه په استفاده دې زده کوونکي د افغانستان په اړه د رنجیت سنګ د تګلارې په اړه معلومات ترلاسه او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

# د شاه شجاع دويم ځل پاچاهي

په دغه لوست کې به په لنډه توګه ولولو چې د دويم ځل لپاره شاه شجاع د انګليسانو په مرسته څرنګه واک ته ورسېد.

لکه څنګه چې په تېر لوست کې مو يادونه وکړه چې په ۱۳۳۸ زېږديز کال مثلث پرېکړه د رنجيت سنګ، شاه شجاع او انګليسانو د استازي او مکناټن ترمنځ په لاهور کې لاسليک شوه او دغه تړون ددې سبب شو چې انګليسان پر افغانستان يرغل وکړي او شاه شجاع واک ته ورسيږي.

له همـــاغې ورځـــې چـې شـــاه شجـاع واک ته ورسېـد، خلـک د هغه په شخصي او اداري کمزورۍ پوه شول، د هغه او انګليسانو له منځه ورل يې خپله ملي او ديني دنده وګڼله او ددغـې موخې د ترلاسه کولو لپاره يې د خلکو په منځ کې د آزادۍ غوښتنې حس او د يرغلګرو او استعمارچيانو پرضد د جهاد روحيه او دننګ او ناموس ساتنه غښتلي کړل. خلکو لومړی له خطبې څخه د شاه شجاع نوم لرې کړ او له انګليسانو څخه يې سخته کرکه څرګنده کړه. د انګليس هغه خزانې چې د کندهار له لارې راوړل کېدې، د لارې په اوږدو کـې د غازيانو له خـــوا په غنيمت ونيول شوې. د کابل کنــدهار لاره وتــړل شــوه او د ختيځ لورته هم د افغان سيدجمال الدين له کورنۍ څخه د يوتن په وسيله پاڅون وشو. دغه حالت انګليسان سخت ووېرول په تېره بيا چې هغوی ولېدل چې روسانو، اميردوست محمدخان له ډېرو وسلو سره کابل ته واستاوه او د امير ډېر پلويان په هغه راټول شول. کندهار او سويلي لور ته هم د انګليس ضد شورشونه پيل شول. په ټول افغانستان کې د دولت ضد روحيه واکمنه شوه او نـور نا شوني وه چــې خلک د شاه شجاع له خوا دوکه شي.

اميردوست محمدخـــان له بخـــارا څخه تر راګـــرځېدو وروستــه د کابل د نيولو لپاره تيارى ونيو او له تاشقرغان څخه کوهستان ته راغی. د کوهستان خلک د مير مسجدي خان په مشرۍ د انګليسانو پرضد جګړې ته تيار وو چې ناڅاپه او د نامعلومو دلايلو له مخې اميردوست محمدخان انګريزانو ته تسليم کړ او د انګليسانو لخوا کلکتې ته وليږدول شو، خو مجاهدينو د ميرمسجدي

خان او سلـطان محمدخان نجرابي  او نورو په مشرۍ له انګرېزانو سره پرجـهاد لاس پـورې کړ او عبدالله خـان اڅکـزي او امين الله خان لوګري او نور، د کابل د شاوخوا خلکو په ملګرتيا د انګرېزانو او شاه شجاع پرضد پاڅېدل او د اميردوست محمدخان زوی سردار محمداکبرخان له هغوی سره يوځای شو او د انګرېزي لښکرو کلابندي يې تنګه کړه. په دغه مهال مکناټن د وزيرمحمد اکبرخان له لوري او برنس، د مجاهدينو لخوا ووژل شول او انګرېزانو ته ډېر زيانونه واوښتل چې په پايله کې پرته له يوتن نيم ځاني ډاکټر برايډن څخه چې په جلال آباد کې د انګليس له نورو لښکرو سره يوځای شو، باقي ټول لښـکر له منځه ولاړ.

لاخو د انګرېزانو د ايستلو او شاه شجاع د حکومت د نسکورولو انګازې تودې وې چې د خلکو ملي پاڅون بريالی شو. د ملي پاڅون پايله له افغانستان څخه د انګليسانو پرشاتګ او وتل پلې شول او د انګرېزانو ( ۱٦۵۰۰ ) تنه سرتېري ووژل شول. همدارنګه د هغوی حيثيت او وقار په ټوله نړۍ کې راټيټ شو.

## په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې هېواد ته له بخارا څخه د امير دوست محمد خان بيرته راتګ او دويمه ډله دې انګليسانو ته د نوموړي د تسليمۍ په اړه په خپلو کې خبرې وکړي او پايله دې په ټولګي کې وړاندې کړي.

## پوښتنې

۱. مير مسجدي خان د انګليسانو په وړاندې جهاد کې څه ونډه درلوده؟

۲. انګليسان پر افغانستان باندې د لومړي تيري څخه وروسته له کومو پايلو سره مخ شول؟

## له ټولګي څخه دباندې فعاليت

زده کوونکي دې د منابعو په مرسته د شاه شجاع د پادشاهۍ پر مهال د انګليسانو د لاس وهنې په اړه يو مطلب تيار او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

# د امیر دوست محمدخان د دویم ځل واک ته رسیدو ځرنګوالی



په دغه لوست کې به په لنډه توګه ولولو چې امیردوست محمدخان دویم ځل څرنګه واک ته ورسېد او څه کارونه يې وکړل؟

د انګلیس لخوا د افغانستان تر نیولو وروسته په ۱۸۳۹ ز کال د افغانستان خلکو د انګلیسانو او د هغوی د لاس پوځي پادشاه له منځه وړلو له ملي دندو څخه ګڼل. تردې چې د ۱۸۴۱ ز کلونو تر وروستیو پورې ملـي پاڅـون له کابل څخه پیل شـو او د قومـي مشرانو ترمنـځ له ترون وروسته نایب امـین الله خان لوګري، عبدالله خان اڅکزي او نورو مشرانو د جهاد جنډه پورته کړه. په لومړي سرکې مجاهدینو، برنس په خپل کور کې ووژه او وروسته يې د انګلیسانو د وسلو ټولې زېرمې ونیولې. خلک له کوهستان، لوګر او وردګ څخه ډلې ډلې د کابل له مجـاهدینو سره یوځای شـول او انګلیسي لښکــرو ډېر زیانونه وزغمل.

د انګلیس د لښکرو یوشمېر عسکر په شېرپور کې کلابند شول. په دغه مهال وزیر محمداکبرخان د بخارا له زندان څخه راخوشې شو او ځان يې کابل ته راورساوه. د نوموړي په تلو د مجاهدینو روحیه نوره هم غښتلې شوه. په دغه مهال مکناټن له ګواښه ډکــه نقشه رامخـــې ته کړه او د کابل د پــرېښودلو لپاره يې یو تړون وړاندې کړ. د مکناټن موخه داوه ترهغه چې د انګریزانو مرستندویه لښکر راورسېږي، مجاهدین بوخت وساتي په هغه غونډه کې چې مکناټن له وزیرمحمد اکبرخان سره درلوده، غوښتل يې وزیرمحمد اکبرخان ووژني.

وزیرمحمداکبرخان د موضوع په پوهېدلو مکناټن پرهغه تمانچه ډزې وکړې چې خپله مکناټن هغه ته ډالۍ کړې وه. په دې توګه د انګلـیس سیاسي او با صـلاحیته استازی یا وزیر مختار ویلیام مکناټن له منځه لاړ. له هغه وروسته د انګلیس د لښکر په منځ کې حیرانوونکې وحشت پیدا شو د برنس او مکناټن وژل کېدل، سړه هوا، د خوراکي توکو کمښت او د انګلیس د لوی پوځ بې واره کېدل ددې لامل شو چې هغوی هرڅومره ژر له کابل څخه وتل پیل کړي چې دغه کار انګلیس ته د سترو تاوانونو په رسیدو ترسره شو.

امیردوست محمدخان په ۱۸۴۳ ز کال دویم ځل پاچا شو. لومړی یې د کورنۍ اوضاع اصلاح پیل کړه، ځکه د ملوك الطوایفی د شتون په صورت کې د هیواد اوضاع ګډوډه شوې وه. نوموړي د سیاسي یووالي او د مرکزي دولت د ثبات لپاره ډېرې هڅې وکړې او ځینې سېمې، لکه بامیان، مزارشریف، هزاره جات چې له دولت څخه بېلې شوې وې، تر ولکې لاندې راوستلې او بېرته یې له دولت سره یوځای کړې.

همداراز د تګاب، نجراب او خوږیانیو سرغړونې یې په کراره کړې. د امیردوست محمدخان زوی، وزیرمحمداکبرخان د یو هېوادپال او قربانۍ ورکوونکي شخص په توګه د افغانستان د ملي یووالي په رامنځته کولو کې ډېر زحمتونه وګالل، تردې چې په ۲۹ کلنۍ کې د یو هندي ډاکټر د زهر لړلو ګولیو په خوړلو سره شهید او د حضرت علي رضي الله عنه په روضه کې خاورو ته ورسپارل شو. امیردوست محمدخان د پېښور د بېرته نیولو لپاره ډېرې هڅې وکړې، خو دغه هڅې منزل ته ونه رسېدې او هیله یې نه درلوده چې له انګلیسانو سره اړیکې ډېرې ترخې شي، خو په هېواد کې یې ټولې سیمې د مرکزي حکومت تر واک لاندې راوستې. که څه هم چې د لوی احمدشاه بابا په سرحدونو کې بدلونونه لیدل شوي وو، خو مرکزي حکومت د فترت له پړاو وروسته بېرته قوي شو. امیردوست محمدخان په دویم ځل پادشاهۍ کې یو لړ تړونونه تر سره کړل چې لاندې ورڅخه یادونه شوې ده :

## د جمرود تړونونه

انګریزانو د جمرود د تړونونو د لاسلیکولو څخه له امیردوست محمدخان څخه دوه امتیازه غوښتل لـومړی د هغو سیمو په رسمیت پېژندل وو چې مخکې د سکانو په لاس کې وې او وروسته هغه سیمې د انګریزانو لخوا ونیول شوې. دویم دا چې روسانو د ایرانیانو په مرسته غوښتل پر هرات حکومت وکړي چې له دغه پلوه یې د روسانو په پرمختګ سره خپلې ګټې تر ګواښ لاندې لیدلې، نو ددغو ګواښونو له منځه وړل یې دویم امتیاز و.

## د جمرود لومړی تړون

د هند دګورنر جنرال لارد دالهوزي په لارښوونه، د پنجاب والي سرجان لارنس ته دنده وسپارل شوه چې دغه تړون لاسليک کړي. خپله اميردوست محمدخان په دغو مذاکراتو کې ګډون ونه کړ او پرځپل ځای یې خپل ځایناستی سردارغلام حيدرخان په ۱۸۰۰ زکال جمرود ته چې پېښور ته نږدې پروت دی، ولېږه. تر لنډو خبرو وروسته د ۱۸۰۰ زکال د مارچ په ۳۰ مه د دواړو لورو ترمنځ درې فقره يیز تړون لاسليک شو.

۱- د ختيځ هند دکمپنی او دکابل حاکم امير دوست محمدخان ترمنځ، په هغو سيموکې به چې د امير او د هغه د ورثې تر واک لاندې وي، تلپاتې سوله ټينګه وي.

۲- د ختيځ هند کمپنی ژمنه کوي چې د هغو ترواک لاندې سيمو درناوی وساتي چې اوس د امير تر واک لاندې دي.

۳- دکابل حاکم اميردوست محمدخان د افغانستان هغه سيمې چې تر ولکې لاندې لري، هوډ کوي چې له خپلې او د خپلو متعلقينو له خوا د شرقي هند دکمپنيو درناوی وکړي او هيڅ کله به هغه کې لاس وهنه ونه کړي او د ختيځ هند دکمپنی له دوستانو سره دوست او له دښمنانو سره يې دښمن وي.

## د جمرود دويم تړون

کله چې انګليسانو د هرات له تجزيه کېدلو څخه مخ واړاوه له اميردوست محمدخان سره د خبرو په لټه کې شول. امير په هندکې خبرې کول ونه منل او دغه خبرې په جمرودکې د اميردوست محمدخان او سرجان لارنس ترمنځ تر سره شوې. نوموړی تړون د سردار محمداعظم خان له خوا لاسليک شو چې لاندې مطالب پکې وو:

۱. که د ايران حکومت د خپلو ژمنو پرخلاف عمل وکړي او هرات ونيسي، د انګليسانو جګړه به د ايرانيانو پرضد دوام ولري، تردې چې امير وکولای شي نور ولايتونه وساتي او د انګليس او ايران د جګړې ترپايه به انګليسان هره مياشت ۱۰۰۰۰۰ روپۍ (۱۰۰۰۰ پونډه) امير ته ورکوي.

۲. اميردوست محمدخان به پر اوسني پوځ سربېره، ۱۳۰۰۰ سپرو او ۱۸۰۰۰ کسيز پلی لښکر په وسلو سمبال کړي.

۳. د ټاکل شويو پيسو اخيستل او افغانستان ته د هغو ليږدول به د اميردوست محمدخان په واک کې وي.

٤. د انګليس استازي به د افغانستان په دريو ولايتونو (کابل، کندهار او بلخ) کې د لګښتونو په څارنې او د جګړې د ربوټ د تيارولو په موخه ځای پرځای شي. دوی به په کورنيو چاروکې د لاس وهلو حق نه لري او د هغوی امنيت او ساتنه به د اميردوست محمدخان پرغاړه وي.

۵. په پېښور کې به د کابل یو استازی استوګن شي.
٦. له ایران سره د جګړې په پای کې به د لومړۍ مادي پیسې بندې شي.
۷. د پیسو له بندېدلو وروسته به انګلیسي منصبداران له افغانستان څخه وځي، خو که د افغانستان امیر وغواړي په کابل کې به یوتن مسلمان استازی استوګن شي.
۸. امیر به افغانستان ته د انګلیسي افسرانو د تګ او راتګ ساتنه کوي.
۹. د پیسو ورکول به د جنوري له میاشتې څخه پیل شي.
۱۰. په کندهار کې ( ۳۰۰۰۰۰ ) او په کابل کې ( ۲۰۰۰۰۰ ) ورکړل شوې پیسې په دغه تړون کې شاملې نه دي، بلکې هغه د ختیځ هند د کمپنۍ وړاندیز دی. په کابل کې ( ٦۰۰۰۰۰ ) نورې ورکړل شوې پیسې په بېلو موخو او بېل تړون پورې اړوندې دي.
۱۱. دغه تړون لیک به د پخواني ( ۱۸۵۵ کال ) تړون لیک ناقـض نه وي. امیردوست محـمدخـان به د جګړې او سولې په صورت کې د ایران او د ایران د متفقـینو د وړاندیزونو په اړه انګلیس ته خبر ورکوي.
۱۲. پرڅلور زره میله وسلو سربېره چې مخکې ورکړل شوي، ۴۰۰۰ میله نوره وسله به هم د انګلیس د حکومت لخوا د (ټل) په سیمه کې امیردوست محمدخان ته وسپارل شي.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د انګلیس پرضد د افغانستان د خلکو د ملي پاڅون په اړه او دویمه ډله دې د امیردوست محمدخان د تړونونو په اړه په خپلو کې خبرې اترې وکړي.

## پوښتنې

۱. وزیر محمد اکبرخان د کوم علت له مخې مکناټن وواژه؟
۲. د جمرود د لومړي تړون مفاد وواياست؟
۳. د جمرود دویم تړون د کومو اشخاصو ترمنځ لاسلیک شو؟

## له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده کوونکي دې د منابعو او ماخذونو په مرسته د انګریزانو پرضد د افغانستان د خلکو د ملي پاڅون په اړه مطلب تیار او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

# د امير شېر علي خان لومړنی سلطنت (۱۸۶۳ـ۱۸۶۶ ميلادي)



امير شير علي خان

په دي لوســت کې به په لنډه توگه ولولئ چې کوم شــرايط د امير شــير علي خان د واک ته رسيدو لامل وگرځيدل.

د افغانستان خلک د وزير فتح خان د ورونو د تسلط په دوره کې کابو نيمه پېړی له جگړو او ناخوالو سره لاس او گرېوان وو. ځکه چې په دې بې نظميو کې د انگليسانو استعماري سياست دخيل و. د امير شېر علي خان له سلطنت څخه مخکې پر امير دوست محمد خان باندی يو شمېر معاهدې تحميل شوې، چې دغو معاهدو له مخې ترانزيتي او مواصلاتي لارې د افغانستان د خلکو پر مخ وتړل شوې او افغانستان يې په اقتصادي او سياسي محاصره کې ښکېل کړ.

امير شېر علي خان د خپل پلار په ژوند کې وليعهد ټاکل شوی و، چې د پلار له مرگه وروسته يې د ۱۸۶۳ کال د جون په ۱۲مه د ۴۱ کلنۍ په عمر خپل سلطنت اعلان کړ. ورونو يې ظاهراً هغه ته بيعت وکړ، خو په پټه کې يې د هغه په وړاندې مخالفت پيل کړ.

امير شېر علي خان د هرات ولايت د تنظيم لپاره خپل زوی شهزاده محمد يعقوب خان پرېښود او پخپله له محمد اعظم خان سره کابل ته روان شو، خو د سبزوار په برخه کې محمد اعظم خان له امير څخه جلا شو او د مرکزي سيمو له لارې خپل سکه ورور سردار محمد حسين خان ته چې د

هزاره جاتو حکمران و، ورغی او غوښتل يې چې پر کابل يرغل وکړي، خو د هزاره جاتو خلکو خپله وفاداري له امير شېر علي خان څخه اعلان کړه. وروسته محمد اعظم خان له خپلو نورو ورونو څخه مرسته وغوښته او د يوې حملې تياری يې ونيو، خو د امير شېر علي خان د ځواکونو په وړاندې يې مقاومت ونه شو کړای، د انګليسانو دولت ته يې پناه يووړه. په يوه بلې جګړې کې سردار عبدالرحمن خان او محمد افضل خان د هندوکش د درې د باجګاه په سيمه کې د امير شېر علي خان د قواوو په وړاندې ماتې وخوړه. محمد افضل خان تسليم او عبدالرحمن خان بخارا ته تيښته وکړه.

امير شير علی خان په ۱۸۶۵ م کال کې د کندهار د تصفيې لپاره د يو شمېر ډېرو قواو سره حرکت وکړ او له سردار محمد امين خان سره يې مقابله پيل کړه او د هغې جګړې په ترڅ کې چې د دواړو لوريو تر منځ ونښته، د هغه زوی سردار محمد علي خان او تره يې محمد امين خان له اتو زرو عسکرو سره ووژل شول. امير په دې پېښه ډېر غمجن شو. پر روحياتو يې بده اغېزه وشوه، د اعصابو کنترول يې له لاسه ورکړ او په کندهار کې يې جلا والي غوره کړ چې دغه انزوا د امير شير علي خان د سلطنت د سقوط لامل وګرځيده.

## په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په ډلو وويشل شي لومړنۍ ډله دې د امير شير علي خان د شخصيت او دويمه ډله دې د امير د کورنيو اختلافونو  په اړه معلومات تر لاسه او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

## پوښتنې

۱- امير شير علي خان څنګه واک ته ورسيد؟

۲- د لومړني سلطنت په مهال د امير شير علي خان کورنۍ ستونزې وليکئ؟

## له ټولګي څخه دباندې فعاليت

زده کوونکي دې د امير شير علي خان د لومړني سلطنت د ماتې د لاملونو په اړه معلومات راټول او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

# د امیر محمد افضل خان سلطنت (۱۸۶۶ـ ۱۸۶۷ زیږدیز)



سردار محمد افضل خان

په دې لوست کې به په لنډه توګه د امیر شیرعلي خان د ورونو تر منځ د اختلاف او واک ته د محمد افضل خان د رسیدو د څرنګوالي په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

د امیر شېر علي خان ګوښه والی د دې سبب شو چې سردار محمد اعظم خان او سردار عبدالرحمن خان کابل ونیسي، چې د کابل تر نیولو وروسته محمد افضل خان سلطنت ته ورسېد او څنګه چې انګلیسان په هند کې د امیر محمد افضل خان له پاچاهۍ خبر شول، نو سمدستي يې د هغه سلطنت په رسمیت وپېژانده. وروسته يې خپل سیاسي استازی کابل ته واستاوه، په داسې حال کې چې د افغانستان رسمي پاچا شتون درلود او خلکو يې ملاتړ کاوه.

د امیر شېر علي خان قواوو د محمد اعظم خان او عبدالرحمن خان د قواوو په وړاندې ماتې وخوړه او په هرات کې د خپل زوی محمد یعقوب خان سره دېره شو. وروسته د اقچې پخواني حاکم فیض محمد خان امیر شېر علي خان ته خبر واستاوه او د مرستې وړاندیز یې وکړ. امیر شېر علي خان د میمنې او مزار شریف له لارې له هغه سره یو ځای شو. په ۱۸۶۷ زیږدیز کال کې عبدالرحمن خان د امیر شېر علي خان د قواوو مخه د پنجشېر په بازارک کې ونیوله او فیض محمد

په جګړه کې ووژل شو او امیر شېر علي خان بیا هرات ته ستون شو.

په همدې وخت کې امیر محمد افضل خان د ناروغۍ له امله مړ شو او جسد یې په قلعه حشمت خان کې د شهدا صالحین (ع) سره نږدې خاورو ته وسپارل شو. د دې لپاره چې د امیر محمد افضل خان د سلطنت موده ډېره لنډه وه، نو د نوموړي د واکمنۍ په مهال کوم مهمه کارونه شو.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د امیر محمدافضل خان د شخصیت په اړه او دویمه ډله دې د نوموړي د کورني تاوتریخوالي په اړه په خپلو منځو کې بحث وکړي او پایله دې په ټولګي کې وړاندې کړي.

## پوښتنې

۱ـ امیر محمد افضل خان د کومو اشخاصو په مرسته واک ته ورسید او د انګلیس دولت د ده د حکومت په وړاندې څرنګه پالیسۍ پر مخ بوتله؟

۲- د امیر شیر علي خان او فیض محمدخان لښکر د چا له خوا او په کوم ځای کې ماته وخوره؟

۳- د امیر محمد افضل خان د واکمنۍ په اړه معلومات ورکړئ؟

## له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده کوونکي دې د امیر محمد افضل خان په وړاندې د انګلیس د پالیسۍ په اړه معلومات راټول او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

# د امير محمد اعظم خان سلطنت (۱۸۶۷ـ ۱۸۶۸ زيږديز)



سردار محمد اعظم خان

په دې لوست کې به په لنډه توګه پوه شئ چې محمد اعظم خان څرنګه واک ته ورسید او څرنګه له واک څخه ګوښه شو.

د امیر محمد افضل خان تر مرګ وروسته سردار محمد اعظم خان د عبدالرحمن خان په موافقه سلطنت ته ورسېد. امیر محمد اعظم خان یو نوښتګر سړی و، غوښتل یې چې یو شمېر اصلاحات په افغانستان کې رامنځ ته کړي، خو وخت ورته پیدا نه شو. امیر شېر علي خان له هراته کندهار ته ورسېد او د کندهار خلک چې د امیر محمد اعظم خان د زامنو د ظلم له لاسه ډېر تنګ شوي وو، نو د امیر شېر علي خان هر کلی یې وکړ. په دې وخت کې امیر عبدالرحمن خان د شمالي ولایتونو په ایلولو بوخت و. امیر شېر علي خان د کابل د نیولو تکل وکړ، مخکې له دې چې کابل ته ورسېږي، د کابل خلکو د امیر محمد اعظم خان په وړاندې احتجاج او له امیر شېر علي خان څخه یې ملاتړ وکړ. امیر محمد اعظم خان ولیدل چې اوضاع د امیر شېر علي خان په ګټه ده، روحیه یې کمزورې شوه او امیر عبدالرحمن خان ته چې په تخار کې و، ورغی. په ۱۸۶۸ زیږدیز کې امیر عبدالرحمن خان او امیر محمد اعظم خان قواوې ترتیب کړې او د غزني د ششګاو په سیمه کې د امیر شېرعلي خان له لښکرو سره مخامخ شول خو ماتې یې وخوړه او دواړه وتښتېدل. انګلیسانو

هغوی ته په هندوستان کې د اوسېدو بلنه ورکړه، خو هغوی تهران ته د سیستان له لارې روان شول، خو امیر محمد اعظم خان د لارې په اوږدو کې ناروغ او مړ شو او سردار عبدالرحمن خان بخارا ته پناه یووړه.

امیر محمد اعظم خان دخپلې واکمنۍ په لنډه موده کې د خپل یوه وزیر (افغان سید جمال الدین) په مرسته ښوونیز او ودانیز پلانونه ترلاس لاندې نیولي وو، له هغې ډلې څخه لومړنۍ مجله چې د کابل په نوم یادیده خپره شوه. نوموړي په نوي سیستم باندې د اداري تشکیلاتو په اړوند پلانونه ترلاس لاندې نیولي وو، خو د وخت د لنډوالي له کبله عملي نه شول.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې واک ته د امیر محمداعظم خان د رسیدو په اړوند د امیر عبدالرحمن خان په ونډه او دویمه ډله دې د امیر محمد اعظم خان د واکمنۍ د دورې په اړه په خپلو کې خبرې اترې وکړي.

## پوښتنې

۱ـ امیر محمد اعظم خان ولې عبدالرحمن خان د هیواد شمالي سیموته ولیږه؟

۲ - د امیر شیرعلي خان او سردار عبدالرحمن خان ترمنځ جګړه په کومه سیمه کې پیښه او پایله یې څه وه؟

۳- د امیر محمد اعظم خان د امارت په مهال کومه مجله خپریده؟

## له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده کوونکي دې د امیر محمد اعظم خان د واکمنۍ په اړه یو مطلب ولیکي او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

# د امیر شېر علي خان دويمه پاچاهي (۱۸۶۸ـ ۱۸۷۸ دیږدیز)



سید جمال الدین افغان

په دې لوست کې به په لنډه توګه معلومات ترلاسه کړئ چې امیر شیر علي خان څرنګه او په څه شرایطو کې د دویم ځل لپاره واک ته ورسید او د هیواد لوی عالم سید جمال الدین افغان په لار ښوونه یې څه اصلاحات را منځته کړل او انګلسیانو څرنګه د دویم ځل لپاره پر افغانستان باندې یرغل وکړ.

امیر شېر علي خان د ۱۸۶۸ زیږدیز کال په پای کې په ششګاو کې د سردار محمد اعظم خان او سردار عبدالرحمن خان تر ماتې وروسته کابل ته داخل او د دویم ځل لپاره سلطنت ته ورسید. هغه لومړی مرکزي حکومت ټینګ کړ.

امیر شېر علي خان یو روښانفکره او نوښتګر سړی و. نوموړی په افغانستان کې د نوي تمدن بنسټ ایښودونکی دی. افغانستان ته د نوي تمدن راتګ د اروپا له صنعتي انقلابه پیلېږي. امیر شېر علي خان د مشهور فیلسوف او پوه افغان سید جمال الدین لارښوونې په پام کې ونیولې او په اصلاحاتو کې یې ترې ګټه واخیسته.

امیر شېر علي خان له روسیې او ایران سره خپلې سیاسي اړیکې د دوستۍ پر بنسټ پیل کړې او عطا محمد سدوزی یې د افغانستان د رسمیت پېژندلو لپاره برتانوي هند ته واستاوه. وروسته یې په خپله له برتانوي هند څخه لیدنه وکړه. په برتانوي هند کې تکنالوژۍ او تمدن دی یو شمېر اصلاحاتو (Reform) ته وهڅاوه.

**الف ـ اداري برخه**: حکومت یا اجرایه قوه رامنځ ته شوه. په مشرۍ کې یې سید نورمحمد شاه فوشنجي صدراعظم، سپاه سالار حسین علي د دفاع وزیر، ارسلا خان د بهرنیو چارو وزیر، عصمت الله خان د داخلې وزیر، حبیب الله وردک د مالیې وزیر او محمد حسین خان د خزاینو وزیر وټاکل شو او کابینه د صدراعظم تر مشرۍ لاندې جوړېدله او پر دولتي چارو به خبرې او پرېکړې کېدې او د اړتیا په وخت کې به خپله امیر د کابینې په غونډه کې ګډون کاوه.

**ب ـ پوځي برخه**: امیر شېر علي خان د هېواد د خاورې او خپلواکۍ د ساتلو لپاره سل زره کسیز منظم پوځ جوړ کړ. د یاد شوي پوځ غړیو ته به تر پوځي زده کړې وروسته د هماغه وخت وسله ورکول کېده او یونیفورم به یې اغوسته او په اتو پوځي مرکزونو کې ځای پر ځای شوي وو.

د وسلو جوړولو صنعت پرمختګ وکړ. توپ، ټوپک، کریچ او باروت تولیدېدل. همدارنګه پوځي اصطلاحات او قوماندې په پښتو ژبه جوړې او په پوځي نظام کې دود شوې.

**ج ـ اقتصادي برخه**: د مالدارۍ او کرنې په برخه کې ډېره پاملرنه وشوه. پخوا مالیات ډېر درانه وو، بزګرانو او مالکانو نه شوی کولای چې هغه ورکړي. هغوی مجبور وو، چې د کال په لومړیو درېو میاشتو کې د حاصلاتو تر اخیستو دمخه د پېشکۍ په توګه ورکړي. په دې برخه کې اصلاحات رامنځ ته شول. دولت صنعتګران او کسب ګر هڅول چې د تولیداتو کیفیت او کمیت پورته لاړ شي.

**د- فرهنګي برخه**: عنعنوي ښوونه او روزنه چې پخوا به په جوماتونو او کورونو کې تر سره کېده، د ښوونځیو په جوړولو سره په عصري ښوونې او روزنې بدله شوه. ملکي او پوځي ښوونځي جوړ شول، په بالاحصار کې مطبعه تاسیس شوه.

د لومړي ځل لپاره د شمس النهار په نامه جریده په میاشت کې په شپاړسو مخونو کې دوه ځلې چاپېده او یو شمېر معلوماتي رسالې او اصولنامې هم چاپېدې. پوستي ټکټ چاپ شو او د پوستي خدمتونو لپاره په هر ځای کې پوسته خانې فعالې شوې.

د امیر شېر علي خان د وخت اصلاحات د دولتي چارو پر ټینګښت او د اقتصاد په ودې ډېر اغېز وکړ او د خلکو پر ژوند کې یې د پام وړ تغیر راوست.

مخکې یادونه وشوه چې امېر شیرعلي خان د ځینو دلایلو له مخې په ولایتونو کې د انګلیس دایمي استازې منلې نه وو او تر دې وروسته له انګلیسانو سره په سیاسي اړیکو کې محتاط و، خو د انګلیسانو لپاره د افغانستان او روسیې دوستي ښه پلمه وه، چې پر افغانستان تیری وکړي.

سربېره پر دې د ولیعهد په توګه د شهزاده عبدالله ټاکل، شهزاده محمد یعقوب خان دې ته اړ کړ

چې د پلار په مقابل کې بغاوت وکړي، ځکه چې هغه د امیر په سلطنت کې مهم رول درلود. بله مهمه موضوع دا وه چې د سیستان (د هلمند د اوبو د وېش) او د افغانستان د شمالي سرحدونو د ټاکلو په برخه کې د انګلیسانو قضاوت امیر ته د منلو وړ نه و. ځکه نو د امیر اړیکې له انګلیسانو سره خرابې شوې. د پورته ستونزو سره سره، انګلیسانو وغوښتل چې له امیر سره خبرې وکړي، خو امیر د انګلیس استازی ونه مانه، خو وروسته حاضر شو چې له انګلیسانو سره خبرې وکړي، خو د ولیعهد مړینې او سوګ خبرې وځنډولې، انګلیسانو د خبرو ځنډتیا له روسانو سره د دوستی له امله پلمه وګڼله. په همدې وخت کې روسانو (خیوه او مرو) ونیوله او انګلیسانو پر بلوچستان حمله وکړه او هغه یې ونیوه. انګلیسانو د امیر شیر علي خان درباره د روسي هیت راتګ بهانه ونیوله او له ګواښ څه وروسته یې په ۱۸۷۸ زیږدیز کال کې له درې خواوو (خیبر، کرم او بولان) د درو له لارې په افغانستان یرغل وکړ امیر شیرعلي خان مجبور شو چې مزار شریف ته لاړ شي، ترڅو له روسانو څخه مرسته واخلي، خو هلته ناروغ او په ۵۸ کلنۍ کې مړ او د حضرت علي کرم الله وجهه په روضه کې خښ شو.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي. لومړۍ ډله دې د امیر شیرعلي خان پر فرهنګي شخصیت او دویمه ډله دې د امیر شیرعلي خان د سلطنت په نیولو کې د یعقوب خان د ونډې په اړه په خپلو کې بحث وکړي.

## پوښتنې

۱. د افغان سید جمال الدین اصلاحي پروګرام چې امیر شیرعلي خان ته یې وړاندې کړ، کوم مطالب یې درلودل؟

۲. د شمس النهار جریدې څه وخت په خپریدو پیل وکړ؟

۳. د امیر شیرعلي خان پرمهال افغانستان ته د نوي تمدن کومو نښو چې لاره پیدا کړه هغه ولیکئ.

## له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده کوونکي دې پر افغانستان باندې د انګلیس د دویم یرغل د لاملونو په اړه یو مطلب ولیکي او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

## پر افغانستان باندې د انګلیسانو دویم یرغل (۱۸۷۸ کال نوامبرـ ۱۸۸۰ کال اګسټ)



سردار محمد ایوب خان



محمد جان خان وردک

په دې لوست کې به په لنډه توګه ولولئ چې انګلسیانو څرنګه دویم ځل ز موږ پر هیواد یرغل وکړ، له دې یرغل څخه د هغوی موخه څه وه او په پایله کې د کابل پاڅون او د میوند حماسه څرنګه پیښه شول.

په هند کې د انګلیسانو اوږدې خبرې د افغانستان له استازي صدراعظم سیدنور محمدشاه سره کومې پایلې ته ونه رسیدې، ځکه چې انګلیسانو په افغانستان کې پر خپلو تلپاتې استازیو ټینګار کاوه، چې مخکې د امیر شیرعلي خان له خوا نه وو منل شوي او یاد شوي صدراعظم هم دا وړاندیز ونه مانه، تر دې وروسته انګلیسي ځواکونو جلال آباد او کندهار ونیول او امیر له ناچارۍ څخه مزارشریف ته ولاړ، تر څو له روسانو څخه مرسته وغواړي او سردار محمدیعقوب خان د پلار پر ضد د بغاوت له امله چې د بالاحصار زندان ته اچول شوی و د امیر له خوا د هغه د خلاصون فرمان صادر شو. تر څو وکولای شي چې د امیر تر راتګ پورې د هیواد له چارو څخه سرپرستي وکړي.

سردار محمد یعقوب خان د خپل پلار د پاچاهي پر وخت د نیک نوم خاوند او د پلار د دویمې پاچاهۍ پر وخت د هرات او کندهار په خلاصون کې مهم رول درلود. د افغانستان خلک د هغه په زنداني کېدو او د ولیعهد په توګه د شهزاده عبدالله پر ټاکل کېدو خواشیني وو، سردار محمدیعقوب خان د زندان تر خلاصېدو وروسته په روحي او عصبي ناروغۍ اخته شوی و.

انګلیسانو د افغانستان د نیولو او اشغال لپاره عملاً لاس په کار شوی وو او خلکو یوه پاچا یا مشر ته اړتیا درلوده، ترڅو پر هغه راټول او د انګلیس د یرغلونو مخه ونیسي. ځکه نو امیر محمد یعقوب خان د ۱۸۷۹م کا ل د مارچ په میاشت کې امارت ته ورسید. د سلطنت له پیله یې یوشمیر نومیالي وزیران، لکه: حبیب الله خان صدراعظم، میرزا محمد خان د بهرنیو چارو وزیر او داود شاه خان سپه سالار د انګلیسانو د یوشمیر اجیرانو په وسیله تر څارنې لاندې نیول شوي وو.

ولې محمد (لاټي) په کابل کې د امیر پر ضد فعالیت کاوه او غوښتل یې چې افغانستان انګلیسانو ته تسلیم کړي او د انګلیسانو په مرسته سلطنت ته ورسیږي او د کندهار حاکم سردار شیرعلي خان او د جلال آباد حاکم محمدحسین له انګلیسانو سره د دې لپاره چې په قدرت کې پاتې شي، همکاري درلوده.

انګلیسانو له افغانانو سره له جګړې وېره درلوده، غوښتل یې چې له امیر سره خبرې وکړي، ځکه د امیر خسر سردار یحیی خان چې د امیر د بند پر وخت کې یې کشمیر ته تیښته کړې وه، له هندي منشي بختیار سره د خبرو لپاره کابل ته راغی. انګلیسانو له دوو مطلبونو سره علاقه درلوده، یو د درې ګونو لارو کنټرول (کُرم، بولان، خیبر) او بله دا چې د افغانستان پر بهرني سیاست نفوذ او اغیز ولري. هندي منشي بختیار او امیر ته نږدې یوشمېر سردارانو امیر دې ته اړ کړ چې د تړون د لاسلیک لپاره ګندمک ته سفر وکړي.

په ۱۸۷۹ زیږدیز کې د (گندمک) شرموونکې معاهده د انگلیس د استازي(لیوکیوناري) او امیر محمد یعقوب خان ترمنځ لاسلیک شوه. د دې معاهدې پر بنسټ (کُرم، لنډي کوتل تر خیبردرې پورې، سیالکوټ او ځینې نور ځایونه) د برتانوي هند برخې وگرځېدلې او د انگلیس استازي د افغانستان په مهمو ښارونو کې ځای پر ځای شول او کیوناری له خپلو ساتونکو سره د کابل بالاحصار ته داخل شو.

د گندمک په تړون او په افغانستان کې د انگلسیانو ځای پر ځای کېدو باندې د کابل خلکو یوځل بیا په هیواد کې د پردیو لاسوهنه ولیده. د انگلیسانو پر ضد یې پاڅون خپله دیني او ملي فریضه وگڼله او په ولسي بڼه یې د کیوناري پر کور حمله وکړه او هغه یې وواژه او یوځل بیا د انگلیسانو د مخکې تلنې سیاست (Forward Policy) په افغانستان کې له ناکامۍ سره مخامخ شوه.

د مجاهدینو او مبارزینو مشرانو، لکه: محمد جان خان وردک، ملا دین محمد مشک عالم، صاحب جان تره کي سردار محمد ایوب خان او محمد عثمان خان صافي په نورو سیمو کې د انګلیسانو پر ضد یرغلو نه پیل کړل. له دغو مشهورو جګړو څخه یوه هم په کندهار کې د میوند جګړه ده، چې د امیر شیرعلي خان د زوی سردار غازي محمد ایوب خان په سرښندنه د ۱۸۷۹ز کال د جولایي پر ۲۷مه پکې انګلیسانو د میوند په دښته کې سخته ماتې وخوړه او درانه تلفات یې ولیدل، چې زموږ په تاریخ کې د افغانانو د ویاړ او انګلیسانو د شرمندګی په نامه ثبت شوې ده.

دیادونې وړده د افغانستان د تاریخ په اوږدو کې افغاني پیغلو او ښځو په ټولو ټولنیزو چارو کې جوخت له نارینه وو سره سمه ونډه اخستې ده. څرنګه چې د ځوانې ملالې مشهوره حماسه چې د میوند په جګړه کې د پام وړ ګډون در لود, کله چې د جګړې په ډګر کې افغان بېرغ لرونکی په شهادت ورسید، ملي بیرغ یې په لاس کې ونیو او نه یې پرېښوده چې د غازیانو روحیه ضعیفه شي او دا لنډۍ یې په اوچت غږ د جګړې په ډګر کې وویله. چې د غازیانو جنګي روحیې یې پیاوړې کړې، جګړې شدت وموند او مجاهدین بریالي شول.

که په میوند کې شهید نه شوې خدایږو لالیه بې ننګی تــه دې ســاتینه

په کابل او د کندهار په میوند کې د انګریزي ځواکونو ماتې د دې لامل شوې ترڅو سردار عبدالرحمن خان له بخارا څخه افغانستان ته راستون شي، انګلیسان په ډېر سخت حالت کې وو. سردار عبدالرحمن خان د هیواد د شمال له لوري کابل راننوت او سلطنت یې اعلان کړ. انګلیسانو د ناچارۍ له مخې د امیر عبدالرحمن خان سلطنت په رسمیت و پیژانده او انګلیسي جنرا ل (رابرتس) کابل امیر عبدالرحمن خان ته پرېښود او د دویم ځل لپاره په افغانستان کې یو مقتدر مرکزي دولت جوړ شو.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي. لومړۍ ډله دې پر افغانستان باندې د انګلیسانو د دویم یرغل په اړه او دویمه ډله دې د انګلیسانو په وړاندې جګړه کې د رهبرانو، مبارزینو، مجاهیدینو، افغان ښځو او نجونو د ونډې په اړه په خپلوکې بحث وکړي.

## پوښتنې

۱. سردار محمد یعقوب خان له انګلیسانو سره کومه معاهده لاسلیک کړه؟

۲. د انګلیس افغان په دویمې جګړې کې ملي مبارزین څوک وو، نومونه یې یاد کړئ.

۳. د میوند د جګړې په ډګرکې کومې افغان پیغلې ملي بیرغ په لاس کې واخیست او کومه لنډۍ یې وویله؟

## له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې له مشرانو او منابعو څخه د هغو ښځو او نجونو په اړه چې د هیواد د خپلواکۍ په ساتنه کې یې ونډه درلوده، مطلب ولیکي او هغه دې په ټولګي کې وړاندې کړي.

# د مرکزي دولت ټينګښت (۱۸۸۰ـ ۱۹۰۱ زيږديز)



امير عبدالرحمن خان

د سردار عبدالرحمن خان رامنځ ته کيدل، د ملوك الطوايفی له منځه وړل، د نورستان الحاق، د پنجدې نيول، د انګليسانو تلفات او وتل له افغانستان څخه دا هغه مفاهيم دي چې په دې لوست کې به ور سره اشنا شئ.

سردار عبدالرحمن خان د امير محمد افضل خان زوی او د امير دوست محمد خان لمسی دی. نوموړی په کال(۱۸۳۰ز) کې زيږيدلی او په پنځوس کلنی کې په (۱۸۸۰ز کال) کې واک ته ورسيد.

سردار عبدالرحمن په (۱۸۶۸ز) کې د کابل او غزني ترمنځ د شش ګاو په سيمه کې د امير شيرعلي خان د قواوو په وسيله ماتې وخوړه او بخارا ته ولاړ. په (۱۸۷۹ز) کې کله چې انګليسانو پر افغانستان د دويم ځل لپاره يرغل وکړ، سردار عبدالرحمن خان د انګليسانو له يرغل څخه خبر شو او افغانستان ته راغی په قطغن او بدخشان کې يې له خلکو سره خبرې وکړې او خلک يې د انګليسانو پر ضد جهاد ته وهڅول. ولسي لښکر يې جوړ او چاريکارو ته ور داخل شو. هلته يې د سلطنت اعلان وکړ. څرنګه چې انګليسان د امير عبدالرحمن خان له پوهې او سياست څخه خبر وو، نو کله چې عبدالرحمن خان واک ته ورسيد، هغوی ته تشويش او ويره پيدا شوه، ځکه يې نو خپل شتون

هلته لازم نه ګڼله په افغانستان او په ځانګړې توګه په میوند کې د هغوی ماتې مورال کمزوری کړی و.
په همدې وخت کې د جنرا ل رابرتس قواوې په شیرپور کې محاصره وې. د دې لپاره چې هغوی ته د لومړۍ جګړې پېښه تکرار نه شي، نو یې هڅه کوله چې د ژمي تر رارسیدو دمخه له افغانستان څخه ووځي. ځکه یې نو د عبدالرحمن خان حکومت په رسمیت وپیژانده، کابل یې امیر ته تسلیم او د خپلو قواوو په وتلو یې پیل وکړ.

کله چې امیر عبدالرحمن خان په (۱۸۸۰ز) کال کې د دولت چارې ترلاسه کړې، له ډېرو سختو حالاتو سره مخامخ و، ځکه چې د افغانستان خلکو د انګلیسانو د حملو له امله ډېر زیانونه لیدلي وو. د بیلګې په توګه: په افغانستان کې اداري نظم او مرکزي حکومت له منځه تللی و او ملکي او پوځي جوړښت ویجاړ شوی و. د افغانستان په مهمو ښارونو کې د صنعت او کسبونو، زراعت او مالدارۍ مرکزونه او د اوبو لګولو سیستم زیانمن شوی و او ملي اقتصاد او فرهنګ په ټوله معنا له منځه تللی او په ټول هیواد کې ملوک الطوایفي رامنځ ته شوې وه. د خانانو او ملاکینو له خوا درنې او ملا ماتوونکې مالیې پر بزګرانو وضع شوې وې چې بیوزلو خلکو یې د ورکولو توان نه درلود.

امیر عبدالرحمن خان د دې لپاره چې پر ټولو ستونزو بریالی شي. دوه پروګرامه یې ترلاس لاندې ونیول، د یوه مرکزي سراسري دولت جوړول او بل په اداري او پوځي برخو کې اصلاحات. امیر عبدالرحمن خان د خپلو اصلاحاتو په تطبیق کې دومره جدي و، چې هیڅ ډول خنډ یې د خپلو اصلاحاتو په تطبیق کې په پام کې نه نیوه.

امیر عبدالرحمن خان د خپل نوی تشکیل د جوړولو لپاره د امیر شیرعلي خان د وخت د کابینې تشکیل ونه مانه، ځکه چې پر هیچا یې باور نه درلود. په دولت کې یې خپلواکې اداري جوړې کړې او په خپله د صدارت، دفاع، کورنیو، بهرنیو چارو وزارت او د ټولو وزارتونو په مشرۍ کې و. دولتي مامورینو په خپلو چارو کې درانه مسؤلیتونه درلودل، ترڅو خپلې دندې ښې ترسره کړي چې پرته له دې د جدي پوښتنې لاندې نیول کیدل.

امیر عبدالرحمن د (۱۸۸۵- ۱۸۸۶ز) کلونو تر منځ په اصلاحاتو لاس پورې کړ. په پوځي برخه کې یې ۹۶ زره کسیز وسله وال منظم پوځ جوړ کړ، چې سپاره او پیاده قطعات یې درلودل او د پوځ د سپاهیانو ترڅنګ یې د خانانو له زامنو څخه یو بل ځواک جوړ کړ، چې د شاهي ګارد یا

(بای بچه ها) په نامه یادیدل. د نظام د جوړښت په موخه د امیر عبدالرحمن خان د امر سره سم یو شمېر دفترونه لکه: د مال شمېرنې، پوستې، رهداری (پاسپورټ) کوتوالي (امنیه او پولیس) د مالیاتو د حصول، معاش، سکوکو او په لسګونو نورو فرعي ادارو دفترونه یې جوړ کړل، د نوموړو فعالیتو تر څنګ د امیر عبدالرحمن خان پروګرامونه په لاندې درې برخوکې خلاصه کیږي.

## الف- د کورنی بلواګانو له منځه وړل

په مخکې لوست کې موولوستل کله چې امیر عبدالرحمن خان سلطنت ته ورسید، افغانستان د انګلیسانو تر یرغل لاندې و او مرکزي دولت شتون نه درلود. د افغانستان په ډېرو سیمو کې ملوک الطوایفي وه، نو خلک په داسې حالت کې اوسیدل چې په ټولنه کې خوندیتوب، قانون او عدالت نه و او خلک له ډېرو ستونزو سره مخ وو. د امیر عبدالرحمن خان یوه مهمه موخه دا وه چې یو مرکزي حکومت جوړ کړي، ترڅو قانوني دولت تشکیل او ملوک الطوایفي له منځه یوړل شي، ځکه د داسې حالت دوام خطرناکې پایلې درلودې، حتی د دې ویره وه چې افغانستان تجزیه شي، ځکه نو امیر عبدالرحمن خان دې کار ته جدي پاملرنه وکړه. څرنګه چې سیمه ییزو حکمرانانو خپلې ګټې په خطر کې لیدې، نو ځکه نوی جوړ شوی حکومت په ټول افغانستان کې له یولړ شورشونو او مخالفتونو سره مخامخ شوه، لکه: د بلخ، هزاره جاتو، منګلو، بلوڅانو، کروخیلو، پنجشیریانو، نجرابیانو، ځدرانو، جمشیدیانو او د میمنې د خلکو پاڅونونه او شورشونه چې په یادو شویو ځایونو کې د قوې په استعمال سره له منځه لاړل او ټول ولایتونه د مرکزي حکومت تر کنترول او واک لاندې راغلل.

## ب- اسلام ته د نورستان د خلکو رابلل

نورستان د افغانستان په شمال ختیځ کې یوه صعب العبوره سیمه ده چې د هندوکش یوه ډېره ګوښه لمنه ده. پخوانی نوم یې (بلور یا بولر) دی چې پخوا د کافرستان په نامه یادېده. د ډېورنډ تر معاهدې دمخه چې په وروسته لوست کې به د هغې په اړه معلومات درکړل شي، (چترال) او (ګلګت) له نورستان سره یوځای وو او پراخه سیمه یې تشکیلوله. یوناني سکندر، ګورګاني امیر تیمور او ظهیرالدین محمد بابر غوښتل چې دې سیمې ته لار پیدا کړي، خو د سړې هوا، سختو درو او له واورو څخه ډکو غرونو له امله ونه توانېدل چې هلته لاړ شي. د دې ځای خلک بت نمانځونکي وو، د خپلو نیکونو دین او

روسوم يې ساتلې او سيمه يېزه خپلواکي يې درلوده.

په ۱۸۹۱ز کال کې امير عبدالرحمن خان دې سيمې ته متوجه شو. سپاه سالار غلام حيدر خان څرخي ته يې چې د ننگرهار او لغمان قوماندان او والي و، هدايت ورکړ چې نورستان ته د تگ يوه مقدمه جوړه کړي. لومړی غلام حيدر خان څرخي د نورستان د يوځايوالي لپاره د مواصلاتي لارو د جوړولو اقدام وکړ او د نورستان خلکو ته يې ابلاغ کړه چې حکومت ستاسې د يوې سيمې څخه بلې ته تگ راتگ د اسانتيا لپاره د لارو په جوړولو سره ستاسې ستونزې کموي. پخوا له دې چې سپهسالار نورستان ته تگ پيل کړي، خپل عسکر يې په بريکوټ کې ځای پر ځای کړل او د نورستان له خلکو سره يې نيکې اړيکې ټينگې کړې. خلکو له هغه سره تگ راتگ پيل کړ او يوشمير خلک د اسلام په دين مشرف شول. خو د (کافور) او ځينو نورو سيمو خلکو اسلام ونه مانه، خو د دولت تابعيت يې قبول کړ.

په ۱۸۹٦ز کال کې سپهسالار څرخي تر اسمار او د نورستان تر خولې پورې سړک جوړ کړ او بله لاره د نورستان څخه تر بدخشانه پورې بشپړه شوه. د سړک تر جوړېدو وروسته نوموړي خپل عسکر نورستان ته داخل کړل. د عسکرو په رسيدو سره د نورستان خلک دوه ډلې شول. لومړۍ ډلې د سپهسالار اطاعت وکړ او دويمې ډلې په دفاع پيل وکړ او غرونو ته وختل. په هغه سخته جگړه کې چې د نورستان د ساتونکو او دولتي ځواک ترمنځ په (کلوم) کې پيښه شوه، ۲۰۰ کسه دولتي عسکر په کې ووژل شول او (۲۳۰۹) کسه ژوندي ونيول شول چې په عزت سره کابل ته يوړل شول او هغوی ته خوراک، پوښاک او د اوسيدو ځای په پام کې ونيول شو. د دولت قواوو د نورستان ډېر ځايونه ونيول چې امنيت يې په کې ټينگ کړ. بتخانې ورانې شوې او پر ځای يې د جوماتونو جوړول پيل شول او د ۱۹ په شاو خوا کې د لرگيو مجسمې او يوشمير غشي او ليندۍ کابل ته راوړل شول. له لوگر، لغمان، پروان او کاپيسا څخه د ديني علومو ښوونکي نورستان ته يوړل شول، ترڅو د نورستان خلکو ته اسلامي زده کړې، زده کړي، د نورستان ټول سفر او فتحې

اته میاشتې ونیولې. څکه چې په لومړیو کې دا فکر کیده چې د نورستان نیول به ډیر وخت وغواړي، خو د سپهسالار غلام حیدر خان د پوهې او تدبیر له امله نورستان له مرکزي حکومت سره یوځای او خلک یې د اسلام په سپیڅلي دین مشرف شول او له کافرستان څخه یې نوم په نورستان بدل شو.

## ج- د پنجدې نیول

د افغانستان په شمال کې روسي امپراتوری، په ختیځ او سهیل کې برتانوي هند او په لویدیځ کې ایران موقعیت درلود. امیر عبدالرحمن خان به تل د برتانوي هند او تزاري روسیې له خوا له تهدید سره مخ و.

سردار محمد ایوب خان او سردار محمد اسحق خان د امیر دوه دښمنان چې لومړني څخه یې انګلیسانو او له دویم څخه یې روسانو ملاتړ کاوه. که څه هم د ایران دولت د امیر لپاره د فشار وسیله نه وه. خو دا یو رواج ګرځیدلی و چې ناراضي سردارانو به ایران ته پناه وړله. خو امیر له روسیې سره د اړیکو په برخه کې له احتیاط څخه کار اخیسته او هڅه یې کوله چې له روس سره ټکر ونه کړي.
د افغانستان دولت د برتانوي هند او تزاري روسیې ترمنځ د بفر (Buffer) یا حایل حیثیت درلود. د مرکزي آسیا د سیمو تر نیولو وروسته به روسانو بهانې جوړولې او غوښتل یې چې د افغانستان سیمو ته مخکې تګ وکړي. د روسانو لومړنی حرکت (مروې) ته د شپږ زره روسانو راوستل وو. د ۱۸۸۵ ز کال د مارچ په میاشت کې اوضاع دومره خرابه شوه چې د انګلیسانو ملکې د روس له تزار سره تماس ونیو او له تزار څخه یې وغوښتل چې د افغاني او روسي عسکرو د جګړې مخنیوی وکړي او په انګلیسي حکومت کې مخالفو ګوندونو پر حکومت انتقاد وکړ چې د روسانو د مخکې تګ مخه ولې نه نیسي. په همدې وخت کې روسانو افغاني عسکرو ته اخطار ورکړ چې د (کشک) په سیمه کې خپل سنګرونه پرېږدي. انګلیسانو د روسانو د یرغل په وړاندې ځان بې تفاوته کړ او روسانو پر پنجدې یرغل وکړ. جنرال غوث الدین خان په میړانه وجنګیده، تر هغې چې له خپلې لړې قوي سره ووژل شو او پنجده روسانو ونیوله.

امیر عبدالرحمن تر ۲۱ کالو پاچاهی د ۱۹۰۱ کال د اکتوبر په لومړۍ نیټه د ۷۱ کالو په عمر د نقرس د ناروغی له امله له نړۍ سترګې پټې او د کابل په بوستان سرای اوسني زرنګار پارک کې خاورو ته وسپارل شو. د هغه د حکومت پر وخت، په خواشینی سره د ښوونې او روزنې، کلتور او صنعت په برخه کې کوم کار ونه شو د امیر عبدالرحمن خان د هڅوله امله مرکزي حکومت بیا را ژوندی او هغه ملوك الطوایفي چې د شهزادګانو د بې اتفاقی او د انګلیسانو د دسیسو له امله منځ ته راغلې وه، له منځه یووړل شوه، خو په خواشینی سره د ډیورنډ د معاهدې د لاسلیك له امله افغانستان په ختیځ او سهیل کې د خپلې ځمکې یوه برخه له لاسه ورکړه.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي. لومړۍ ډله دې د امیر عبدالرحمن خان قدرت ته د رسیدو په څرنګوالي او دویمه ډله دې د نورستان د یوځایوالي په اړه بحث وکړي.

## پوښتنې

۱. روسانو پنجدې څنګه ونیوله؟
۲. د بفر (Buffer) پالیسي د کومو هیوادونو له خوا په افغانستان کې عملي شوه؟
۳. امیر عبدالرحمن خان په کوم کال کې سلطنت ته ورسید؟
٤. د امیر عبدالرحمن خان شخصیت په لنډه توګه معرفي کړئ.

## له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې د امیر عبدالرحمن خان د اصلاحاتو او اداري نظام د ټینګښت په اړه معلومات ترلاسه او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

# د تړونونو لاسلیک

د امیر عبدالرحمن خان مجبوریتونه، د ډیورنډ تړون او د هغه پایلې هغه مطلبونه دي چې په اړه به يې په دې لوست کې معلومات وړاندې شي.

## د ډیورنډ تړون

مخکې له دې څخه چې انګلیسان د ډیورنډ تړون مطرح کړي، د افغانستان په ختیځو او سهیلي پولو کې اوضاع مغشوشه کړه، د قومونو او قبایلو په منځ کې يې روپۍ او وسلې ویشلې خلک به يې په جګړې اچول او بیا به يې په دې پلمه چې منځګړیتوب کوي او تاوتریخوالی له منځه وړي، نو ځان به يې د یوه خیرخواه او مصلح په توګه معرفي کاوه او د امیر عبدالرحمن خان او د افغانستان د دولت د بې اعتباره کولو لپاره به يې له ډول ډول دسیسو او پروپاګنډ څخه کار اخیسته.

په ۱۸۹۳ ز کال کې یو شپږ کسیز هیئت چې مشري يې د بریتانیا د بهرنیو چارو سکرتر (مارتیمر ډیورنډ) کوله او الیس، ډاکتر فن، سمیت، مکمهان، ډانلډ او کلارک په کې شامل وو، د خیبر له لارې افغانستان ته راغلل. په داسې حا ل کې چې انګلیسي قواوې د افغانستان په ختیځو او سهیلي پولو کې ځای پر ځای شوې وې، یاد شوی هیئت له امیر عبدالرحمن خان سره د حشمت خان په باغ کې لنډه کتنه وکړه او د خبرو په پیل کې يې پرته له سریزې او په ډیره جدي توګه امیر عبدالرحمن خان ته وویل چې امیر مجبور دی چې ترتیب شوی تړون لاسلیک کړي، په بل صورت کې به د دواړو دولتونو ترمنځ اړیکې پرې او ښایي جګړه پیل شي. امیر په ډیر سخت حالت کې راګیر شو او د امیر تیروتنه دا وه چې د مذاکراتو او د هغه د متن په اړه يې د افغانستان خلکو ته معلومات ورنه کړل او د معمول په خیر د خلکو له رایې او نظره پرته يې یاد تړون لاسلیک کړه.

## د ډیورنډ دتړون متن

۱. د افغانستان ختیځ او سهیلي سرحد له واخان څخه پیل شوی او د ایران تر سرحده دوام پیدا کوي، چې په ترتیب شوې نقشه کې ښودل شوی او د نوموړي تړون سره ضمیمه ده.

۲. د برتانوي هند دولت به هغو ځمکو کې چې په افغانستان پورې اړه لري، هیڅ وخت لاسوهنه نه کوي او د افغانستان دولت هم د هندوستان په ځمکو کې لاسوهنه نه کوي.

۳. د (اسمار سیمې او پورته سیمه یې د چنګ تر سیمې پورې) په افغانستان پورې اړه لري او د افغانستان دولت هیڅ وخت د سوات، باجوړ، چترال او ارنوی په سیمه کې مداخله نه کوي او د برمل بشپړه سیمه

په افغانستان پورې اړه لري او د افغانستان حکومت د وزیرو او داوړو په سیمو ادعا نه شي کولای.

٤ . یاده شوې سرحدي لیکه به د بریتانوي او افغاني هیئت په واسطه له نقشې سره سمه په نښه شي.

٥ . د چمن په سیمه کې چاوڼۍ (پوځي مرکز) چې نوی جوړ شوی او د اوبو هغه برخه چې په سرکي ننګي کې چې افغانستان مخکې خریداري کړې، له هغې څخه تیر او د بریتانیا دولت ته دې وسپاري. په دې سیمه کې به د جلاوالي لیکه په لاندې ډول وکښل شي، د خواجه عمران د غره د سلسلې له سر څخه شاه کوتل ته نږدې چې د انګریز ملکیت دی، داسې امتداد لري چې مرغه چمن او د شیراوبه Shiroba چینه مستقیماً د نوي چمن کلا او افغاني تاڼې چې په لشکروند مشهوره ده، په منځ کې تیریږي. وروسته یاده شوې لیکه مستقیماً د ریل ستیشن او د بلاک د کوځې په منځ کې تیریږي او بیا د سهیل لوري ته تاویږي چې خواجه عمران د غرونو لړۍ په کې شاملیږي او د ګواشه Gowasha تاڼه د انګریز په ملکیت کې راځي او هغه لاره چې د شوراوک په لوري د ګواشه سهیل او لویدیځ ته ځي، په افغانستان پورې اړه لري، برتانیه به د دې لارې تر نیمایي پورې مداخله نه کوي.

٦ . د دې ژمنلیک شرایط د برتانیې او افغانستان ترمنځ د قبول وړ دي، کله چې پر کومه فقره کوچنی اختلاف پیدا شي، د دوستانه خبرو له لارې به حل او فصل شي.

٧ . څرنګه چې د هند برتانوي دولت د جناب امیر صاحب د هغه نیک نیتۍ څخه چې د هند د برتانوي دولت په برخه کې لري پوره ډاډمن دی، نو هیله لري چې افغانستان د خپلواکۍ په حالت کې ووینې او کله چې افغانستان غواړي چې وسله رانیسي، د برتانیې دولت کوم اعتراض نه لري او هم د دې قرارداد د لاسلیک له امله چې افغانستان ته به هر کال دولس لکه روپۍ ورکول کېدې، د دې تړون له لاسلیک څخه وروسته شپږ لکه نورې اضافه کیږي.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي او د ډیورنډ د تړون پرګټو دې یو له بله سره خبرې او اترې وکړي او پایله دې د ډلو د استازو په واسطه په ټولګي کې وړاندې شي.

## پوښتنې

١. د ډیورنډ تړون د کومو شخصیتونو ترمنځ لاسلیک شو؟

٢. د ډیورنډ تړون په کوم کال لاسلیک شو؟

## له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې له مشرانو او فرهنګیانو څخه د ډیورنډ د تړون د پایلو په برخه کې معلومات ترلاسه او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

# د امیر حبیب الله خان سلطنت (۱۹۰۱ - ۱۹۱۹زیږدیز)



امیر حبیب الله خان

د امیر حبیب الله خان واک ته د رسیدو خرنگوالی، د نوموړي د حکومت اړینې کړنې او د هغه د قتل لاملونه هغه مطالب دي چې په دې لوست کې به ورسره آشنا شئ.

سردار حبیب الله خان د امیر عبدالرحمن خان زوی و. کله چې امیر عبدالرحمن خان د امیر شیرعلي خان له خوا د کابل او غزني ترمنځ په شش گاو (شپږ قلاع) کې ماتې وخوړه، په بخارا کې یې پناه واخیسته او سردار حبیب الله خان په ۱۸۷۲زکال په سمرقند کې وزیږید. هغه په ۲۸ یا ۲۹ کلنۍ کې په ۱۹۰۱زکا ل د پلار له مړینې وروسته واک ته ورسید.

امیر حبیب الله خان په طبیعي توگه آرام، هوښیار، نوښتگر او د پرمختگ پلوی وه. که څه هم له عیش, عشرت او له مجلل دربار سره یې مینه درلوده.

امیر حبیب اله خان یوه فرهنگي څېره وه. او ټینگار یې کاوه چې ټولنه پرته د ښوونې او روزنې څخه پرمختگ نه شي کولای. هغه کار چې د هغه په وخت کې ترسره شو، د معارف بنسټ ایښودنه او د نوي فرهنگ معرفي وه. په ۱۹۰۳زکې لومړنی ښوونځی د حبیبیې د لیسې په نامه جوړ شو. چې په دې ښوونځي کې پر دیني مضامینو سربیره نور مضامین لکه تاریخ، جغرافیه، ریاضي، کیمیا، فزیک، هندسه، مثلثات، حکمت او حفظ الصحه تدریس کېدل او یو څو نور لومړني ښوونځي د ښار په ځینو

برخو کې هم جوړ شول.

په پوځي برخه کې هم د حربي په نامه ښوونځی جوړ شو چې پر علمي مضامینو سربیره ارکان حرب په کې هم تدریس کېده چې د نوموړو مضامینو درس د هندي، ترکي او افغاني استادانو په وسیله ورکول کیده. د لومړي ځل لپاره داسې یوه مطبعه جوړه شوه چې ماشینونو یې د بخار د قوې په وسیله فعالیت کاوه چې په نوموړې مطبعه کې ځینې دولتي لایحې او اخبار چاپیده. دوه اخبارونه د لومړي ځل لپاره د (سراج الاخبار) او (سراج الاطفا ل) په نامه تآسیس شول چې مسؤل مدیر یې محمود طرزي و او د هغه د نظر لاندې یاد شوي اخبارونه چاپیدل، چې خلکو ته د انګیزې په ورکولو او د خپلواکۍ غوښتنې د حس په لوړولو کې یې مهم رول درلود او محمود طرزي ته د افغانستان د مطبوعاتو د پلار لقب ورکړل شو.

د کابل ـ غزني او کابل ـ جلال آباد او لغمان لاره جوړه شوه او د لومړي ځل لپاره یوشمیر موټرې د ورلو راوړلو لپاره له یوې کمپنی څخه چې (مدلر) نومیده، له بمبیي څخه دولت خریداري کړې او هم څو کسه د موټرو د ترمیم د زده کړې لپاره هندوستان ته واستول شول.

د نساجی په برخه کې د وړی اوبدلو په نامه یوه فابریکه جوړه شوه چې د بخار د قوې په وسیله یې فعالیت کاوه. په کال کې به یې پنځوس زره عسکرو ته یونیفورم برابراوه او پاتې تولیدات یې بازار ته وړاندې کیدل. د اوبو د بریښنا یوه وړه فابریکه په جبل السراج کې جوړه شوه. د تولید کچه یې لږه وه چې یوازې ارګ یې روښانه کاوه. وروسته یې توربینونه ډېر شول چې د کابل ښار ته یې بریښنا ورکوله. د کرنې په برخه کې د هغو ځمکو لپاره چې اوبه یې لږې وې، یوشمیر بندونه او نهرونه جوړ شول.

د امیر حبیب الله خان د سلطنت مهمې پیښې د ځدراڼو، منګلو، احمدزیو او د کندهار د خلکو پاڅونونه وو، چې دا پاڅونونه د دولت په لوړ تدبیر سره غلي شول. نړیواله پېښه چې د امیر حبیب الله د حکومت سره هم مهاله وه لومړۍ نړیواله جګړه وه. د آلمان د حکومت یو هیئت افغانستان ته راغی او د دواړو هېوادونو په دوستی یې ټنګار کاوه، ترڅو په دې وسیله افغانستان د (محور) دولتونو یانې له هغو دولتونو سره چې له آلمان سره ملګري وو، یوځای کړي. او انګریزانو له دې څخه ویره درلوده چې افغانستان له محور دولتونو سره یوځای نه شي. ځکه یې نو له روسانو سره معاهده وکړه چې د یادې شوې معاهدې پر بنسټ افغانستان په لومړۍ نړیوالې جګړې کې خپل ناپیلتوب اعلان کړ.

امیر د خپل سلطنت په وروستیو کلونو کې د خلکو, روښانفکرانو او مشروط غوښتونکو کرکه

خپل ځان ته را وپاروله. چې په دې توګه د هغه د حکومت د سقوط زمينه برابره شوه.

د ۱۹۱۸ز کال په پای کې امير د خپلو ټولو درباريانو سره د تفريح لپاره له جلا ل آباد څخه د ماهيانو د ښکار لپاره د لغمان کله ګوش ته ولاړ او هلته د فبرورۍ د مياشتې په شلمه شپه د يوه نامعلوم کس له خوا د تومانچې په ډزو ووژل شو. جسد يې جلال آباد ته يوړل شو او همالته خاورو ته وسپارل شو.

## په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په دوه ډلو وويشل شي. لومړۍ ډله دې د امير حبيب الله خان واک ته د رسيدو د خرنګوالي په اړه او دويمه ډله دې د نوموړي د شخصيت په اړه په خپلو کې خبرې او اترې وکړي او پايله دې په ټولګي کې وړاندې کړي.

## پوښتنې

۱. امير حبيب الله خان په کوم کال کې سلطنت ته ورسيد؟

۲. لومړنۍ جريده په کوم نامه او په کوم کال خپره شوه؟

۳. لومړنۍ د اوبو د برېښنا فابريکه چيرته او په څومره ظرفيت يې په فعاليت پيل وکړ؟

## له ټولګي څخه دباندې فعاليت

زده کوونکي دې د امير حبيب الله خان د اصلاحاتو په برخه کې له مشرانو او لويانو څخه معلومات ترلاسه او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

# د مشروطیت نهضتونه

د مشروطیت خوځښتونه څرنګه را منځ ته شول، موخې يې څه وې او له څه ډول برخليك سره مخ شول. په دې لوست کې به له دې مطلبونو سره زده کوونکي بلدتيا پيدا کړي.

د امير حبيب الله د سلطنت په پيل کې د لومړي ځل لپاره معارف تاسيس او نوی فرهنګ پيل شو. يوشمير محدود ښوونځي جوړ او د نوي فرهنګ د خپراوي په برخه کې دوه ورځپاڼې چاپ او په مطبعه کې د کتابونو چاپول پيل شول.

امير حبيب الله خان په ۱۹۰۵ ز کال کې له انګريزانو سره د تړون تر لاسليك وروسته خپل ځان ډاډه احساساوه، خو د هغه تړون له مخې چې د لومړۍ نړيوالې جګړې په پيل کې روس او انګليس کړی و، انګريزانو دا وېره درلوده چې افغانستان د (محور) د ځواکونو يا د هغو دولتونو سره چې له آلمان سره متحد وو، يوځای نه شي. ځکه نو انګريزانو افغانستان تر خپلې حمايې لاندې راوست چې له دې سره د افغانستان خپلواکي سلب شوه.

د امير حبيب الله د سلطنت په لومړيو کې اداري وضع ښه وه او خلکو دا فکر کاوه چې ژر به نوره هم ښه شي. خو وروسته د افغانستان اداري صلاحيتونه د يو څو محدودو کسانو لاسونو ته ورغلل. اداري مراجع ملوثې او اداري فساد خپل اوج ته ورسيد او امير د دربار په عيش و عشرت کې ډوب او د هيواد له حالته ناخبره و. د ټولنې د پرمختيا ټيټوالی، د خپلواکۍ له منځه تلل، د اداري فساد ډېريدل، بې عدالتي او ملاماتوونکو ماليو د خلکو ستونزې لاپسې ډيرې کړې.

روڼ اندو چې به د هيواد بحراني حالت ليده، نو خوابدي به وو. د دې ستونزې د حل په لټه کې شول چې د افغانستان خلکو ته ښځګه خلاصون ورکړي. په پای کې يې پريکړه وکړه چې د دولت مطلق العناني په مشروطيت بدله کړي.

روڼ اندي د دربار د اصلاح غوښتونکو په شا اوخوا راټول شول او په دولت کې د اصلاحاتو غوښتونکي شول. د دربار روڼ اندي عبارت وو له، محمد ولي خان بدخشاني، ميرزمان خان، مير ياربيک خان دروازي، پادشاه ميرخان لوګري، نظام الدين خان ارغنديوال او لعل محمد خان کابلي. وروسته يوه ډله ځوانان، لکه: جوهرشاه خان، لعل محمد خان، پادشاه ميرخان، نظام الدين خان او

میرزمان خان له دربار څخه بهر د دیموکراتانو له سیاسي کړۍ سره یو ځای شول. بهرني کتابونه او جریدې به یې ترلاسه کولې او د کورنیو او بهرنیو سیاسي او ټولنیزو مسایلو سره به یې علاقه پیدا کوله.

د حبیبیې لیسه د روڼ اندو په یوه سیاسي مرکز بدله شوې وه. روڼ اندو په منځ کې د راډیکال ډله، یا افراطیون هم وو چې د کودتاه غوښتونکي هم وو. بلې ډلې روڼ اندو په یوازې توګه د دربار او حبیبیې لیسې څخه بهر فعالیت کاوه.

د دربار روڼ اندو د حبیبیې له لیسې څخه بهر او د حبیبیې لیسې ښوونکو او کارکونکو سره ائتلاف وکړ او یو سیاسي ګوند یې د (جمعیت سري ملي) په نامه جوړ کړ چې د نوموړي ګوند په مرامنامه کې د مطلق العنان حکومت بدلون په مشروطیت، د خپلواکۍ ګټل، متوازن معارف او په افغانستان کې د نوي فرهنګ خپریدل شامل و.

یاد شوی ګوند په یو لس کسیزه ډله د ګوند د مؤسس او مشر په وسیله وویشل شو. د دې لپاره چې د ګوند فعالیتونه ښکاره نه شي، د ګوند غړیو یو بل حتی نه پیژندل. ګوندي جلسې به په ډیره پټه توګه د میلمستیا په نامه د ډلو د مشرانو له خوا جوړیدې او په جلسو کې به د ګوند د چارو په برخه کې پریکړې کېدې. عمومي جلسې به تر اوږدې مودې وروسته کېدې او نوې پریکړې به په کې ترسره کېدې.

د ګوند د یوې غوره کړۍ رئیس تاج محمد خان بلوڅ پغماني و. جوهرشاه خان غوربندي او میر سید قاسم خان لغماني او د ګوند د هندي مسلمانانو غړي چې ټول یې د حبیبیې د لیسې ښوونکي وو، د ګوند په یوې جلسې کې یې پریکړه وکړه، مخکې له دې نه چې امیر د ګوند له شتون څخه خبر شي، باید هغه وهڅول شي چې پخپله د فرهنګ په خپریدو او د سرتاسري معارف په خپراوي کې همکاري وکړي. له تاج محمد خان سره د ګوند د مرامنامې یوه کاپي وه، چې له نورو اسنادو سره یې په خپل کور کې ساتله. وروریې محمد شریف چې د سیاسي افکارو د مخالفینو له ډلې او د دولت له پلویانو څخه ګڼل کېده، له تاج محمد خان سره په یوځای کې اوسیده. نوموړي هغه مصوبه د تاج محمد خان له اسنادو څخه ترلاسه کړه او هغه یې امیر حبیب الله ته وړاندې کړه.

د ۱۹۰۹ز کال په ژمي کې کله چې امیر په جلال آباد کې په تفریح بوخت و، محمد عظیم خان د حربي فابریکې کارمند او د شهزاده کبیر خان خصوصي ښوونکی ملا منهاج الدین، د ګوند د ټولو غړیو فهرست ترتیب او له یو راپور سره یوځای امیر حبیب الله خان ته وړاندې کړ او په راپور کې داسې ویل شوي وو چې د سري ملي ګوند هدف د امیر وژنه او د مشروطه حکومت جوړول دي او په کابل کې داسې آوازه خپره شوې وه چې دا هرڅه د هغو هندیانو په وسیله رامنځ ته شول چې د ګوند په دننه کې وو.

خلکو دا استدلال کاوه چې د ګوند هندي غړيو غوښتل چې لومړی د مشروطيت او خپلواکۍ غوښتنې نهضت له منځه يوسي او بيا افغانستان د انګليسانو په ګټه وروسته پاتې کړي او امير د معارف د تأسيس او د نوي فرهنګ له خپريدو څخه زړه ماتی کړي او په ياد شوي فهرست کې هغه مشروطه غوښتونکي چې د افغانستان په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره راښکاره او څلويښت کسه وو، په خواشينۍ سره اعدام او بنديان شول. وروسته له څه وخته ځينې يې آزاد شول، خو مشروطه غوښتونکي په ټوله معنا ونه ټکول شول، بيا يې ورې ډلې جوړې کړې چې په پټه يې فعاليت کاوه.

په (۱۹۱۸ز) کې د مشروطه غوښتونکو تر ټکولو وروسته (عبدالرحمن لودين) د سراج الاخبار محرر او د ګوند غړي چې راډيکال يا افراطي شخص و، د امير حبيب الله خان د کليزې په شپه په شوربازار کې د قاضي کوڅې د يوه دوکان په بام له تومانچې سره کمين نيولی و او د امير د سپرلۍ موټر ته يې انتظار کاوه (په هغه وخت کې شاه معمولاً د جشن او د کابل په چراغان شپو کې د ارګ له بازارونو او د شوربازار له چوک څخه تيريده) همدا چې د امير موټر د دې دوکان تر څنګ راورسيد، عبدالرحمن د امير په موټر ډز وکړ، خو کارتوس د موټر په پورته ځای ولګيد او موټر په چټکۍ تير شو او امير وژغورل شو. په سبا شپه عبدالرحمن لودين امنيتي قواوو ونيو او په ارګ کې زنداني شو. امير د هغه او د ملګرو د اعدام مسؤوليت په غاړه وانه خيست او د ۱۹۱۹ز کال په سياسي اوښتون کې عبدالرحمن لودين له نورو روڼ اندو سره يوځای له زندان څخه آزاد شول او د امانيه دورې په مامورينو کې مقرر شول.

## په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په دوو ډلو وويشل شي. لومړۍ ډله دې د مشروطيت د رامنځ ته کېدو په زمينو او دويمه ډله دې د دې نهضت د موخو په برخه کې يو له بل سره خبرې وکړي او پايله دې په ټولګي کې ووايي.

## پوښتنې

۱. د مشروطيت نهضت کومو شخصيتونو رهبري کاوه؟

۲. د دې نهضت مشهور غړي څوک وو؟

۳. امير حبيب الله خان د دې نهضت له موخې څخه څنګه خبر ترلاسه کړ؟

## له ټولګي څخه دباندې فعاليت

زده کوونکي دې منابعو او ماخذو ته په لاس رسي سره د نهضت د ناوړه ټکونې په اړه معلومات ترلاسه او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

# د امیر امان الله خان پاچاهي او د هیواد په خپلواکۍ کې د هغه رول (فبروري ۱۹۱۹ - جنوري ۱۹۲۹ زیږدیز)



شاه امان الله غازي

د امان الله خان شخصیت، واک ته د رسیدو څرنګوالی، د خپلواکۍ په تر لاسه کولو کې د هغه رول او له انګریزانو سره د امانیه دولت د تړونونو لاسلیک کیدل چې له امله یې د افغانستان خپلواکي په رسمیت وپیژندل شو. زده کوونکي به په دې لوست کې ورسره پیژندګلویي پیدا کړي.

د ۱۹۱۹ زیږدیز کال د فبرورۍ په ۲۱، امیر حبیب الله خان د لغمان د کله ګوش په ښکار ځای کې ووژل شو او د وژلو پر دویمه ورځ یې ورور نصر الله خان په جلا ل آباد او زوی یې امان الله خان په کابل کې د پاچاهۍ اعلان وکړ. په دې توګه په یو وخت هېواد کې دوه حکومتونه منځ ته راغلل. څرنګه چې له امان الله خان سره د خلکو او در باریانو مینه او ملاتړ زیات و، نو د نصرالله خان په پرتله یې د هغه موقف پیاوړی کړ، ځکه نو نصرالله خان د پاچاهۍ له ادعا لاس واخیست. امان الله خان د چاپ شویو اعلامیو له لارې خپله پاچاهي او د هیواد د خپلواکي په اړه خپلې موخې او تګلارې د افغانستان خلکو ته داسې څرګندې کړې:

«ای د افغانستان معظم ملته! د پلار د شهادت پر وخت په کابل کې د سلطنت وکیل وم او اوس مې

د خدای (ج) په توکل او د هغه پر رسۍ باندې د منګولو لګولو له کبله د امانت دروند پېټی په غاړه واخیست. کله چې زما لوی ملت د شاهي تاج زما پر سر کېښود، نو ژمنه مې وکړه چې باید د افغانستان دولت د نړۍ د نورو خپلواکو هېوادونو په څېر په دننه او بهر کې یو خپلواک هېواد وي. د افغانستان ملت د هېواد په دننه کې بشپړه خپلواکي ولري او له هر ډول ظلم او تیري څخه خوندي او خلک باید یوازې د قانون منونکي وي او بس. بیګار او اجباري کارونه په ټولو برخو کې منع او لغوه دي، زموږ حکومت به داسې اصلاحات پلي کړي چې ملت او هېواد مو وکړای شي چې د نړۍ د پرمختللو هېوادونو په منځ کې مناسب ځای او خپل مقام تر لاسه کړي. زه به د هېواد د چارو د سرته رسولو په برخه کې مشوره د شا ورهم في الامر د حکم په اساس خپله لار ښود وګرځوم». ای ګرانه ملته او تمیز لرونکي قومه! د خپل دین، دولت او ملت په ساتنه کې ویښ او د هېواد د ناموس په ساتنه کې هوښیار اوسئ. زه له خدای ﷻ څخه ستاسې، اهل اسلام او ټولو انسانانو لپاره خیر او نېکمرغي غواړم.»

امان الله خان د خپلواکۍ د ګټلو په موخه جهاد اعلان کړ، د هېواد مختلفې طبقې د دې موخې د اطمناني کولو لپاره متحدې او د ۱۹۱۹ زېږدیز کال د اپریل په دیارلسمه د شاه امان الله خان تر مشرۍ لاندې د خپلواکۍ اعلان وکړ.

امان الله خان انګلیسانو ته د افغانستان د خپلواکۍ خبر ورکړ، دا چې د برتانیې دولت دې ته حاضر نه و، چې له خپل استعماري نفوذ څخه تېر شي او د افغانستان خپلواکي په رسمیت وپېژني، په ځواب کې یې یوازې د پلار د مړینې تسلیت ور ولېږه او د خپلواکۍ هیڅ یادونه یې ونه کړه.



د دارالامان ماڼۍ

امان الله خان د دې لپاره چې د افغانستان د خپلواکۍ د رسمیت پېژندنې موضوع پلي کړي، افغاني پوځیان یې د برتانوي هند د پولې مختلفو برخو ته ولېږل او ځای پر ځای یې کړل او د افغانستان د سیاسي خپلواکۍ لپاره د افغان او انګلیس درېیمه جګړه پیل کړه.
د افغاني قواوو سوقیات د هېواد په درېو جبهو (خیبر، پکتیا او کندهار) کې پیل شول.

## الف: د راولپنډۍ د سولې مذاکره د اګست ۱۸ - ۱۹۱۹ ز کال

د افغانستان سره له جګړې وروسته انګلیسانو دا غوره وګڼله چې د افغانستان دولت سره خپلې اړیکي ښې کړي او مسئلې دخبرواترو له لارې حل کړي، ځکه نو د حکومتونو ترمنځ تر یو شمېر لیکونو وروسته د سولې یو هیئت د علي احمد خان په مشرۍ راولپنډۍ ته روان شو او د برېتانیې د هیئت له رئیس سرګرانټ Sir Grant سره یې په کنفرانس کې ولیدل او وروسته له څو غونډو په پای کې د دواړو دولتونو له خوا د سولې پنځه ماده ییزه معاهده لاسلیک شوه. علي احمد خان په دغه لاسلیک کې تېروته او د سولې تړون د انګلیسانو په ګټه او د افغانستان په زیان لاسلیک شو.

## ب: د مونسوري مذاکره ۱۹۲۰ زیږدیز کال:

څرنګه چې د راولپنډۍ د سولې کنفرانس د افغانستان په زیان لاسلیک شوی و، د افغانستان حکومت د برتانیې له حکومت سره د دویم ځل لپاره د مساوي حقوقو پر بنسټ د یوې معاهدې غوښتنه وکړه، په پای کې د ۱۹۲۰ ز کال د مارچ په ۹ مه انګلیسي دولت له امیر څخه غوښتنه وکړه چې یو افغاني هیئت منسوري ته راولېږي. افغاني هیئت د محمود طرزی په ریاست د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر، او د برېتانیې له استازي سره خپلې غونډې پیل کړې، نوموړي کنفرانس څه کم درې میاشتې دوام وکړ، پایله یې ور نه کړه او افغاني هیئت تر سترو او اوږدو مذاکراتو وروسته بې له دې چې قرارداد لاسلیک کړی وي، کابل ته راستون شو.

انګلیسانو ولیدل چې افغانستان له نورو هېوادونو سره ډیپلوماتیکې اړیکې پیل کړي دي، ددې په لټه کې شو تر څو افغانستان ته هیئت ولېږي او خبرې بیا پیل کړي.

## ج: د کابل معاهده د نوامبر ۲۲ - ۱۹۲۱ زیږدیز کال:

برتانوي هیئت د سرهزي دابس په مشرۍ کابل ته راغی او خپلې خبرې یې د افغانستان د بهرنیو چارو له وزیر محمود طرزي سره پیل کړې. خبرې څه کم یو ولس میاشتې اوږدې شوې، څرنګه چې د دواړو خواوو غوښتنې یو له بل سره په تقابل کې وې، نږدې و چې یوولس میاشتنۍ اوږدې خبرې قطع

شي. په پای کې د کابل معاهده د نوامبر په ۲۲ مه په ۱۹۲۱ ز کال کې لاسلیک شوه او د انګلیس دولت د افغانستان خپلواکي تصدیق او په رسمیت وپیژندله. دواړو دولتونو یو بل ته د سفیرانو په لیږلو کابل او لندن ته موافقه وکړه.

په افغانستان کې د یوه خپلواکه دولت جوړېدل په بهرني سیاست کې د انګلیسانو په استعماري موضوع باندې په منځني او نږدې ختیځ کې مرګوني ګوزارونه او د آسیا استعماري ضد روند کې یې ډېر ژور اثرات درلودل.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د امان الله خان د اعلامیو په اړه او دویمه ډله دې د افغانستان د خپلواکۍ د بیا تر لاسه کولو د څرنګوالي په اړه یو له بل سره خبرې وکړي.

## پوښتنې

۱- امیر حبیب الله خان څه وخت او چېرته ووژل شو؟

۲- کوم لاملونه وو چې نصرالله خان یې د سلطنت له ادعا څخه لاس په سر کړ او شاه امان الله خان ته یې د قدرت د رسېدو لار هواره کړه؟

۳- د شاه امان الله خان د اعلامیو په برخه کې لنډ معلومات ورکړئ.

## له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې د خپلو ښوونکو په مرسته د امان الله خان دشخصیت په اړه معلومات تر لاسه او هغه دې په ټولګي کې نورو ټولګیوالو ته ووایي.

# د هیواد د خپلواکۍ دريځوني مورچلونه

په دې لوست کې به د افغانستان د خپلواکۍ د بیالاسته راوړنې، د درېګونو مورچلونو ارزښت چې د انګلیسانو د ماتې او متارکې لامل شو، معلومات ترلاسه کړې.

مخکې تر دې چې د انګریزانو په وړاندې د خپلواکۍ د جګړې د دریو لویو مورچلونو یادونه وکړو، د یوه مطلب څرګندونه اړینه ده او هغه دا چې د هیواد خپلواکي یوازې د خپلواکۍ د جګړې په همدې دریو مورچلونو پورې رانلډه نه کړو، د انګریزانو په وړاندې د خپلواکۍ د جګړې لپاره د هیواد هره سیمه د خپلواکۍ ساتلو سنګراو د دفاع مورچل جوړ شوی و. د هیواد هره برخه او هر ګوټ د انګریزانو په وړاندې د هغوی د ځپلو سنګر ګرځیدلی و. خو بر بنډه ماته او پریکنده ګوزار د هغو افغان شازلمو په توره وشو چې د اماني دولت له خوا یې په دریو مورچلونو کې ځارنه او پالنه کوله.

اماني دولت د خپلې واکمنۍ له پیله په هند کې انګریزي واکمنانو ته وښوده چې د افغانستان نوی دولت د پخوانیو تړونونو لاندې د اړیکو دوام نه غواړي او په ځانګړې توګه د اعلیحضرت امان ا لله خان له خوا د مارچ د میاشتې په دریمه نیټه په هند کې انګلیسي نائیب الحکومه لارد چلسفورد ته یو لیک ولیږل شو او په لیک کې غوښتنه و شوه چې د دواړو هیوادونو تر منځ د ۱۹۰۵ زیږدیز کال پر تړون باید

له سره غور وشي او د افغانستان خپلواکي د انګلیسانو له خوا ومنل شي. اماني دولت بې له دې چې د انګلیسي لوري ځواب ته انتظار وباسي، ورسره سم يې د نړۍ د يوشمير هيوادونو او له هغې ډلې هيوادونو څخه د نوي جوړ شوي شوروي دولت سره د ديپلوماتيکو اړيکو لپاره او هم يې د شوروي له لارې ديو شمير اروپايي هيوادونو سره د اړيکو دتا مين هڅې پيل کړې. د دې تر څنګ يې له انګليسانو سره د خپلواکۍ د جګړې لپاره تيارۍ او چمتووالی ونيوه. په دې ترڅ کې له هيواد څخه د دفاع شورا جوړه او پر دښمن يې د غوڅو بريدونو لپاره درې ستر مورچلونه (د هيواد څخه د دفاع ختيځ، سهيلي او سهيل لويديځ مورچل) جوړ او د همدې مورچلونو د لارښونې لپاره يې دولتي کسان وګمارل.

**ختيځ مورچل**: د اماني دولت د واکمنۍ له پيل سره جوخت د هيواد د خپلواکۍ تر لاسه کولو لپاره هڅو جريان درلود، خو د اپريل په مياشت کې د افغاني ځواکونو منظمې او پر له پسې هڅې غښتلې او ګړندۍ شوې. د افغاني ځواکونو لومړنی خوځښت د هيواد د ختيځ مورچل په لور هلته تر سره شو چې سپهسالار صالح محمد خان چې له خپلو منظمو ځواکونو سره جلال آباد ته ورسيد ورسره سم د سيمې ولسي ځواکونه او د خپلواکۍ جګړې لپاره سر سپارونکو زلمو د انګليسانو په وړاندې جګړې ته خپل تيارۍ ځرګنده کړ.

د هيواد په ختيځ مورچل کې جګړه د می د مياشتې په دريمه نيټه د افغاني ځواکونو په يوه ناڅاپي يرغل پيل شوه. دا بريد دومره ځواکمن او ګړندۍ و چې د انګليسي لښکرو په منځ کې يې د ويرې او ډار فضا واکمنه کړه. افغاني ځواکونو د يوې اونۍ جګړو په ترڅ کې انګليسي پوځيان د ننګرهار له څنډو نه تر پيښوره داسې وځپل چې د بيا راګرځيدلو توان پکې پاتې نه شو. په ډهلي او لندن کې د انګليس نظاميانو او سياسيتوالو د افغانانو دا ناڅاپي بريد او پرله پسې برۍ په اسيا کې خپلو ګټو ته ستر تهديد او ماتې وګڼله، نو ځکه يې په متقابل بريد لاس پورې کړ او په خپل ټول توان يې له هوايي او ځمکنيو ځواکونو څخه ګټه واخيستله او پرله پسې درنې هوايي بمبارۍ يې تر سره کړې، له يوې خوايې د خپلو ماتې خوړلو ځواکونو موړال لوړ کړ او له بلې خوا يې د افغاني ځواکونو د پر له پسې بريدونو مخه په درنو بمباريو سره ونيوله او د تورخم تر پولې شاتګ ته يې اړويستل چې له يوې خوا يې د لوژستيکي اړينو توکو د رسيدو مخه ونيول شوه او له بلې خوايې د کابل او جلال اباد ښارونه تر داسې هوايي بمباريو لاندې راوستل چې بې شمېره

ولسي خلک سپين ږيري او ماشومان يې په شهادت ورسول. دا هوايي حملې دومره زياتې پر له پسې او درنې وې چې د اماني دولت يوشمير لوړ پوړو کسانو له کابل څخه يوه مصؤن ځای ته د مرکز د ليږلو غوښتنه وکړه، خو اعليحضرت امان الله خان دا وړانديز ونه مانه او د جگړې لارښونه يې له همدې کابل ښار څخه د بري تر وروستيو شيبو په غاړه واخيستله.

**سويلي مورچل**: د اماني دولت له پريکړې سره سم سپه سالار محمد نادرخان له خپلو منظمو ځواکونو سره د اپريل پر ۲٤ مه نېټه گرديز ته ورسيد. په گرديزکې داوطلب ځوانان د نادر خان له ځواکونو سره يو ځای شول. محمد نادر خان په گرديز کې د ځواکونو د تنظيم او تر تيب په نيت د دوو اونيو لپاره پاتې شو. دمې مياشتې په ۱٤ مې نېټې په ټوله پکتيا کې د خپلواکۍ اخيستلو نغاره ووهل شوه او افغاني قوتونو د انگريز لښکرو ته داسې پرله پسې ماتې ورکړه چې انگريزانو يو په بل پسې خپل عسکر کوټونه له لاسه ورکول. افغاني ځواکونه د ټل او وانې تر سيمو پورې د انگريزانو ټولې تانې تر لاسه کړې، خو هغه غوڅ او هر اړخيزه بريد چې د مۍ مياشتې په ۲٦ مه نېټه تر سره شو، نور نو غليم ته توان پاتې نه شواو ناهيلې شو، ځکه يې د جون مياشتې په دريمه نېټه له اماني دولت سره د متارکې او اور بند غوښتنه وکړه.

**سويل لويديځ مورچل**: د هيواد د خپلواکۍ د سهيل لويديځ مورچل چارې د سردار عبدالقدوس خان اعتماد الدوله په مشرۍ په مخ تللې. د سهيل لويديځې حوزې د بېلا بېلو سيمو اوسيدونکي د تيارسی په حال کې د مرکز امر ته سترگې په لار ولاړوو. اعتمادالدوله له کابل څخه د کندهار په لور، د وتلو پر مهال يو څو دگوتو په شمار کسان ورسره ملگري وو، خو د وردگو, ميدان او غزني تر سيمو پورې د اعتمادالدوله د لښکرو شمير تر زرگونو کسانو زيات شو. کله چې اعتمادالدوله کندهار ته ورسيد، د زرگونو داوطلبو ځوانانو په گډون سره يې شمير لسگونوزروکسانو ته ورسيد.

په کندهار کې د ځواکونو ترتيب او تياری لا نه و بشپړه شوی چې د انگريزي پوځيانو له لوري په يوه ناڅاپي بريد کې د سپين بولدک او پښين يو شمير افغاني ساتندويان تر حملې لاندې راغلل او په يوه نابرابره جگړه کې افغاني ساتندويان په شهادت ورسيدل، د دې خبر په خپريدو سره د کندهار اوسيدونکو پر انگريزانو د بريد چارې دومره گړندۍ شوې چې سردار عبدالقدوس خان اعتمادالدوله

ته يې د ځواکونو د سمون او تنظيم وخت ورنه کړ او بې له ځنډه يې د مى د مياشتې په ۲٦ مه نېټه د انګرېزانو پر لښکرو بريد پيل کړ، خو انګرېزي پوځيانو پخوا تر دې چې د افغانانو د توري شرنګ ته ځانونه ټينګ کړي لا يې پخوا پښې د خپلو عسکرکوټونو څخه سپکې کړې وې، افغاني ځواکونو د انګرېزانو پاخه سنګرونه يوپه بل پسې تر خپل واک لاندې راوستل او تر کوېټې ښاره يې سيمه د غليم له واک او ځواکه پاکه کړه. کله چې افغانان کوېټې ښار ته ورسيدل، نو انګرېزانو اماني دولت ته د متارکې او اور بندخواست وکړ او د دولتونو تر منځ د جون د مياشتې پر دريمه نېټه داوربند خبر خپور شو چې ورسره سم د انګرېزانو له خوا د افغانستان د خپلواکۍ د منلو ډيپلوماتيک بهير پيل شو.

## په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په دوه ډلو وېشل شي، لومړۍ ډله دې د درېګونو مورچلونو په اړه او دويمه ډله دې د افغانستان په اړوند د انګرېزانو پاليسي بيان کړي.

## پوښتنې

۱- د محمد نادر خان ونډه د پکتيا په محاذ کې څرګنه ارزوئ.

۲- صالح محمد خان په کوم مورچل کې ګمارل شوی و او څه لاسته راوړنې يې درلودې؟

۳- د ټل کلا څرګنه فتح شوه؟

## له ټولګي څخه د باندې فعاليت

زده کوونکي دې د منابعو او ماخذو په لرلو سره د درېګونو مورچلونو د پايلو په اړه معلومات تر لاسه او بيا دې په ټولګي کې ووايي.

# اصلاحات ۱۹۲۱- ۱۹۲۸ زیږدیز



محمود طرزي

اصلاحات او هغه ستري کړني چې د امير امان الله خان دولت ترسره کړې، په دې لوست کې به ور سره پیژندګلوي تر لاسه کړئ.

په ۱۹۱۹ز کال کې چې د ۱۲۹۸ لمریز سره سمون لري، د یوې لویې تاریخي پیښې په توګه د افغانستان د سیاسي خپلواکۍ لاس ته راوړنې د هیواد په وروستیو ټولنیزو او اقتصادي پروسو کې ژوري اغیزې درلودې. افغانستان یوې نوې مرحلې ته داخل شو، له دې امله چې شاه امان الله د خلکو په منځ کې محبوبیت درلود، د هغوی په ملاتړ یې ډیر مهم بدلونونه رامنځ ته کړل. دغه اصلاحات او بدلونونه په دوو مرحلو کې ترسره شول. لومړنۍ مرحله چې تر ۱۹۱۹- ۱۹۲۴ز کلونو پورې یې دوام وکړ. د افغانستان خلک چې د پرمختګ غوښتونکي وو. له دولت سره ودریدل او ټولو نویو اصلاحاتو ته هرکلی ووایه. د اصلاحاتو دویمه مرحله چې له ۱۹۲۴ کال څخه پیل شوه چې د اماني دولت تر پای یې دوام وکړ، خو د یوشمیر کورنیو او بهرنیو عواملو له امله یې عملي بڼه پیدا نه کړه. شاه امان الله خان غوښتل چې ډیر ژر د خپلو تګ لارو او اصلاحي پروګرامونو له لارې د ښکلو، قصرونو، مجللو او زړه راښکونکو ودانیو، پارکونو، تفریح ځایونو، لویو فابریکو په جوړولو لاس پورې

کړي او صحتمنده وګړي ولري چې له نوي فرهنګ او تمدن سره آشنايي ولري، په همدغه هيله يې له دغو کارونو سره ډېره مينه درلوده، پرته له دې چې د ټولنې فرهنګي حالت په پام کې ونيسي، د دغو کارونو په ترسره کولو کې يې له بيړې کار واخيست چې په پای کې يې ناوړې پايلې له ځانه سره درلودې.
د لومړۍ دورې له مهمو اصلاحاتو څخه يو هم د افغانستان د اساسي قانون تصويب و چې د ۱۹۲۳ ز کال د لويې جرګې په ترخ کې چې په جلال آباد کې جوړه شوې وه او ۸۸۲ کسو په کې ګډون کړی وو چې وروسته دا قانون د پغمان په لويه جرګه کې د ۱۹۲۴ ز کال د چنګاښ په مياشت کې تائيد او توشيح شو.
اساسي قانون چې د امان الله خان په اصلاحاتو کې لومړنی ګام ګڼل کيږي، د ډېرو ځمکو لرونکو له ګټو سره په ټکر کې و. شاهي مشروطه نظام يې تثبيت کړ. ډېر مهم اصلاحات يې په اقتصادي برخه کې رامنځته کړل. څرنګه چې له انګليسانو سره د ۱۹۱۹ ز کال د خپلواکۍ په جګړې کې د هيواد پانګه په بشپړه توګه تشه شوې وه، اړينه وه چې د روپيو زيرمې چې پرته له هغې په هيواد کې يو بدلون هم ناشونی و، رامنځ ته شي. له همدې امله شاه امان الله خان د مالي او اداري اصلاحاتو چارې پيل کړې.

## مالي او اقتصادي چارې

شاه امان الله خان د اصلاحاتو د تطبيق په لومړي پړاو کې له ستونزو سره مخامخ نشو. نومړي پر خلکو د مالياتو فشار رالږ کړ. له ځمکې څخه د جنس ماليه يې په نقدې ماليه بدله کړه او ټولو خلکو پرته د خان او ملک له سپارښتنې نيغ په نيغه له مالي دفترو سره اړيکې پيدا کړې. د څارويو د ماليې د ورکړې لپاره د څارويو محصول په نامه قانون رامنځ ته شو.
د مالي ادارو د تنظيم لپاره په کابل کې د (دفتري اصولو) په نامه ښوونځی جوړ شو چې فارغان يې د ماليې د مامورينو په توګه په هيواد کې مقرر شول او د دولت زړې حسابي چارې يې په عصري سيستم بدلې کړې. د حاکمانو په نامه ښوونځی په مرکز کې جوړ او فارغان يې په سيمه ييزو حکومتونو کې پر دندو وګومارل شول. سوداګري هم پراخه شوه. د داخلي ګمرکي تعرفو ډېروالی لغو شو او د دې اصلاحاتو د پايلو له امله پانګې وده وکړه. د سوداګريزو معاملاتو شرعي محاکم رامنځ ته شول او د سوداګرۍ، سوداګريز شرکتونه په کابل کې جوړ شول.
اماني دولت د فابريکو او اوسپنو د پټليو جوړولو په هڅه کې شو او له دوو جرمني او فرانسوي شرکتونو سره قرارداد وشو چې له مخې يې په لسو کلونو کې له سهيله د افغانستان شمال ته د اوسپنې پټلۍ جوړيده. له مرکزه ولايتونو ته د تيليګراف او د تيليفون د لينونو د غځولو کار پيل شو. په پغمان، جلال آباد او

کندهار کې د سټېشنونو د جوړولو کار پیل شو. د موټر او بیارغاولو، صابون او عطرو، ټوکر جوړونې، پنبې او غوړ ایستلو نجارۍ، فابریکې په کندهار، هرات او مزارشریف کې جوړې شوې. د کابل، مزارشریف، شوروي، ایران او ترکیې ترمنځ هوایي پوستې په پام کې ونیول شوې. د غازي او سراج بند په غزني کې بشپړ شول. د بدخشان د لاجوردو او هرات د نفتو په برخه کې یوه فابریکه او د اوسپنې د ویلې کولو، ګوګړو، سربو، ابرک، تباشیرو او نورو په برخه کې پروګرامونه په پام کې ونیول شول. د دغــو اصلاحاتــو په پایله کې د دولت عایدات د تیر په پرتله له دوه چنده پورته شــول او په کا ل کې له ۸۰ میلیون روپیو څخه ۱۸۰ میلیون روپیو ته ورسیدل. د وزنونو لپاره میټریک سیستم رامنځ ته شو. افغاني پولي واحد له روپۍ څخه په افغانۍ ونومول شو.

## اداره

دولت له هرڅه نه ډېره د افغانستان ملي وحدت او ثبات ته پاملرنه وکړه او دغه ملي وحدت وروروليٰ د افغانستان د خلکو پر مساوي حقوقو ولاړه وه. د اساسي قانون د اتمې مادې سره سم ټول هغه خلک چې په افغانستان کې ژوند کوي، پرته له دیني او مذهبي مسایلو د افغانستان تبعه ګڼل کیږي په مذهبي او دیني چاروکې، د دولت سیاسي نظام مکلف و چې دوګړو له شخصي آزادیو څخه پالنه وکړي او هیڅوک هم پرته له شرعي مجوز قانون څخه توقیف او مجازات کیدای نه شي، د تبعیض او تفریق مسئله د(مذهب، توکم او قبیله) له نظره له مینځ یووړل شوه او ټول ملت ته برابر حقوق ورکول شول. د دولت دستګاه هم پر دریو اجرائیه، مقننه او قضائیه قواوو باندې ودریده. اماني دولت د هیواد د حریم د ژغورنې لپاره هوایي ځواک جوړ کړ چې (۱۱) الوتکې یې درلودې او ٦۵ کسه زده کوونکي د دغې څانګې د زده کړې لپاره روسیې، فرانسې او ایټالیې ته واستول شول. یوشمیر نور د پوځي زده کړو لپاره روسیې او ترکیې ته ولیږل شول. د کابل حربي فابریکه پیاوړې شوه. جګړییز مهمات، لکه: دافع هوا توپونه او زري پوش موټرې په پوځ کې داخلې شوې. په کابل کې د رادیو اداره جوړه شوه او ښار په برېښنا روښانه شو. د روغتیا په برخه کې په کابل او ولایتونو کې ملکي او پوځي روغتونونه جوړ او په مرکز کې د ښځو روغتون او په پغمان کې سناتوریم جوړ شو. د اکسرې ماشینونه کابل ته وارد شول او د دارالمجانین او دارالایتام د جوړلو کار پیل شو.

## معارف او کلتوري چارې

د اساسي قانون له ٦۸ مې مادې سره سم د لیک لوست زده کړې وړیا او اجباري شوې. ډېر شمیر ښوونځي په مرکز او ولایتونو کې جوړ شول. په پایتخت کې د حبیبیې پر لیسې سربیره اماني لیسه

جوړه شوه. لومړنۍ د فرانسويانو او دويمه يې د جرمنيانو په مرسته منځ ته راغله.

همدارنګه په مرکز او ولايتونو کې ۳۲۲ ښوونځي او يو دارالمعلمين په هرات کې جوړ شو چې تر ۱۹۲۷ کال پورې يې د زده کوونکو شمير ۵۱ زرو کسو ته ورسيد. په ثانوي او مسلکي برخو کې دري زره زده کوونکو زده کړه کوله. په سلګونو محصلين شوروي اتحاد، جرمني، فرانسې، ايټاليې او ترکيې ته د زده کړو لپاره واستول شول. همدارنګه يوه ملي کتابخانه جوړه شوه چې نن ورځ د عامه کتابتون په نامه يادېږي. د دې کارونو ترڅنګ يوه سينما د کابل په ښار او يو تياتر په پغمان کې جوړ شو او ديارلس مجلې او جريدې د دولت په لګښت په کابل او ولايتونو کې نشر شوې، لکه ارشاد النسوان، اتحاد مشرقي، روزنامه افغان، معارف مجله، امان افغان، بيداری، د حقيقت ورځپاڼه او نور... مطبوعات او داخلي ورځپاڼې آزادې شوي او د شخصي جريدو او ورځپاڼو د چاپ لپاره زمينه برابره شوه چې د بېلګې په توګه کولای شو چې انيس، نسيم سحر او د نورو نومونه ياد کړو.

## په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو وويشل شي. لومړۍ ډله دې د شاه امان الله خان د مالي او اقتصادي اصلاحاتو په اړه او دويمه ډله دې د نوموړي د اداري اصلاحاتو په اړه په خپلو کې خبرې وکړي.

## پوښتنې

۱. د امان الله خان اصلاحاتو څو مرحلې درلودې؟ هره مرحله يې د سني په يادونې سره وواياست.
۲. د افغانستان لومړنی اساسي قانون په کوم کال او چيرته تصويب شو؟
۳. شاه امان الله خان د کومې موخې لپاره اصلاحات پيل کړل؟
۴. د اداري جوړښت له مخې اماني دولت پر کومو قواوو ولاړ و؟
۵. امان الله خان د معارف په برخه کې کوم کارونه ترسره کړل، لنډ يې وواياست.

## له ټولګي څخه د باندې فعاليت

زده کوونکي دې د شاه امان الله خان د کلتوري اصلاحاتو په اړه معلومات تر لاسه او بيا دې په ټولګي کې ووايي.

# د غازي شاه امان الله خان اروپايي سفر (۱۹۲۷ ز – ۱۳۰۶ لمريز)



د شاه امان الله خان د سفر اړتيا، د سفر پايلې، د سفر په وړاندې غبرګونونه او د شاه له اوږد غيابت څخه د يو شمير فرصت طلبو کړيو ګټه اخيستنه، دا هغه مفاهيم دي چې په دې لوست کې به ورسره آشنا شئ.

غازي امان الله خان په (۱۳۰۵ لمريز) کال د وزيرانو د شورا په عالي مجلس کې د افغانستان د پرمختګ لپاره د نويو آلاتو او وسايلو کمی تر بحث لاندې ونيوه او ويې ويل چې بايد د ښوونې او روزنې، مطبوعاتو، رغونې، د نويو مخابراتو، صنعت او د افغانستان د کرنې د پرمختګ په برخه کې له اروپايي هېوادونو څخه ډېر لوی سامان آلات خريداري او تهيه کړای شي. او ددې کار لپاره بايد مسلکي او کارپوه خلک انتخاب او په مناسب وخت کې اروپا ته ولېږل شي. د وزيرانو مجلس دا تصويب کړه چې ددغو ټولو علمي او فني موخو د لاس ته راوړلو لپاره دې په خپله غازي پاچا ددغه هيئت مشري پر غاړه واخلي، ځکه چې هغه په خپله د پوهنې او ړون اندی ډېر لوی غوښتونکی و. څرنګه چې له (۱۳۰۱ لمريز) کال څخه وروسته د ځينو هېوادونو له خوا ځينې رسمي بلنليکونه راغلي وو چې پاچا دې د هغوی له هېوادونو څخه ليدنه وکړي، همدا و چې امان الله خان د ملکې ثريا او د دولت د عالي رتبه غړيو سره اروپا ته روان شو او د ۱۹۲۷ زيږديز کال د (۱۳۰۶لمريز) کال مطابق د ليندۍ د مياشتې په لومړيو کې په کابل کې تر خدای پامانی وروسته يې د کندهار لوري ته حرکت وکړ او په کندهار کې

يې د خلکو تر تاوده هرکلي وروسته د چمن لوري ته مخه وکړه او وروسته د کویټې له لارې کراچۍ ته ورسېد او په نوموړو ښارونو کې یې تر تودو هر کلیو ورسته د هوایي ډګر او د الوتکو د ترمیم د فابریکې تر لیدلو بیا د رسمي پروګرام سره سم د بمبۍ بندر ته روان شو. که څه هم په خپله له ترکي او فرانسوي ژبو سره بلد و، سره له دې هم یو شمېر ژباړونکي ور سره وو او همدارنګه په بهر کې د ټاکلي پروګرام د لرلو له امله افغاني سفیرانو او استازیو ته کومه ستونزه پیدا نه شوه. بمبۍ ته په رسېدو افغانان او هندوانو د هغه د هر کلي لپاره د سرک دواړو لوریو ته کتارونه جوړ کړي وو او له تودو ولولو سره چې (ژوندی دې وي غازي پاچا) استقبال شو. خلکو داسې احساسات وښودل چې انګلیسان یې سخت ووېرول او دا له دې امله چې امان الله خان په اسلامي نړۍ کې له څومره ګرانښت څخه برخمن دی او غازی پاچا هم په خپلو ټولو ویناوو کې د هند او نورو محرومو ملتونو د خپلواکۍ خبرې کولې. په هند کې د خپلې پاتې کېدنې پر وخت د هغه هېواد خلکو ته داسې وویل: »خپلواکي نه ورکول کېږي، بلکې د تورې په زور تر لاسه کېږي« د هند د مشرانو او ټولنو تر لیدلو وروسته، امان الله خان عدن او له هغه ځایه مصر ته سفر وکړ چې د مصر د پاچا لومړني فواد او خلکو له خوا یې هر کلی وشو، د هغه هېواد د تاریخي آبداتو تر لیدنې وروسته اسکندریې ته ولاړ او د مدیترانې د بحیرې له لارې ایټالیې ته روان شو. په ایټالیې کې د پاچا ویکتور امانویل، ملکې او ولیعهد له خوا یې تود هر کلی وشو. د ایټالیې پاچا په خپلې وینا کې د امان الله خان نه ستړي کېدونکي کارونو سرته رسول وستایل او له افغانستان سره د ښو اړیکو غوښتونکی شو، شاه او هئیت له ایټالیا څخه فرانسې ته مخه وکړه. په فرانسې کې جمهور رئیس ورته تود هر کلی وکړ او په هغه ځای کې د خوښې وړ موضوعګانو، لکه: د الوتکو، ټوپکو، مهماتو، په فرانسه کې د افغاني زده کوونکو د تحصیل، د استقلال لېسې ته د فرانسوي لایقو ښوونکو د راتګ، د لرغون پوهنې په برخه کې د فرانسې همکاري او په نورو علمي او تخنیکي اړتیاوو خبرې اترې او موافقه وشوه او هم د فرانسې له دولت څخه غوښتنه وشوه تر څو په کابل کې یو موزیم په فرانسوي سلیقه جوړ شي. په فرانسه کې تر ټولو لوی ویاړ چې امان الله خان تر لاسه کړ دا و چې د پاریس ښاروال د هغه په برخه کې وویل »ستاسې له شان سره سمه ډالۍ نه لرو چې تاسې ته یې وړاندې کړو، د پاریس ښار ستاسې چوپړ ته وړاندې کوم« او بله دا چې د ناپیلیون چپرکټ یې د امان الله خان د استراحت لپاره ورکړ. امان الله خان له هغه ځایه بروکسل، بلژیک او سویس ته سفر وکړ او وروسته آلمان ته روان شو او هلته یې د آلمان جمهور رئیس (فون هنون بورګ) او دولتي چارواکو هر کلی وکړ او همدارنګه په آلمان کې د افغانستان د خپلواکۍ لسمه کالیزه ونماځل شوه او یوه څرخي الوتکه د آلمان د دولت له خوا امان الله خان ته ډالۍ شوه. د آلمان

تر سفر وروسته امان الله خان انګلستان ته ولاړ او هلته يې د انګليستان د پاچا (پنځم جارج) او ملکې له خوا هر کلی وشو، هلته يې د هغه ځای هوايي ځواک ولید، همدارنګه يې د آکسفورډ له پوهنتون او ځينو نورو ځايونو څخه ليدنه وکړه. د آکسفورډ پوهنتون له خوا ورته د حقوقو افتخاري دکتورا ورکړل شوه. دا لومړنی افغاني شخصيت و چې د حقوقو په افتخاري دکتورا وویاړل شو. د انګلستان تر سفر وروسته امان الله خان شوروي روسيې ته سفر وکړ او انګليستان د امان الله خان له دې سفر سره مخالف وو، ددې لپاره چې امان الله خان له روسيې سره دوستانه اړيکې ونه لري. شاه امان الله خان ته په وروسيه کې د جمهور رئيس (کالينن) او نورو لوړو دولتي چارواکو له خوا تو د هر کلی وشو او دا لومړنی افغاني اتل و چې په شوروي روسيه کې يې ښه هر کلي وشو. د دغه سفر په پايله کې يو لړ سياسي، کلتوري او اقتصادي معاهدې لاسليک شوې.

وروسته امان الله خان ترکيې ته روان شو، په ترکيه کې د ترکيې د جمهور رئيس مصطفی کما ل (اتاترک) او د ترکيې د صدراعظم عصمت انيونو او نورو دولتي غړيو له خوا يې هر کلی وشو. په دې سفر کې دواړه هېوادونه د دوستۍ د ټينګښت، سياسي، سوداګريز او کلتوري اړيکو غوښتونکي شول. امان الله خان د آسيايي او اروپايي يوو لسو هېوادونو تر ليدنې وروسته ايران ته مخه وکړه او هلته يې د رضا شاه پهلوي له خوا تود هر کلی وشو. شاه او د ايران ملت د امان الله خان هغو کارنامو ته چې د ۹ کالو واکمنۍ په موده کې يې تر سره کړې وې، په درنه سترګه کتل، هلته د دواړو هېوادونو ترمنځ معاهدې لاسليک شوې. همدارنګه هغه سرحدي ستونزې چې د ترکيې او ايران ترمنځ وې، د هغه په زيار او هڅه حل شوې، پاچا د ايران تر سفر وروسته افغانستان ته راستون شو.

د افغانستان لپاره د امان الله خان د دوو اسلامي هېوادونو (ايران او ترکيې) او اروپايي هېوادونو څخه ليدنې ډېر اهميت درلود. په پايله کې دافغانستان موقف ټينګ او نړيوا ل اعتماد يې لوړ شو. د اروپايي او آسيايي هېوادونو له مشرانو سره د هغه اړيکې ددې ښکارندوی وې چې افغانستان د يو خپلواک هيواد په توګه کولای شي چې د نړۍ له ټولو هېوادونو سره د برابرۍ او متقابل احترام پر بنسټ اړيکې ټينګې کړي.

له شوروي اتحاد څخه د امان الله خان ليدنې او له ترکيې او ايران سره تړونونو دا ښکاره کړه چې په افغانستان کې دا نګليسانو بيا اغېز له خاورو سره خاورې شو، هغه په دې سفر کې په دې بريالی شو چې له افغانستان سره د ځينو اروپايي هېوادونو پراخه اقتصادي مرستې را جلب کړي.

ملکه ثریا د امیر امان الله خان میرمن او د هیواد د نامتو ښځو څخه په دې سفر کې له امان الله خان سره ګډون درلود. ملکه ثریا د محمود طرزي دریمه لور وه چې یوه پوهه، عالمه، فاضله او علم پلوه میرمن وه. دغې نامتو مېرمنې په **۱۲۹۳**لمریز کال د شهزاده امان الله خان سره واده وکړ. ملکه ثریا د امیر امان الله خان له مشوقینو څخه د نوي فرهنګ او تمدن په خپریدو، د ښځو د حقوقو د تامینولو او د هیواد د ترقی او پرمختګ په برخه کې وه. یوه فرانسوی خبرنګاره او د هوهلو مجلې استازي د امیر امان الله خان د اقامت په وخت په فرانسې کې د ملکې ثریا سره مرکه او لیدنه وکړه او ددې په اړوند یې داسې ولیکل:)) ماد نړۍ د ډیرو ملکو او لومړۍ درجو ښځو سره مرکې کړي خو په دې متانت، ذهانت د ملکې ثریا غوندې ښځې مې لږې لیدلې دي. د دې مرکې څخه ماته ثابته شوه چې د افغانستان خاوره چې داسې ملکه روزلی شي، ډیر ژر ترقي، وده او د نړۍ له نورو هیوادونو سره سیالي کولی شي)).

د شاه امان الله خان سفر شپږ میاشتې اوږد شو، دې سفر له یوې خوا ښې پایلې درلودې، خو له بل لوري یې د پاچا د اوږد مهاله نه شتون له امله د هېواد امنیت او اداره د ګډوډولو لوري ته نږدې کړه او د دښمن د پلانونو د تطبیق لپاره یې زمینه مساعده کړه، همدا علت و چې دغه کار ناوړه او ډېرې زیانمنوونکې پایلې له ځان سره راوړې.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو وویشل شي. لومړۍ ډله دې اروپا ته د امان الله خان د سفر پر علتونو او دویمه ډله دې د سفر په لاس ته راوړنو یو له بله سره خبرې وکړي.

## پوښتنې

۱- د شاه امان الله خان اروپایي سفر څو میاشتې او کومو هیوادونو ته وه؟

۲- په هند کې د امان الله خان د هرکلي په برخه کې لنډ معلومات ورکړئ.

۳- د شاه امان اله خان په وړاندې د دسیسو او توطیو علت څه و؟

## له ټولګي څخه باندې فعالیت

زده کوونکي دې د شاه امان اله خان د اروپایي سفر په اړوند معلومات تر لاسه او بیا دې په ټولګي کې ووایي.

# د اصلاحاتو پر وړاندې غبرګون



ولې د امیر امان خان اصلاحات له غبرګونونو سره مخامخ شول، کورني او بهرني لاملونو پکې څومره رول در لوده. په دې لوست کې به ورسره آشنا شئ.

د هېواد خپلواکۍ تر ګټنې وروسته چې د غازي امان الله خان په مشرۍ، د خلکو د قربانۍ په پایله کې حاصله شوه، د انګلیسي استعمارچیانو پر وړاندې ستر بریالیتوب و. افغانان و توانېدل چې د افغانستان څوان او خپلواک دولت جوړ کړي. زموږ هېواد چې د استعمار له جغ څخه خپلواکه شوی و، په (اقتصادي، ټولنیزو، کلتوري او نورو) برخو کې اصلاحاتو او بدلونو ته یې اړتیا درلوده. نو کله چې امان الله خان د هېواد چارې په لاس کې واخیستې، په اصلاحاتو یې لاس پورې کړ، تر څو وکړای شي هېواد د پرمختللو هېوادونو په کتار کې ودروي. اصلاحات او ریفورمونه پیل شول. او ډېروافغانانو یې ملاتړ وکړ، خو ځینو خلکو د انګریزانو په مرسته د اصلاحاتو په وړاندې منفي غبرګونونه وښودل. څکه انګلیسانو غوښتل چې د داخلي اړو دوړ په پیداکولو سره د افغانستان څوان

دولت کمزوری او له منځه یوسي.

انګرېزانو له دې سیاست څخه چې (تفرقه واچه وه او حکومت وکړه) کار واخیست او په ځینو ځایونو کې یې جاسوسي دستګاوو او شبکو کار وکړ. د جزا له قانون سره د منګلو خلکو مخالفت څرګند کړ. د نوي قانون په وړاندې مذهبي کړیو غبرګونونه وښودل. له دې امله یو شمېر روحانیونو په پکتیا کې مخالفت څرګند کړ، په ۱۳۰٤ لمریز چې د ۱۹۲٦ زکال سره سمون لري، امان الله خان هڅه وکړه چې د خبرو له لارې موضوع حل کړي هیئتان او د جوماتونو ملا امامان یې پکتیا ته ولېږل، تر څو د هغه ځای روحانیون قانع کړي. خو هغوی ونه منله، هماغه و چې د ملا عبدالله په مشرۍ په پکتیا کې مخالفت پیل شو او تر لوګره راورسېد. دولت د هغوی په وړاندې مقاومت وکړ او مخالفین یې غلي کړل.

شاه امان الله خان د افغانستان د پېژندنې او د مرستو د راجلبولو لپاره آسیا او اروپا ته اوږد سفر وکړ، چې د هغه د اوږدې مودې له نه شتون څخه بهرني دښمن ګټه واخیسته او د شومو پلانونو لپاره یې ډېره ښه زمینه برابره شوه. کله چې امان الله خان له اروپا څخه راستون شو، له اصلاحاتو او پرمختګ سره یې مینه ډېره شوه او د اصلاحاتو او ریفورمونو عملیه یې چټکه کړه. امان الله خان له یوې خوا د نړۍ پرمختللې هېوادو نه لیدلي وو نو غوښتل یې چې افغانستان داسې پرمختګ او پراختیا وکړي او د نورو هېوادونو له احتیاجه خلاص شي او له بل لوري وروسته پاتې کړیو له بهرني لوی دښمن(انګلیس) سره یو ځای ددغو بدلونونو د تطبیق مخه نیوله.

د اماني خپلواکه دولت پر ضد لویه توطیه جوړه شوه. د مخالفینو خواره واره ګروپونو سمون پیدا کړ او نظامي عملیات یې پیل کړل او دښمن په دوو جبهو (ختیځ او شمال) کې په فعالیتونو مصروف شو. ددې پلان طرحې داسې وې چې اغتشاش لومړی له ختیځ څخه پیل شو، ترڅو دولت په

دې مجبور شي چې پوځيان هلته ولېږي او پايتخت له پوځيانو تش شي او له دې وروسته دې د شمال جبهې (کوهدامن او کوهستان، شورشيان کابل ته داخل شي او په چټکۍ سره دې دولت له منځه يوسي او همدارنګه د امان الله خان د دولت يو شمېر دولتي عالي رتبه مامورينو هم په پټه د دوی مرسته کوله.

په هغو ورځو کې چې په ختيځ کې د شينوارو بغاوت پيل شوی و، په شمال کې د کابل لاره د کلکاني حبيب الله لخوا چې د سقاو د زوی په نامه مشهور و وتړل شوه.

کلکاني حبيب الله خپلې اړيکې د کابل والي علي احمد خان سره چې د هغه وخت د دولت لخوا کوهدامن ته د ستونزو د حل لپاره مامور شوی و، ټينګې کړې. علي احمد خان ددې پر ځای چې د دولت په ګټه کار وکړي، د خپلو شخصي ګټو د ساتلو لپاره يې د کلکاني له ګروپ سره اړيکې ټينګې کړې، همدارنګه نورو فرصت طلبو کسانو له کلکاني حبيب الله سره مرسته وکړه.

کلکاني حبيب الله د ځينو لوړ رتبه دولتي مامورينو په مرسته د دولت پر ضد شورش وکړ، د هغوی په همکارۍ د ۱۹۲۹ زيږديز کال د ډسمبر په آخر کې په کابل يرغل وکړ. څرنګه چې امان الله خان نه غوښتل چې وينې توې شي، په ۱۹۲۹ کال د جنوري په لومړيو کې يې له پاچاهۍ څخه استعفا وکړه او کندهار ته ولاړ، له هغه ځايه يې ايټاليې ته مخه وکړه او د ژوند تر پايه هورې ديره شو. ورور يې سردار عنايت الله خان درې ورځې اقتدار په لاس کې ونيو او وروسته حبيب الله د سقاو زوی ارګ محاصره کړ او سردار عنايت الله خان کندهار ته شاتګ وکړ او په دې توګه پرکابل واکمن شو.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو وویشل شي. لومړۍ ډله دې د امان الله خان په وړاندې د غبرګونونو د لاملونو په اړه او دویمه ډله دې د افغانستان پر ضد د انګریزانو د تحریکاتو او دسیسو په اړه یو له بله سره خبرې وکړي.

## پوښتنې

۱- کوم علتونهددې سبب شول چې یو شمېر خلک د اماني دولت له اصلاحاتو څخه ناراضه شول؟

۲- د دولت پر ضد لومړی بلوا چېرته پیدا شوه. پایله یې څه شوه، په لنډ ډول یې ووایاست؟

۳- د حبیب الله کلکاني د شخصیت په اړه څه پوهېږئ، معلومات وړاندې کړئ.

## له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې د خپلو ښوونکو او له هغو سرچینو چې ور سره شته، د اماني اصلاحاتو پر وړاندې د یو شمېر خلکو د ضدیت پر لاملونو یوه لکینه تیاره او په ټولګي کې دې نورو ټولګیوالو ته ووایي.

# د بحران پای او د قدرت ټینګښت (۱۹۲۹ز - ۱۳۰۸ لمریز)



محمد نادرشاه

نادر شاه څرنګه واک ته ورسید. په کومو اصلاحاتو یې لاسی پورې کړ، شورشونه یې څرنګه غلي کړل. په دې لوست کې به ورسره آشنا شئ.

د کلکاني حبیب الله ۹ میاشتنی واکمنی کابل له هر پلوه خراب او زیانمن کړ.هیواد ۹ میاشتې په اړو دوړکې تیرې کړې نو ځکه د افغانستان خلك له دې نظام څخه ناراضه وو، د یوه مثبت بدلون لپاره تیار وو. هماغه و چې محمد نادرخان د جنوبي جبهې یو له فاتحینو او د اماني دورې سپاه سالار د خلکو په مرسته او همکارۍ د اکتوبر په ۱۵ ( ۱۹۲۹) زیږدیز کا ل کې کابل ته راننوت او د سلام خانې ماڼۍ ته ولاړ. هلته یو شمېر د کابل معززین، مشران او قبایلو استازې موجود وو، محمد نادرخان په یوه وینا کې هغوی ته داسې وویل:»د خدای په فضل زه خپل آرمان ته ورسیدم. زما هیله د هېواد خلاصون و او دا دی نن ورځ زما هیله تر سره شوه، زه د قدرت هیله

من نه یم. یوه لویه جرګه جوړوم، تر څو هغوی خپل مشر وټاکي» په دې وخت کې حاضرینو په یوه غږ وویل، چې لویې جرګې ته اړتیا نشته تاسې زموږ پاچا یاست او د مجلس غړیو وویل چې:» په دې غونډه کې د پخوانۍ لویې جرګې ډېر غړي شته څرنګه چې هغوی له سپاه سالار څخه غواړي چې د پاچاهۍ تکلیف قبول کړي. په دې وخت کې حضرت مجددي (نورالمشایخ) د نادرخان پر سر پټکی د تاج او جوغې په ډول کېښود او محمد نادرخان د افغانستان پاچا شو.

محمد نادرخان خپله پاچاهي پر وران او خراب کابل پیل کړه، له دې کبله چې نوموړی له جدي ننګونو سره مخامخ و، مجبور و چې هر قدم په احتیاط واخلي. د امان الله خان د پلویانو مخالفت له یو لوري او هم د انګریزانو لاسوهنې په هېواد کې، همدارنګه د حبیب الله کلکاني پاتې شوني د دې لامل شول، ترڅو دولتي او حکومتي اداري ویجاړې شي او اکثر اداري واحدونه لوټ شوي وو. د کابل ښار او دولتي دفترونه چې په نهه میاشتو کې زیانمن شوي وو، د پادشاه او د نوي دولت اراکینو پاملرنه یې ځان ته وراړوله تر څو پادشاه له خپلې کورنۍ سره په ارګ کې استوګن شي.

د محمد نادرشاه د پاچاهۍ دوره د (امان الله خان او کلکاني حبیب الله) له دواړو پخوانیو دورو سره توپیر درلود. دا دوره نه د امان الله خان د دورې د لوېدیز د ژوند او تهذیب په څېر او نه هم د کلکاني حبیب الله د دورې په شکل، د مدنیت دښمنه وه چې مالیات او دولتي عایدات یې خلکو او بیت المال یې سپاهیانو ته ورکاوه.

محمد نادرشاه چې یو هوښیار، با تدبیره او آګاه شخصیت و د افغانستان د دولت په سر کې ودریده. د هغه ورور محمد هاشم خان چې یو ډېر با انضباطه شخص و، د صدراعظم په توګه توظیف شو. د دولت نور غړي د تدبیر خاوندان وو چې په خپل چوکاټ کې یې ځانګړې صلاحیتونه درلودل. که څه هم هغه خپل حکومت د خپل ورور محمد هاشم خان په صدارت سره جوړ کړ، خو د اساسي کارونو کیلي یې له ځان سره ساتلې وه. د نادر شاه د پاچاهۍ پر وخت زیر بنایي اصلاحات رامنځ ته شول. د کابل پوهنتون جوړ شو، د ملي بانک بنسټ کېښودل شو، ادبي انجمن رامنځ ته

شو، کلنۍ(سالنامه) چې د پاچا له نوښتونو څخه وه، چاپ شوه او په خپله پاچا به د مطبعې له کارونو څخه څارنه کوله او په دې توګه په هغه وخت کې ډېر بنسټيز کارونه تر سره شول. د امنيت له پلوه د نادرخان په دوره کې ډېرې ستونزې وې، دا ځکه چې د کلکاني حبيب الله تر ماتې وروسته موضوع په دومره سادګۍ سره پای ته ونه رسېده، بلکې غبرګون يې درلود. لکه چې د ۱۹۳۰ زيږديز کال د جون په مياشت کې د شمال هغه شمېر قومونه چې د کلکاني حبيب الله د پاچاهۍ پر وخت يې ګټې تامين شوې وې، په يوه ډېر لوی قوت سره يې شورش وکړ چې په لومړي ځل کې د نادرخان له خوا ورته توصيه وشوه چې له شورش څخه لاس واخلي، خو هغوی ونه منله. وروسته محمد نادرخان مجبور شو چې اقدام وکړي او امنيت يې ټينګ کړ.

په ۱۹۳۲ زيږديز کال کې ملاليوني د حکومت پر ضد بغاوت وکړ او نادرخان يې په چټکۍ سره مخه ونيوله، له بل لوري د اماني دورې يو شمېر پلويانو د نوي حکومت لپاره ستونزې رامنځ ته کولې خو نادر خان د دولتي حاکميت او ټينګښت لپاره شورشونه غلي او مخالف کسان يې له صحنې څخه وويستل.

محمد نادرشاه او صدراعظم محمد هاشم خان له هر څه نه مخکې دې ته متوجه وو چې له ديني علماو سره نېکې اړيکې ولري، ځکه هغوی پوهېدل چې له ديني عالمانو سره منفي چلند د ځان د له منځه وړلو حکم لري. نادرشاه يو باکلتوره شخص و، په همدې توګه يې وغوښتل تر څو هغه زيانونه چې په مخکينۍ دوره کې کلتور ته رسېدلي وو، جبيره کړي او په دې برخه کې يې دقدر وړ خدمتونه وکړل. د هغه له کلتوري کارونو څخه يو هم دا دی چې په خپله به يې د زده کوونکو په سينه مډال لګاوه.

محمدنادر شاه د خپلې پاچاهۍ په ٤ کالو کې وکړای شول چې هغه بحران چې په ټول افغانستان

کې را منځ ته شوی و، پای ته ورسوي او دولتي واک ټینګ او واحد مرکزیت رامنځ ته کړي.

محمد نادرشاه د ۱۹۳۳ کال د نوامبر د میاشتې په ۸ مه زده کوونکو ته د دلکشا په چمن کې مډالونه ورکول چې د عبدالخالق نومي محصل د تومانچې په ډزو سره ووژل شو چې په همدې توګه د هغه څلور کلنه دوره پای ته ورسېده.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو وویشل شي، لومړۍ ډله دې د نادرشاه د شخصیت او قدرت ته د هغه د رسېدو پر لاملونو او دویمه ډله دې د هغه د کارنامو په برخه کې پخپلو کې بحث وکړي.

## پوښتنې

۱- کله چې محمد نادرشاه واک ته ورسېد، له کومو ننګوونو سره مخ و؟

۲- د نادر شاه د سلطنت مهمې کړنې بیان کړئ؟

۳- محمد نادر شاه له څو کالو پاچاهۍ وروسته او په څه ډول ووژل شو؟

## له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې په دولتي چارو کې، د محمد نادر شاه د سیاست او پالیسۍ په اړه د ښوونکو او منابعو په مرسته، یو مطلب ولیکي او په ټولګي کې دې ووایي.

# د اصولنامې ترتیب او تدوین



سردار محمد هاشم خان

د اصولنامو ضرورت د هغوی ترتیب او تدوین، اقتصادي کړکېچونه او د هغو له منځه وړل هغه مطالب دي چې په دې لوست کې به ورسره آشنا شئ.

کله چې محمد نادرشاه د هېواد واک په لاس کې واخیست، نو هېواد بحراني او داسې حالت درلود چې قانون په کې نافذ نه و، هماغه و چې د هېواد د قانونیت په فکر کې شو. محمد نادرشاه په دې پوهېده چې تر هغه چې یو هېواد د قانون پر بنسټ ولاړ نه وي، هغه دولت نه یوازې دا چې پایښت نه لري، بلکې د هېواد شتون له خطر سره مخامخ کېږي. هغه دا درک کړې وه، چې د اماني دولت له حساسیت سره مخامخ و او په همدې توګه منظم پلانونه مطرح شوي وو، ترڅو د محمد نادر خان دولت له ریښې څخه راولاړېدونکو پېښو لاسونو او داخلي اجیرانو کارکاوه، تر څو

چې بحران رامنځ ته کړي. نادرخان په هوښیارۍ سره هماغه قوانین چې د امان الله خان په دوره کې د نظامنامې په نامه یادېدل، په لږ تفسیر سره د اصولنامې په نامه نافذ کړل. محمد نادرشاه د یوه با صلاحیته هئیت په واسطه اصولنامه (اساسي قانون) تدوین کړ. دا هماغه اساسي نظامنامه وه، چې د قوانینو د مور حیثیت یې درلود. په اساسي اصولنامه کې د شاه د حقوقو فصل تعدیل او د امان الله خان د نامه پر ځای د نادرخان نوم راوړل شو.

د دولتي شورا پر ځای ملي شورا او داعیانو مجلس په اصولنامه کې داخل شو. همدارنګه اصولنامې د ملي شورا انتخابات ترتیب او دا دواړه د لویې جرګې غونډې ته د ۱۳۰۹ هـ کا ل د سنبلې په ۲۸ مه وړاندې او تصویب شول. د همدې قانون پر بنسټ د ملي شورا انتخابات په ۱۳۱۰لمریز کال د چنګاښ په ۱٤ مه په سلام خانه کې د پاچا له خوا افتتاح شو او هېواد یو قانوني پړاو ته داخل شو. دا اساسي اصولنامه تر ۱۳٤۳ لمریز کاله پورې نافذه وه او له هغې سره په مطابقت ډېرې اصولنامې جوړې او تطبیق شوې. له هغه ځایه چې نادر شاه د دیني عالمانو سره د نیکو اړیکو غوښتونکی و، نو غوښتل یې چې د دیني عالمانو موقف ته عزت ورکړي. په دې توګه یې امر وکړ چې د ټولو اصولنامو په تدوین کې له علماو څخه مشوره واخیستل شي، تر څو قوانین له شریعت سره سم تدوین شي. په دې برخه کې له هغوی سره له مخکي مشوره کېده.

د دیني چارو د لاښه پرمخ بیولو لپاره یې د(جمعیت العلما) مجلس جوړ کړ. له شاهي خزانې څخه دیني علماوو ته یو شمیر امتیازات ورکول کیدل. وروسته یې په کابل کې عربي دارالعلوم جوړ کړ چې تجربه لرونکي ملایان یې د مدرسینو په توګه په کې مقرر کړل او سردار عبدالرحمن خان یې د رئیس په توګه وګماره.

محمد نادرشاه غوښتل چې په اقتصادي برخه کې یو قانوني سیستم پلی کړي، چې د هغې په

اساس يو شمېر پوه خلک چې کافي او مسلکي تجربې ولري، په دولت کې ونډه واخلي، د کابل، مزارشريف، هرات او کندهار لوې لارې جوړې کړې، څينو شرکتونو ته د فعاليت اجازه ورکړل شوه.

پانګوالو پر دولت اعتماد وکړ، په همدې توګه راکد شوې پيسې يې راويستې او په کار ولوېدې، چې په دې کار کې د عبدالمجيد زابلي دنده د يادولو وړ ده چې په همدې توګه يې د محمد ظاهر شاه په دوره کې زياتره د سوداګرۍ او اقتصاد د وزير په توګه دنده سرته رسولې وه. همدارنګه يې د هېواد په صنعتي کېدو کې فعال او مهم نقش درلود، نوموړې ډېرې فابريکې جوړې کړې او د افغانستان لپاره يې ډېر خدمتونه تر سره کړل. د محمدنادرخان او محمد هاشم خان په ډېرې پاملرنې سره د هېواد ډېرې ويجاړې ترميم او د هېواد اقتصاد پراختيا وکړه.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو وویشل شي. لومړۍ ډله دې د اصولنامې پر تدوین او دویمه ډله دې د محمد نادرخان پر اقتصادي پروګرامونو خبرې وکړي.

## پوښتنې

۱- د محمدنادرشاه د وخت اصولنامه په لنډه توګه توضیح کړئ؟

۲- د محمد نادر شاه اړیکې له دیني عالمانو سره څه ډول وې، شرحه یې کړئ.

۳- محمد نادر شاه په اقتصادي برخه کې کوم کارونه وکړل، په لنډه توګه یې معرفي کړئ؟

## له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې د اصولنامې او د محمدنادرشاه د دورې د قوانینو په برخه کې له مشرانو او پوهانو څخه پوښتنې وکړي او یو مطلب دې ترتیب او په ټولګي کې دې ووایي.

# د محمد ظاهر شاه سلطنت



شهزاده محمد ظاهر ځنګه واک ته ورسید، د دویمې نړیوالې جګړې د بحران کلونه او اغیزې یې پر افغانستان باندې، د صدر اعظم محمد هاشم خان ونډه د دې بحران په له منځه وړلو کې. دا هغه مطالب دي چې ورسره به په دې لوست کې آشنا شئ.

د محمد نادرشاه تر وژلو وروسته کورنۍ شورا جوړه او د اساسي اصولو د (۵) مادې سره سم محمد ظاهر شاه د محمد نادر شاه زوی چې **۱۹** کلن و، پاچاهۍ ته وټاکل شو. د اساسي اصولنامې سره سم ټول ملت یې تابعیت وکړ. نوم یې په خطبه کې ولوستل شو او په نامه یې سکه ووهل شوه او د شورا د مصلحت له مخې د المتوکل علی الله لقب هم ورکړل شو چې **۴۰** کاله یې له نامه سره یو ځای و.

دا چې د محمد ظاهر عمر لږ او د کار تجربه یې نه درلوده، نو ټول کارونه یې د مشر تره محمد هاشم خان په غاړه وو. کله چې محمد ظاهر شاه پاچا شو، نو ډېر ژر یې خپل تره محمد هاشم

خان پخواني صدراعظم يو ځل بيا د کابينې مسوول وټاکه او هغه هم خپله کابينه پاچا ته معرفي او په کار يې پيل وکړ.

د محمد ظاهر شاه د پاچاهۍ په لومړيو کلونو کې دويمه نړيواله جګړه پيښه شوه دويمه نړيواله جګړه په **۱۹۳۹** زکې پيل او په **۱۹۴۵** زکې پای ته ورسېده. د دې جګړې لمبې چې له اروپا څخه راپورته شوې وې، ډېر ژر اسيا او د نړۍ نورو برخو ته ورسېدې.

د دې جګړې ګډون کوونکي (المان، ايټاليا، جاپان او د ختيځې اروپا کوچني هېوادونه) د محور په نامه او (انګلستان، فرانسه، شوروي اتحاد، د امريکا متحده ايالات او يو شمېر اروپايي هېوادونه) د متفقينو په نامه يادېدل.

هغه هيوادونه چې په مستقيمه توګه په دويمه نړيواله جګړه کې ښکيل ول له مالي او ځاني پلوه ډېر زيانمن شول او همدا رنګه ناوړه اثرات يې ډېر وو. ټول هيوادونه يې متاثره کړل، ددې جګړې په وخت کې روسيه په شمال، ايران په لويديځ او برتانيوي هند د افغانستان په سهيل کې زيانمن شول.

محمد ظاهر شاه او د وخت صدر اعظم محمد هاشم خان د يوې جرګې په جوړيدو د يوه فرمان له مخې افغانستان ناپيلی اعلان کړ.

محمد هاشم خان د ښه تدبير په درلودو سره نه يوازې دا چې افغانستان د جګړې له لمبو او زيان څخه وژغوره، بلکې له اقتصادي احتمالي ستونزو څخه يې هم وژغوره. د اقتصادي ستونزو سره سره يې ډېر اسعار ذخيره کړل چې وروسته ترې په پرمختيايي پروژو کې ګټه واخيستل شوه.

کله چې جګړه ډېره سخته شوه، د محور ځواکونه د ختيځې اروپا له لارې د روسيې خاورې ته داخل شول. په افغانستان کې يو شمېر الماني او ايټالوي انجينرانو په ځينو پروژو کې کار کاوه، نو شوروي اتحاد او برتانوي هند يې په اړه اندېښنه کوله او افغانستان ته يې يادګېرنې ورکړې، تر څو المانيان او ايټالويان له خپلې خاورې وباسي. افغانستان د دغو وړانديزونو ځينې برخې ومنلې او ياد شوي کارکوونکي يې په درنښت له هېواده بهر کړل.

خو د هغه وخت مدبر صدراعظم محمد هاشم خان وتوانېد چې د افغانستان اوضاع نورماله وساتي. د جګړې دروندوالي پر افغانستان هم اغېز درلود او يو شمېر امنيتي ستونزې يې رامنځ ته کړې چې د هغه وخت له حالاتو او د محمد هاشم خان له تدبير سره سم دا ستونزې لرې شوې.

ځکه نو ويلای شو چې د افغانستان د ناپيلتوب پاليله دا شوه چې امپرياليستي قواوو نه شو کولای چې پرې تېری وکړي چې دا کار د افغانستان د خپلواکۍ په ټينګښت، په منځني او نږدې ختيځ کې د امنيت په پياوړتيا کې مرستندوی ثابت شو.

دويمې نړيوالې جګړې له اقتصادي پلوه هم پر افغانستان منفي اغېزه وکړه. پر شوروي اتحاد د المان يرغلونه او د بحرالکاهل پر سيمې د جاپان د يرغلونو په پايله کې د افغانستان سوداګريزې اړيکې د محور، اروپايي او اسيايي هېوادونو سره چې د جګړې په ساحه کې وې، قطع شوې. د افغانستان او شوروي اتحاد سوداګري ټيټې کچې ته ورسېده او يوازې له هندوستان (برتانوي هند) سره سوداګرۍ دوام درلود. د وارداتي توکو اوشيانو د کمي له امله د خوراکي توکو بيې لوړې شوې، په ځانګړې توګه په ( ۱۹۳۹-۱۹۴۵ز) کلونو کې بيې له څلورو څخه تر پنځه چنده پورې لوړې شوې. دولتي چارواکو د خوراکي او صنعتي توکو د ګرانۍ د مخنيوي او د بيو د تنظيم لپاره کلک تدبيرونه تر سره کړل.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې د دویمې نړیوالې جګړې او د افغانستان د ناپیيلتوب د پالیسۍ په اړه، یو له بله سره خبرې وکړي.

## پوښتنې

۱ـ د محمد ظاهر شاه د واک ته د رسیدو د څرنګوالي په اړه معلومات ورکړئ؟

۲ـ په دویمه نړیواله جګړه کې جنګي قوتونه په کوم ترتیب سره وېشل شوي وو؟

۳ـ د وخت صدراعظم محمد هاشم خان د دویمې نړیوالې جګړې په وخت کې د افغانستان د سوکالۍ لپاره کومې چارې سر ته ورسولې؟

۴ـ په دویمې نړیوالې جګړې کې د افغانستان ناپیيلتوب په سیاسي برخه کې کوم رول تر سره کړای شو؟

## له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې له خپلو مشرانو څخه د محمد ظاهر شاه د شخصیت په اړه یو مطلب ولیکي او په ټولګي کې دې ولولي.

# لومړنی پنځه کلن پلان (۱۹۵۶ ز ۱۳۳۵ لمریز)



سردار محمد داوود خان

د لومړني پنځه کلن پلان ضرورت، د سردار محمد داوود خان ونډه د دې پلان په تکميل او پلي کولو کې، دا هغه مفاهيم دي چې په دې لوست کې به يې ولولئ.

د اعليحضرت محمد ظاهر شاه د سلطنت په لومړي وخت کې محمد هاشم خان د صدارت چارې پر غاړه لرلې او د خپلې غوښتنې له مخې يې له دغه مقام څخه استعفا وکړه. له هغې وروسته يې کشرى ورور سپهسالار شاه محمود خان صدارت ته غوره شو. هغه اوه کاله وروسته د ناروغۍ له امله استعفا وکړه. له دې وروسته د اعليحضرت محمد ظاهر شاه له خوا يې د تره زوی سردار محمد داود خان د سردار محمد عزيز خان زوی د صدارت مقام ته وټاکل شو.

محمد داوود خان غوښتل چې افغانستان د سياسي، اقتصادي او اجتماعي پلوه پر خپلو پښو ولاړ يو هېواد واوسي او د منظمو اقتصادي پلانونو په جوړولو سره يې د ودې پړاو نه پيل کړل.

هغه په لومړي سر کې کابينه له تعليميافته او پوهو کسانو څخه جوړه کړه. په بهرني سياست کې يې د افغانستان مثبت ناپييلتوب ځان ته غوره کړ چې بنسټ يې په ملي ګټو او د افغانستان د خلکو پرآزاد قضاوت ولاړ وو او داکار د دې سبب شو چې د نړۍ هېوادونه دې ته حاضر شول چې پرته له قيد او شرطه له افغانستان سره مرسته وکړي. دا يو له ډېرو غوره کارونو څخه پدې وخت کې و، ځکه چې د امريکې د متحده ايالاتو او شوروي اتحاد تر منځ سياسي موازنه يې ښه وساتله.

سردار محمد داود خان يو مترقي او هيواد پال شخصيت و. هغه په دې ښه پوهېده چې يو هېواد په کومو وسايلو سره پر ستونزو بريالى کېدای شي. هغه د توليدي او اقتصادي موسسو د پراختيا او پرمختيا په

برخه کې ډېره هڅه کوله. هغه و چې خپل کارونه یې په یوه چوکاټ کې منظم کړل. لومړنی پنځه کلن پلان یې په ۱۹۵۶ز کې پیل او په ښه توګه یې سرته ورساوه او دویم پلان یې په ۱۹۶۱ ز کې تر لاس لاندې ونیوه. په لومړی اقتصادي پلان کې پرمختیایي بودجه په بنسټیزو کارونو کې ولګول شوه چې د هغې په وسیله د سړکونو جوړول او د برېښنا د تولید کار ډېر ښه مخکې لاړ. په دې موده کې د کابل ـ کندهار او سپین بولدك تر منځ سړك، کابل ـ تورخم ـ قزل قلعه ـ د سالنګ تونل ـ کندهار ـ هرات او کشك نخود سړکونه جوړ شول.
همدارنګه د برېښنا په برخه کې د نغلو د برېښنا ۶۶ زره، ماهیپر د ۱۰ زره او د درونټې بند د ۱۱ زرو او د مزار شریف برېښنا ۱۰ زره کیلو واټو ته ظرفیت لوړ شو.
د نفتو او ګازو د منابعو استخراج د هیواد په شمال کې پیل شو. د ډېرو سکاره په پوره اندازه تولید شول.
د صنایعو په برخه کې د مزار شریف د سرې د فابریکې تولیدات په کا ل کې ۱۰۰ زرو ټنو ته ورسېدل، د غوري سمنټو فابریکه او د موټرو د ترمیم ډېر شمېر دستګاه وې د هیواد په مختلفو برخو کې جوړې شوې. د دې تر څنګ د کابل د جنګلك فابریکه داسې کمپلېکس شوه چې نه یوازې وروسته یې لوی ماشینونه ترمیمول، بلکې د نصبولو چارې یې هم سر ته رسولې.
همدارنګه د ننګرهار پروژې ته زیاته پاملرنه وشوه تر څو د هغې د تولیداتو کچه جګه شي چې په ټول ژمي کې به یې د هیواد اکثرو سیمو ته مېوې او سابه ورکول.
د محمد داوود خان دویم اقتصادي پلان د وخت د کموالي او د ځینو نورو ستونزو له امله پلی نشو چې وروسته محمد داوود خان مستعفي او په دې توګه د هغه د صدارت دوره پای ته ورسیده.

## په ټولګی کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د محمد داوود خان پر شخصیت او بهرني سیاست او دویمه ډله دې د هغه د پنځه کلن پلان په اړه یو له بله سره خبرې وکړي.

## پوښتنې

۱ـ سردار محمد داودخان څرنګه د صدارت دنده تر لاسه کړه؟
۲ـ د محمد داوود خان بهرنی سیاست په لنډه توګه معرفي کړئ.
۳ـ په لومړي پنځه کلن پلان کې کوم بنسټیز کارونه تر سره شول، هغه ووایاست؟
۴ـ د سردار محمد داوود خان دویم پنځه کلن پلان ولې پلی نشو؟

## له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده کوونکي دې د محمد داوود خان د شخصیت او پنځه کلن پلان په برخه کې له منابعو، مشرانو او پوهانو څخه معلومات تر لاسه او بیا دې په ټولګي کې ووایي.

# د دیموکراسۍ لسیزه (۱۳۴۲ - ۱۳۵۲ لمریز)



داکتر محمد یوسف

آیا پوهیږئ د دیموکراسۍ د لسیزې اساسي قانون څه پایلې درلودلې؟ په دې متن کې به ورسره آشنا شئ.

د ظاهر شاه د سلطنت وروستي لس کلونه د دېموکراسۍ د لسیزې (اساسي قانون) یا د مشروطې شاهۍ په نامه یادوي. په افغانستان کې د دېموکراسۍ دوره د سردار محمد داوودخان تر استعفا یا د ۱۳۴۳ لمریز کال د اساسي قانون تر نافذیدو وروسته پیل او تر لسو کلونو پورې یې دوام وکړ. تر دې دمخه د شاه محمود خان د صدارت په دوره کې هم هڅه شوې وه چې د دېموکراسۍ زمینې رامنځ ته شوې وې.

په نوي اساسي قانون کې پرېکړه وشوه چې د شاهي کورنۍ غړي به سیاسي گوندونو کې برخه نشي اخیستی او لاندې دندې او مسوولیتونه تر سره کولای نشي:

۱ـ د صدارت مقام. ۲ـ په شورا کې غړیتوب. ۳ـ په ستره محکمه کې غړیتوب چې د همدې پرېکړې له امله د دېموکراسۍ په لسیزه کې پنځه صدراعظمان چې د شاهي کورنۍ غړي نه وو

( ډاکټر محمد یوسف، محمد هاشم میوندوال، نور احمد اعتمادي، ډاکټر عبدالظاهر، محمد موسی شفیق) دندې تر سره کړې. کله چې سردار محمد داود خان د صدارت له مقامه استعفا ورکړه، محمد ظاهر شاه ډاکټر محمد یوسف د صدارت پر مقام مامور کړ، هغه هم ومنله او خپله کابینه یې د ۱۹۶۳ زکال د مارچ په ۱۳مه جوړه کړه.

ډاکتر محمد یوسف په المان کې د فزیک په څانگه کې زده کړه کړې وه. هغه په یوې منځنۍ کورنۍ پورې اړه درلوده. د ډاکټر محمد یوسف د حکومت غوره او اساسي دنده د اساسي قانون تدوین او د هغه د قانوني مراحلو سر ته رسول وو چې اعلیحضرت محمد ظاهر شاه لویه جرگه راوغوښته، اساسي قانون تدوین او هغه یې تایید او تصدیق کړ. ډاکتر محمد یوسف د دریم اساسي قانون په تدوین پیل وکړ. د دیموکراسۍ دغه نوی نهضت په افغاني ټولنه کې د ډول ډول غبرگونونو سره مخامخ شو. ډېرو افغانانو، په ځانگړې توگه ځوانانو یې تود هرکلی وکړ، خو د هېواد په لویو ښارونو کې سختې مظاهرې رامنځ ته شوې.

د دیموکراسۍ په لسیزه کې د مطبوعاتو قانون د تقنیني فرمان په وسیله نافذ شو او د دې قانون پر بنسټ په کابل کې دېرش جریدې نشر شوې چې د بېلگې په توگه مشهورې ورځپاڼې او جریدې یې په لاندې ډول دي:

افغان، مساوات، روزگار، افغان ملت، ملت، کاروان ورځپاڼه، خلق، پرچم، شعله جاوېد، گهیځ، ترجمان، مردم او داسې نور...

په دې دوره کې د احزابو قانون د اساسي قانون په شورا کې پاس او د توشېح لپاره د شاه حضور ته واستول شو، خو شاه دا قانون وځنډاوه او د خپلې پاچاهۍ تر پایه یې توشېح نه کړ، خو له دې

سره هم ړون اندو په ښکاره ډول خپل سياسي فعاليتونه پيل کړل او هر سياسي جريان د ځان لپاره يو نشراتي ارګان درلود چې خپلې اعلاميې به يې په کې خپرولې. دغو ډلو د ديموکراسي په لسيزه کې د خپلو فکري کړنلارو له امله په ښي او کيڼو ډلو وېشل شوي وو چې عبارت وو، له:

۱ـ د خلق دېموکراتيک ګوند چې وروسته په دوو ډلو، خلق او پرچم ووېشل شول.

۲ـ اسلامی نهضت يا د مسلمان ځوانانو جريان.

۳ـ د شعله جاوېد ګوند.

۴ـ مترقي دېموکرات ګوند.

۵ـ د افغان ملت ګوند.

۶ـ د ستم ملي ګوند.

۷ـ د اتحاد ملي ګوند.

همدارنګه نورې لويې او وړې ډلې هم وې چې په سياسي فعاليتونو بوختې وې. په عمومي توګه د دېموکراسۍ په لسيزه کې سياسي ډلو د دېموکراسۍ له نامه څخه په ګټې اخيستنې سره په سياسي فعاليتونو لاس پورې کړ.

په فرهنګي او عمراني برخو کې هم کار وشو. د اساسي قانون په لسيزه کې چې پنځه صدراعظمانو دنده تر سره کړه، په ملکي او نظامي برخو کې تر يوې کچې کار وشو. د دغو فعاليتونو ځينې بنسټونه چې د داود خان د صدارت په وخت کې ايښودل شوي وو، د دېموکراسۍ په لسيزه کې پای ته ورسېدل.

د دېموکراسۍ (اساسي قانون) په لسيزه کې د قواو تفکيک هم رامنځ ته شو او دولت پر درېو

قواوو( اجرایه، مقننه او قضایه) ووېشل شو او د شورا د دولسمې او دیارلسمې دورې لپاره په هېواد کې آزادې ټاکنې وشوې چې د افغانستان خلکو خپل استازي شورا ته واستول. په دې دوره کې پنځو حکومتونو له اولسي جرګې څخه د باور رایه واخیسته.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي، لومړۍ ډله دې د دېموکراسۍ د لسیزې د احزابو د قانون په اړه او دویمه ډله دې د دېموکراسۍ په لسیزه کې د قواوو د تفکیک په برخه کې یو له بله سره خبرې وکړي.

## پوښتنې

۱ـ د دېموکراسۍ لسیزه په افغانستان کې په کوم ډول منځ ته راغله؟
۲ـ کومو صدراعظمانو د دېموکراسۍ په لسیزه کې دندې تر سره کړې؟
۳ـ د دېموکراسۍ په لسیزه کې کومې ورځپاڼې او جریدې خپرې شوې، نومونه یې وواياست؟
۴ـ د دېموکراسۍ په لسیزه کې دولت پر کومو قواوو ووېشل شو؟

## له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده کوونکي دې د هغو کارونو او برنامو په هکله چې د دېموکراسۍ په لسیزه کې تر سره شوي دي یو مطلب جوړ او خپلو نورو ټولګیوالو ته دې ووايي.

# د ۱۳۵۲ لمریز کال د چنګاښ د ۲۶ مې کودتاه

په دې لوست کې به د کودتا د سرته رسوونکو، د نوي دولت د سیاست او د کودتا له پایلو سره پېژندګلوي تر لاسه کړئ.

سردار محمد داوود خان چې کله د صدارت له مقام څخه استعفاء وکړه، او لس کاله یې په ګوښه والي کې تېر کړل، د خپل صدارت په موده کې یې د هیواد د پرمختګ لپاره ډېرې هڅې کړې وې. د خپلې لس کلنې ګوښه والي په موده کې یې هم علاقه درلوده چې هیواد د پرمختللو هیوادونو په کتار کې ودروي. همدا وه چې د ۱۹۷۳ز کال د جولای په ۱۷مه چې د ۱۳۵۲ لمریز کال د چنګاښ له ۲٦ مې سره برابره وه، کودتا وکړه چې په دې توګه په افغانستان کې شاهي نظام لغوه او جمهوریت اعلان شو.

د چنګاښ د ۲٦ مې کودتاه د ۱۹٦۳ز کال د اساسي قانون لسیزې ته د پای ټکی کېښود. که څه هم هغو پنځو حکومتونو د دیموکراسۍ دعوه کوله، خو په حقیقت کې پرې انارشیستي خصلت غالب

و. د داوود خان کودتاه دې ګڼ وړیو ته خاتمه ورکړه او پر ځای یې سردار محمد داوود خان د یوه ملي رهبر په توګه راڅرګند شو. د شخصیت له پلوه هغه ډېر پاک، د اخلاقي ښېګڼو خاوند او پر هیواد مین انسان و.

د کودتاه تر پایلې وروسته یې خپله تاریخي بیانیه (خلکو ته خطاب) په نامه اعلان کړه چې د نوي دولت کړنلاره په کې وه.

داوود خان افغانستان د ګاونډیو هیوادونو سره د دوستۍ لیوا ل، د غیر منسلک هېوادونو غړی وباله او د ملګرو ملتونو ټولنې له منشور څخه یې خپل ملاتړ اعلان کړ، یوازې د پښتونستان مسئله یې له پاکستان سره د اختلاف د ټکي په توګه یاده کړه او د سولې له لارې یې د هغې د حل غوښتنه وکړه.

د نوي دولت له کړنلارې څخه د هیواد خلکو په ولایتونو او مرکز کې تود هر کلی وکړ, محمدظاهر شاه چې د ایټالیا د ناپل په ښار کې په استراحت بوخت و، په کابل کې د خپلې پاچاهۍ د له منځه تللو څخه خبر شو. سمدستي روم ته لاړ او خپله استعفا یې د افغانستان د سفارت له لارې د افغانستان د جمهوریت د مؤسس په نامه کابل ته را ولیږله. د استعفا نامې په رسیدلو سره چې د شاهي کورنۍ غړي بندیان وو له بنده آزاد او ایټالیې ته ولاړل.

یوه ورځ وروسته د نوي نظام د مرکزي کمیټې لومړۍ جلسه جوړه شوه. مرکزي کمیټې محمد داوود خان د دولت د جمهور رئیس، صدراعظم د بهرنیو چارو او د دفاع د وزیر په توګه وټاکه او نوموړي نوې کابینه معرفي کړه. د محمدداود خان د فرمان په اساس د ۱۳۴۳ لمریز کال اساسي قانون لغو شو او د نوي اساسي قانون د تصویب لپاره لویه جرګه چې ۳۴۹ کسه غړي یې درلودل د عزیزالله واصفي په مشرۍ راوغوښتل شوه او د ۱۹۷۷ز کا ل د مارچ په ۱٤مه نوی اساسي قانون تدوین او د محمد داوود خان له خوا توشیح او نافذ شو.

په ټولنیزه او اقتصادي برخه کې هم یولړ اقدامات وشول چې پر بنسټ یې د ځمکو اصلاحاتو ته پاملرنه وشوه، د ځمکې د اراضی قانون ((مترقي مالیات)) تصویب شو او له هغې سره سم د مالکانو اضافي ځمکې هغه بزگرانو ته چې لږ یا هیڅ ځمکه یې نه درلوده ورکړل شوه. د دولت له خوا د جزا او مدني قانون تصویب شو. ملي سرود منځ ته راغی، د بیرغ په نښان کې هم بدلونونه راغلل.

د افغانستان د جمهوري دولت له ډیرو مهمو کارونو څخه یو هم د اووه کلن اقتصادي پلان جوړول و. دا پلان په ۱۹۷۶ز کې پیل او په ۱۹۸۳ز کې باید پای ته رسېدلی وای.

د جمهوریت په موده کې په ټول هیواد کې د سرکونو د ځارنې او ترمیم کار پیل شو. د اوسپنې پټلی له هراته د کندهار تر سپین بولدك, د لوگر د عینکو د مسو د کان او د حاجي گگك د سروې کار تر لاسه لاندې ونیول شو. محمد داوود خان د خپلی واکمنی پر مهال د ملي غورځنگ گوند جوړ کړ.

د محمد داود خان پلانونه او پروگرامونه ډیر زیات پراخ بنسته وو چې ټول یې عملي نه شول او د ۱۳۵۷ لمریز کال د غویي پر اوومه د یوې پوځي کودتاه په وسیله د محمد داوود خان جمهوري نظام ړنگ شو.

## په ټولگي کې فعالیت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو وویشل شي. لومړی ډله دې د محمد داود خان د شخصیت په اړه او دویمه ډله دې د هغه د اقتصادي پلانونو په برخه کې په خپلو کې خبرې وکړي.

## پوښتنې

۱. محمد داود خان په کوم کال کې کودتاه وکړه؟

۲. کومو خلکو د محمد داود خان په کودتاه کې زیاته ونډه درلوده؟

۳. د ۱۳۴۳لمریز کال اساسي قانون په برخه کې کوم اقدامات وشول؟ په لنډه توگه يې ووايي.

٤. په اوه کلن اقتصادي پلان کې کوم کارونه تر سره شول؟

## له ټولگي څخه دباندې فعالیت

زده کوونکي دې د جمهوريت د دورې د څرنگوالي په اړه مطلب وليکي او په ټولگي کې دې ووايي.

# نقشه



۱- نقشه، د نقشې چوکات او د جغرافیایي کمیتونه

## تاسې پوهیږئ چې نقشه څه شی ده او په جغرافیې کې څومره ارزښت لري؟

د ځمکې د کرې د ټول مخ یا د هغې د یوې برخې انځورولو ته نقشه ویل کیږي چې د ځمکې د کرې د دریو ابعادو (اوږدوالي، سور اولوړ والي) له پلوه په افقي دوه بعدي سطحو (په اوږدو اوسور) په یوه ټاکلې مقیاس او په ځانګړو نښو سره ښکاره کوي.

له همدې امله په نقشه کې رسم شوې بیلابیلې برخې د جغرافیې په علم کې د ډیر ارزښت ور دي.

لاندنی برخې د یوې نقشې محتویات جوړوي:

۱- د نقشې اډانه (چوکاټ) ۲-د طول البلد او عرض البلد کرښې (دایرې) ۳- کانتور کرښې ٤- د نقشې مقیاس ٥- ځانګړې نښې ٦- د رنګونو استعمال او پرداز ۷- په نقشه کې د لوري ښودنه.

نقشې مختلف ډولونه لري لکه طبیعي، سیاسي، اقتصادي، ترانسپورتي او نور... .

# طبيعي نقشې

کوم ډول نقشو ته طبيعي نقشې وايي؟




۲- انځور د افغانستان طبيعي نقشه

**طبيعي نقشې**: په دغه ډول نقشو کې د ځمکې جوړښت په څرګند ډول ښودل کيږي. لوړې، ژورې د کرښو په واسطه پرداز او انځوريږي، هره کانتور کرښه د همغې ټاکلې ساحې لوړوالی ښکاره کوي. د غرونو د لوړو څوکو لوړوالی هم په څرګندو اعدادو باندې ليکل کيږي. ولاړې اوبه، خليجونه، سمندرګې او لوی سمندرونه په آبي کانتور کرښو سره دهغو ژوروالی څرګندوي. سيندونه او غرونه دهغو له نومونو سره، درې، لوړې برخې، وادي ګانې، غاښې او کوتلونه، تونلونه، شګلنې سيمې او د ښتې په ځانګړو نښو سره ښودل کيږي، خو د لوړو برخو توپيرونه، د نقشې لورې او مقياس د نقشې په کوزه برخه کې ليکل کيږي. د سمندرونو، سمندرګيو او خليجونو ژوروالی او د کانتور کرښو د شته والي له مخې اندازه کيږي. دا ډول نقشې هيپسومتريک Hypsometric په نامه هم يادېږي.

طبيعي نقشې بيلابيل ډولونه لري، لکه د خاورې نقشه، د سيندونو او سمندرونو برخو نقشې، اقليمي نقشې، د کنګلو سيمو نقشې، دونو، بوټو او ځنګلونو نقشې او داسې نور ډولونه.

په دغه ډول نقشو کې ټوله نړۍ، يا يوه لويه وچه، يا يوه سيمه او يا هم يو هيواد انځوريږي.

## سياسي نقشې کومې ځانګړتياوې لري؟

سياسي نقشې: هغه نقشې دي چې د هيوادونو سياسي ويش، د هغو له سرحدي پولو او پلازمېنو سره يوځای ښکاره کوي. لوی او کوچني هيوادونه او د هغو تر واک لاندې سيمو سره، کامنولت

هیوادونه،قیمومیت لاندې او داسې نور د هغو د حکومت له ډول او د سیاست له څرنګوالي سره یو ځای لکه جمهوري، مطلقه شاهي، مشروطه شاهي،فدرالي جمهوریت او د خلکو د جمهوریت په بڼو ښیي. په دغه ډول



دریم- انځور د افغانستان د سیاسي ویش نقشه

نقشوکې اداري ویش، ښارونه او ښاروالي، سیمه ییز حکومتونه او ولایتونه ټول ځای پرځای کیږي ، همدارنګه په دغه ډول نقشو کې د هیوادونو پراخوالی، د نفوس شمیره او مساحت په کره توګه ښودل کیږي.

## د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې دوې ډلې شي، لومړۍ ډله به د طبیعي نقشو جغرافیایي ځانګړنې او دویمه ډله به د سیاسي نقشو څرنګوالی د خپلو ټولګیوالو مخې ته ووایي.

## پوښتنې:

۱په یوه طبیعي نقشه کې لوړې سیمې څرنګه ښودل کیږي؟

۲ . نقشه کوم مهم ټکي لري؟

۳ . طبیعي او سیاسي نقشې یوه له بلې څه توپیرونه لري؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

هر زده کوونکی دې د آسیا او اروپا د لویو وچو طبیعي یا سیاسي نقشه رسم او په بل درسي ساعت کې دې ښوونکي ته وښیي.

# اقتصادي او مواصلاتی نقشې




٤- انځور- اقتصادي نقشه

**زده کوونکي له اقتصادي نقشو څخه څرنګه استفاده کولای شي؟**

اقتصادي نقشې هغو نقشوته ويل کيږي چې د نړۍ يا د يو هيواد ټول اقتصادي مسايل او يا د هغو يوه برخه ښکاره کوي. دا موضوعات عبارت دي له: طبيعي سر چينې او تر ځمکې لاندې زيرمې، لکه: فلزات، قيمتي ډبرې، د نفتو او ګازو کانونه، د ځمکې د مخ سرچينې، لکه: د کرنې پيداوار، صنعتي فابريکې، سوداګري، واردات او صادرات د يو مملکت او يا د ټولې نړۍ ښکاره کوي.
همدارنګه په دې نقشو کې له سيندونو څخه د برېښنا د انرژۍ ترلاسه کول، د څارويو روزنه، لاسي يا ماشيني صنايع او ټول اقتصادي مسايل په دې نقشو کې ښودل کيږي.

## مواصلاتي نقشې:

په دغو نقشو کې د تګ راتګ ټولې لارې، پاخه سړکونه، په وچه باندې د اوسپنې پټلۍ، د ځمکې لاندې د اوسپنې کرښې (ميترو) ښودل کيږي. سمندري لارې او د بيړۍ چلولو کرښې، مهم بندرونه او د بيړيو د دريدلو ځايونه او سمندري مواصلاتي کرښې هم په دغه ډول نقشو کې ښودل کيږي.
هوايي کرښې، هوايي دهليز او د الوتلو کرښې هم په ملي او نړيواله کچه په هوايي مواصلاتو کې راځي. هوايي ډګرونه، د الوتلو د هرې کرښې له تم ځايونو سره، د فضايي حمل و نقل



۵- انځور- د لارو نقشه

او د هوايي ترافيکو حجم هم په دغه ډول نقشو کې ښودل کیږي.
په دغه ټولو نقشو کې ځانګړې نښې، مقیاسونه، جغرافیايي ټاکلي کمیتونه، او لورې د هغه له اساسي چوکاټ سره يو ځای په پام کې نیول کیږي.

## د ټولګي دننه فعالیتونه:

زده کوونکي به درې ډلې شي، هره ډله به د یوې مواصلاتي کرښې په هکله په خپل منځ کې مشوره وکړي او بیا به له خپل منځ څخه یو تن غوره او هغه به په ټولګي کې موضوع بیان کړي.

## پوښتنې:

۱. په اقتصادي نقشو کې کومې موضوع ګانې راوړل کیږي؟
۲. آیا کرنیز پیداوار په اقتصادي نقشو کې ښودل کیږي؟
۳. په مواصلاتي نقشو کې کوم شیان ښودل کیږي؟
٤. فضايي کرښې د ځمکنیو حمل و نقل له کرښو سره څه توپیر لري؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

هرزده کوونکی دې د افغانستان یوه مواصلاتي نقشه په کور کې رسم کړي او د مضمون ښوونکي ته دې وښيي.

## ج. د مقیاس په هکله څه پوهیږئ؟

د نقشې د فاصلې نسبت د ځمکې پر فاصلې ته مقیاس وایي. مقیاس په درو بڼو ښودل کیږي، خو په هره یوه کې یې مفهوم یو شان دی.

$$\text{مقیاس} = \frac{\text{د نقشې فاصله}}{\text{د ځمکې فاصله}} \qquad \text{Scale} = \frac{\text{Map distance}}{\text{Earth distance}}$$

مقیاس په درې ډوله دي، هر ډول یې یو د بل سره ورته والي لري.

په هر یو مقیاس کې د فاصلې واحد په نقشه کې Mapdistance چې د کسر په بڼه په صورت کې لیکل کیږي، د هغه عدد سره برابر دی کوم چې د کسر په مخرج کې لیکل کیږي او د ځمکې فاصله Earth distance ښکاره کوي چې هر یو یې په لاندې ډول بیانیږي:

### کسري مقیاس

هغه مقیاسونه چې د کسر په بڼه ښودل کیږي، هغو ته کسري مقیاس ویل کیږي او په اصطلاح کې Representative Fraction یا (RF) په نوم یادیږي، مثلاً:

د $\frac{۱}{۱۰۰۰۰}$ مقیاس: په نقشه کې یو سانتي متر د ځمکې پر مخ له لس زره سانتي مترو سره برابر دی.

یعني: د ځمکې $۱۰۰۰۰^{cm} = ۱^{cm}$ (نقشه)

یا: د نقشې $۱^{cm}$ د ځمکې $۱۰۰^{m}$ کیږي.

په لاندنیو مقیاسونو کې د ځمکې له سطحې سره د هغو برابروالی په دې توګه محاسبه کوو:

$\frac{۱}{۲۰۰۰۰}$ یا ۱cm په نقشه کې او ۲۰۰m د ځمکې پر مخ

$\frac{۱}{۲۰۰۰۰۰}$ یا ۱cm په نقشه کې او ۲۰۰۰m یا ۲km د ځمکې پر مخ

$\frac{۱}{۲۰۰۰۰۰۰}$ یا ۱cm په نقشه کې او ۲۰۰۰۰m یا ۲۰km د ځمکې پر مخ

### ګرافي مقیاس:

په دغه ډول مقیاس کې د یوې یا دوو کرښو یو ګراف په موازي توګه رسم او د ګراف هر واحد په ځمکه باندې یوه ټاکلې فاصله ښکاره کوي، لکه:



په دغه گرافي مقیاس کې دگراف هر واحد چې یو سانتي متر دی، پر ځمکه باندې لس کیلومتره واټن یا فاصله ښکاره کوي. د گراف بڼه د انځور کوونکي په مهارت پورې اړه لري چې څومره ښکلې او په زړه پورې بڼه ښکاره کولای شي.

## لفظي مقیاس:

دغه ډول مقیاسونه په الفاظو او کلماتو ښودل کیږي، د بیلگې په توگه په $\frac{١}{٥٠٠٠٠}$ لفظي مقیاس کې هر سانتي متر له نیم کیلو متر یا ۵۰۰ مترو څخه نمایندگي کوي، خو په پورتني گرافي مقیاس کې د نقشې یو سانتي متر د ځمکې له ۱۰ (لس) کیلومترو سره برابر دی.

### د ټولگي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې په ټولگي کې په دوو ډلو و ویشل شي، یوه ډله به $\frac{١}{١٠٠٠٠٠٠}$ کسري مقیاس وښيي چې څه مفهوم لري، دویم گروپ به د همدې کسر گرافي مقیاس داسې انځور کړي چې هر دوه سانتي متره له لس کیلومترو سره برابر وي.

### پوښتنې:

۱. د $\frac{١}{١٥٠٠}$ کسري مقیاس مفهوم ووایي.
۲. د ۱:۲۰۰۰۰۰۰ مقیاس څه مفهوم لري؟
۳. د $\frac{١}{٢٥٠٠٠٠٠٠}$ مقیاس څه معنا لري؟

### له ټولگي څخه بهر فعالیت:

زده کوونکي دې د پورتنیو درو پوښتنو گرافي مقیاس په خپل فکر سره ترتیب او ترسیم کړي

# په نقشه کې د رنګ استعمال او د لوري معلومول

آیا پوهیږئ چې په نقشه کې د رنګ کارول ګټور دي؟

زده کوونکي باید پوه شي چې بیلا بیل رنګونه په نقشه کې څه ارزښت لري؟

یو شمیر ټاکلي رنګونه په نقشه کې کارول کیږي او په جغرافیایي نقشه کې هر رنګ یو ځانګړی مفهوم لري. هغه مهم رنګونه چې په جغرافیایي نقشو کې کارول کیږي دا دي:

- تور رنګ د نقشې د چوکاټ، او د سیمو او ښارونو د نومونو لپاره.
- شین رنګ د کروندو، ځنګلونو او شنو جلګو لپاره.
- ژېړ رنګ د دښتو او شګلنو سیمو د ښودلو لپاره.
- آبي رنګ د سمندرونو، ولاړو اوبو، خلیجونو او سیندونو لپاره دی.
- سور رنګ باندې مواصلاتي کرښې، د ښارونو سړکونه او اداري او سیاسي مرکزونه ښيي.
- خړګري رنګ د غرونو د سلسلو ښودلو لپاره دی.
- یو شمیر نور رنګونه هم کارول کیږي چې په اقتصادي، سیاسي، بشري نقشو کې او هم له ځمکو څخه د ګټې اخیستلو د طریقو لپاره ورڅخه کار اخیستل کیږي او د هغو د ځانګړو نښو یادونه هم کیږي.




٦- انځور په نقشه کې د رنګ استعمال ښيي

د رنګونو تیزوالی او تتوالی هم مهم دی، د بیلګې په توګه په سمندرونو کې د اوبو له ۱۰ څخه تر ۱۰۰۰ مترو پورې ژور والی په تت آبي رنګ ښودل کیږي، خو ورو، ورو له ۷۰۰۰ مترو څخه تر ۱۰۰۰۰ مترو پورې ژوروالی په ډېرتیز آبي رنګ ښودل کیږي. همدارنګه د غرونو لوړوالی په خړګري رنګ ښودل کیږي. د غرونو لمنې له تت خړګري رنګ څخه پیل او منځنۍ لوړې برخې په لږ خړګري رنګ ښودل کیږي، خو په ۵۰۰۰ مترو او ۸۰۰۰ مترو لوړو برخو کې په تیز خړګري رنګ سره ښودل کیږي، که په غرنیو لوړو شوکو کنګلونه وي، په تک سپین رنګ

ښودل کیږي.
د لوست د پیل په نقشه کې د رنګونو او موضوع ګانو توپیر لیدل کیږي:
دغه ډول نقشې د هیپسو متریک په نوم یادیږي.
همدا ډول په یو شمیر نقشو کې فرهنګي مرکزونه، ژبې، دین، نژاد او یو شمیر نورې ځانګړتیاوې په بیلابیلو رنګونو ښودل کیدای شي، ترڅو لوستونکي هره یوه موضوع یوه له بلې څخه جلا کړای شي.

## په یوه نقشه کې لورې څنګه ټاکل کیږي؟

په جغرافیایي نقشو کې لورې په درې ډولونو ښودل کیږي:
۱. د نقشې په کوزه برخه کې یو وکتور (غشی) رسمیږي چې دهغه په څوکه باندې (N) توری یا (شمال) کلمه لیکل کیږي. دوکتور لاندې S یعنې جنوب لیکل کیږي.
۲. که نقشې ته په ځیر سره وکتل شي په هغې کې د طول البلد او عرض البلد دایرې رسم شوې وې. د طول البلد په اوږدوکې د هغو پورته خوا شمال لورې دی، خو ښکته خواېې د جنوب لورې ښکاره کوي.
۳. نن ورځ په نقشو کې اصلي موخه دا ده چې د هغو عنوان او نوم پورته خواته لیکل کیږي، نو په دې توګه معمولاً د نقشې پورته خوا د شمال لورې ښیي. نو که د نقشې پورته خوا شمال لورې وي، نو ستاسې ښي خوا ختیځ، کیڼه خوا لویدیځ او د نقشې ښکته خوا جنوب لورې ښیي.




TN حقیقي شمال
MGN مقناطیسي شمال
GN د مرکاتور د نقشو شمال لورې

(۷) انځور په نقشه کې د شمال لورې

خو په توپوګرافیکي نقشو کې شمال لورې په بیلابیلو وکتورونو سره ښودل کیږي:
۱. مقناطیسي شمال له جغرافیایي شمال څخه لږ څه لرې دی چې د کاناډا، د هدسن د خلیج په شمالي خوا کې موقعیت لري. دغه شمال د $MgN$ په توررو سره ښودل کیږي.
۲. ریښتیانی شمال چې همدا د ځمکې شمالي قطب دی، د قطب د ستوري په استقامت کې دی چې د TN په توررو سره ښودل کیږي، همدې ته جغرافیایي شمال هم ویل کیږي.
۳. د (UTM) یا د نقشو د خطونو د شبکې شمال (یونیورسل ترانسورس مرکاتور) دي چې د GN په

تورو باندې ښودل کيږي.

دغه د شمال ذکر شوي وکتورونه چې په بيلابيلو هيوادونو کې په بيلابيلو بڼو په لږو کوچنيو يا لږو څه لويو زاويو سره يو بل ته لږ نژدې يا لرې واقع دي. GN يا د مرکا تور د نقشو د شمال د نښې خط زياتره له طول البلد سره موازي وي، خو مقناطيسي شمال له ريښتياني شمال سره په ځينو هيوادونو کې يو برابر (منطبق)، خو په ځينو کې لږ توپيرلري او په ځينو هيوادونو کې ډير توپير لري.




## د ټولګي دننه فعاليتونه:

زده کوونکي دې درې ډلې شي او هره ډله دې د رنګونو او لوري په هکله خبرې وکړي چې په نقشه کې کارول کيږي.

## پوښتنې:

١. آبي رنګ په نقشو کې د کومو شيانو نښه ده؟
٢. څو ډوله شمال لرو؟
٣. ريښتيانی شمال په کومو تورو ښودل کيږي؟
٤. مقناطيسي او ريښتيانی شمال يو له بل سره څه توپير لري؟
٥. په نقشه کې لوړې څوکې په کوم رنګ ښودل کيږي؟
٦. په نقشه کې د ښتې په کوم رنګ ښودل کيږي؟

## له ټولګي څخه بهر فعاليت:

هر زده کوونکی دې د جغرافيايي او مقناطيسي شمال په هکله دوې دوې کرښې (کورنی دنده) وليکي او له شکل سره دې په ټولګي کې وړاندې کړي.

پنځم لوست

# د مصنوعي سپوږمکیو له انځورونو څخه کار اخیستل (دوه درسي ساعتونه)





۸- انځور د مصنوعي سپوږ مکۍ په وسیله د ځمکې د مخ انځور ښیي

تاسې د مصنوعي سپوږ مکیو د انځورونو په هکله څومره پوهیږئ؟ او دا څومره ارزښت لري؟

د جغرافیایي موضوع ګانو د تحلیل، تفسیر او شننې لپاره د مصنوعي سپوږمکیو انځورونه او عکسونه ډېر په زړه پورې او د استفادې وړ دي، باید زده کوونکي د هغو په ارزښت پوه شي.



۹- انځور د سپوږ مکۍ په وسیله د ځمکې د مخ انځور ښیي



۱۰ - انځور د ځمکې شکل د سپوږمۍ په وسیله ښيي

امریکا فضاګرځیدونکی (آرم سترانګ) د لومړي ځل لپاره په اپولو کې د سپوږمۍ پرمخ کوز شو او وګرځیدلو، نوموړي د سپوږمۍ د جاذبې په هکله وویل چې د سپوږمۍ جاذبه د ځمکې په پرتله شپږ ځلې کمه ده. څرنګه چې د سپوږمۍ پر مخ باد نه لرېږي نو د فضا نور دانو د پښو پلونه به ملیونونه کاله د سپوږمۍ پر مخ باندې پاتې شي.

د سپوږمۍ د مخ تودوخه په ورځ کې ډیره زیاته وي چې د سانتي ګراد تر (۲۱۰) درجو پورې رسیږي، خو په شپه کې د سانتي ګراد (۱۱۰-) درجو ته راټیټیږي.

له همدې امله د سپوږمۍ مخ دخاورو له کوچنیو ذرو څخه جوړ دی، اوبه پکې نشته، ونې او بوټې هم نه لري. له مصنوعي سپوږمکیو څخه د ځمکې عکسونه واخیستل شول چې ځمکه یې ګرده (کروي) ښودله او په فضا کې معلقه ده، د لمر شاوخوا ګرځي. ټولې هغه مصنوعي سپوږمکۍ چې د ځمکې پرشاوخوا ګرځي بیضوي مدار لري، په بېلابېل لوړوالي یعنې له ۷۰۰ کیلومترو څخه نیولی تر ۳۰۰۰ کیلومترو پورې لرې د ځمکې پرشاوخوا ګرځي. د مصنوعي سپوږمکیو د انځورونو له

مخې د ځمکې د قطعاتو شکل او د بحرونو غاړې په ډېره ښه توګه څرګندېږي. چې دغې پېښې له جیودیزیستانو او کارتوګرافانو سره ډېره مرسته وکړه. د ځنګلونو ساحه، شګلنې سیمې، کرنیزې ځمکې په وچه او سمندرونو کې مواصلاتي کرښې د هغه په واسطه تثبیت کیږي، ښاري پلانونه او چاپیریال په اړوند ډېر مسایل، بندرونه او سیندونه د مصنوعي سپوږمکیو د شکلونو له مخې ډېر په ښه توګه تثبیت او څرګندیږي.



۱۱- انځور

د غرنیو کنګلونو او قطبي کنګلونو څېړنه هم د مصنوعي سپوږ مکیو په واسطه تر سره شوه. لنډه دا چې هیڅ موضوع دمصنوعي سپوږمکیو د کمرو له سترګو پټه نه ده پاتې شوې.

## د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي، او هر ډله دی د مصنوعي سپوږمکیو د ارزښت په هکله بحث وکړي.

## پوښتنې:

۱. د مصنوعي سپوږمکیو انځورونه د سواحلو په تثبیت کې څرنګه مرسته کولای شي؟
۲. د مصنوعي سپوږمکیو په انځورونو کې کرنیزې ځمکې څرنګه ښکاره کیږي؟
۳. د مصنوعي سپوږمکیو د انځورونو له مخې د ځمکې کروي والی څرنګه څرګندیدای شي؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

هر زده کوونکی دې د مصنوعي سپوږمکی یو انځور پیدا او د هغه په هکله دې څلور څلور کرښې ولیکي.

شپږم لوست

# طبيعي چاپېريال:



۱۲- انځور طبيعي چاپېريال د کرهنې سيمه، هايدروګرافي غرونه او د مديترانې سمندرګي يو برخه ښکاره کوي

د ژوند چاپېريال د بيولوژيکي فزيکي او ټولنيزو ښکارندو ټولګه ده چې يو له بل سره متقابلې او تړلې اړيکې لري او دا په مجموع کې د انسانانو پر ژوند اغيزه لري.

د ژوند سالم او روغ چاپېريال د اقتصادي او ټولنيز دوامدار اوتينګ پرمختګ شرايط برابروي.

يا په بله وينا: انسان اودهغه شاوخوا، له اقليمي او ټولنيزو شرايطو سره يوځای او يوپربل د هغو ټولو اغېزې د ژوند چاپېريال بلل کيږي.

په دې توګه د ژوند چاپېريال د ژونديو او غيرې ژونديو عناصرو يو جوړښت او مجموعه ده، انسان ددغه ترکيب يوه نه جلاکيدونکې برخه ده. او دخپل ژوند ددوام لپاره ورته اړتيا لري.

د انسانانو يوه مهمه دنده له ککړتيا او ناپاکيو څخه د ژوند د چاپېريال ساتل دي. ټول هغه څه چې زموږ شاوخوا کې دي (چاپېريال) جوړوي. په چاپېريال کې ټول دوه ډوله عناصر ليدل کيږي. يوې حياتي يا ژوندي عناصردي، لکه: انسانان، ژوي، ونې- بوټي او ذره بيني کوچنې ژوندي شيان دويم يې ناژوندي شيان دي، لکه: اوبه، تيږې، خاوره او هوا. بايد وويل شي چې الله(ج) د طبيعت نظام داسې جوړکړی دی چې د هغه د اجزاوو او بيلابېلو



۱۳- انځور

برخو ترمنځ طبيعي تعادل شته. که چېرې دغه تعادل او انډول ګډوډ شي د ژوند پرچاپېريال ناوړه اغيزه کوي.

## طبيعي چاپېريال:

په طبيعي سرچينو کې د ايکوسيستم (Ecosystem) بېلابېلې برخې لکه د ځمکې قشر يا برسيرنه برخه، اوبه، اتموسفير سره د هغه ټول نفوس، حيواني او نباتي برخې، ژوندي موجودات، منرالونه، هايدروکاربنونه او نور ناژوندي شيان چې په هغې کې واقع دی، زموږ طبيعي چاپېريال جوړوي.

انسانان د خپل ژوند په ترڅ کې په دې باندې وپوهيده چې همدغه چاپېريال ددوی ګڼ شمېر



۱٤ انځور

اړتیاوې پوره کوي. نوځکه یې اړیکې په ډیره چټکۍ سره له دغو ښکارندو سره کلکې شوې او په دې اړه یې ډیرې تجربې ترلاسه کړې. انسانان وپوهیدل چې په هر چاپېریال کې له امکاناتو څخه ګټه واخلي. وچ او صحرایي ځایونه د کرنې او خوراکي توکو د تولید لپاره برابرنه وو. خوبه شنو اوښیرازه سیموکې د جهیلونو او سیندونو ترڅنګ دوی ته د ژوند د پرمخ بیولو هرڅه چمتووو، وروسته یې بیا د همدغو سیندونو ترخوا لوی لوی مدنیتونه جوړکړل. انسان هڅه کوي چې په هرځای کې طبیعي شرایط وپیژني اوخپل ژوند ورسره برابرکړي اویاهم چاپېریال ته د خپلې خوښې او اړتیاوو سره سم بدلون ورکړي هغه چاپېریال چې په هغه کې ژوند کوو، خپل ځانګړی نظم اوقانون لري. دباران وریدل، دبادلګیدل، کنګل کیدل، دبوټو راشنه کیدل، د کال د څلورو فصلونو بدلون او داسې نور ټول بدلونونه د ټاکلو قوانینو له مخې ترسره کیږي.

## د ټولګي دننه فعالیت:

د نړۍ په نقشه کې هغه سیمې چه انسان ورسره ډیرې اړیکې لري له هغو سیموسره چه ژوند کول په کې مشکل وي، پرتله او بیا له ټولګیوالو سره په برابره او نا برابره ځمکه وګړیږئ او په برخویې وویشئ.



۱۵ – انځور

## پوښتنې:

۱. د ژوند چاپېریال په تفصیل سره تعریف کړئ؟

۲. د طبیعي چاپېریال په هکله څه پوهیږئ، توضیح یې کړئ؟

۳. طبیعي چاپېریال له کومو ښکارندو څخه جوړدی، نوم یې واخلیء؟

٤. په هغه چاپېریال کې چې ژوند کړئ د نظم لاندې دی اوکه نه، په لنډ ډول یې بیان کړئ؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیتونه:

زده کوونکي دې د طبیعي چاپېریال په هکله په لنډ ډول یوه مقاله ولیکي.

# الف دځنګلونو د ورشوګانو او څړځایونو ساتنه:



۱۶ انځور

ځنګلونه د ژویو او انسانانو په ژوندکې څه اهمیت لري؟
ځنګلونه دنړۍ دایکوسیستم یوه ډېره بډایه برخه جوړوي، دا ځکه چې د یو شمېر ژویو او الوتونکو ژوند په ځنګلونو پورې تړلی دی، د فوتوسنتیز عملیه، د اوکسیجن تولیدول د هوا په پاکوالي او د اقلیم په موضوع کې د ارزښت وړ نقش لري.
د طبیعي ځنګلونو وده دطبیعت یو نعمت دی چې د ځمکې د کرې په ښکلا، روغتیا او اقلیمی برخوکې لوړ ارزښت لري. دا ځکه چې دځنګلونو شته والي د هوا په پاکوالي کې چې موږ هغه تنفس کوو ځانګړی ارزښت لري. یو شمېر خلک. په تیره بیا بومي قبایل خپل خوراکي توکي او خپلې ګڼ شمېر نورې اړتیاوې له ځنګلونو څخه بشپړوي. شنه بوټي، د فوتو سنتیز د عملیې په پایله کې د هوا کاربن دای اکساید د له منځه وړلو لپاره اهمیت لري. د ځنګلونو شتوالي او پایښت د طبیعت د توازن او د ژویو د غوره شرایطو د ساتنې لپاره او د ځمکې د ډېر تودوالي د مخنیوي په خاطر برخلیک جوړوونکي دي .
د فایو د سازمان forest International Organization (FIO) ډېرنوی تعریف، چې د رسمي مسؤولیت نوې برخه یې د ځنګلونو ساتل دي، هغه موضوع را اخلي چې آن د ښارونو د ننه شنه ساحه هم د ځنګلونو یوه برخه شمېري. د یادونې وړ ده چې د طبیعي او مصنوعي اصلاح شوو ځنګلونو ونې دوه یا درې ډوله دي، لکه او کالیپتوس، کاج سرو او نور دا ډول ځنګلونه ګڼ ځنګلونه بلل کېږي په مصنوعي سپوږمکیو کې ټول دا ډول موضوعات په تفصیل څېړل شوي او تصویرونه یې اخیستل شوي دي، د بیلګې په توګه په دې وروستیو کې Earth Resources Technology satellite یا (ERTS) په نوم مصنوعي سپووږمکی په دې هکله ډېر غوره معلومات راټول اود اپولویه واسطه – مقدماتي اونهایي نقشې یې دخیړونکو په واک کې ورکړې دي چې همدا اوس په ګڼ

شمېر څېړنيزو او اکولوژيکي مؤسساتو کې ورڅخه ګټه اخيستل کېږي دApollo مصنوعي سپوږمکۍ په واسطه په تفصيل سره دځنګلونو عکسونه اخيستل کېږي او د ځمکې پرمخ باندې يې د ځنګلونو د ساحې او د نورو بوټو د شنې ساحې توپير ښکاره کړی دی، دا پولو په عکس اخيستلو کې له سرې څخه هغه خوا وړانګې څخه کار اخيستل شوی دی چې د هغې په واسطه سره ځنګلونه په څلورو برخو وېشل شوي دي:



١٧
انځور

١- ستن پاڼې ځنګلونه (مخروطي ونې).
٢- پلن پاڼې اوپاڼېريز ځنګلونه.
٣- له پورتنيودواړوډولونو څخه ګډځنګلونه Mixed Foreast Starts .
۴- چترته ورته استوايي ځنګلونه

عملي څېړنوښودلې ده چې پرته له دې چې ونې هواپاکوي اوطبيعي چاپيريال ښکلی کوي داکسيجن کميت او کيفيت هم ساتي. يوه ونه د کميت له لحاظ څه ناڅه ١٨ تنوته اکسيجن توليدوي، نودخپل ځان او د خپلو ښاريانو روغتيا، د اکسيجن د توليد او د هوا د پاکوالي په خاطر ونې کينوي.

**ب- د بوټو او څړځايونو ساتنه**: انسان په خپل طبعي چاپيريال کې کولای شي چې د خپلې اړتيا وړ بوټې اصلاح او نور يې هم ډيرکړي. په کرنه کې د غلو- دانو کرلو او د ځمکې قولبه کولو انسان ته د دې وخت ورکړ چې خپل شاوخوا طبيعي چاپيريال کې بېلابېل بوټې وکري او هغوسره خپلې لومړنۍ اړتياوې پوره کاندي . دوی څړځايونو اوځنګلونوته غوره پاملرنه کړې، په هغوبرخوکې يې لازم بدلونونه دخپل ځان اونوروژويوپه ګټه راوستي دي . موږ بايد ترهرڅه مخکې بوټې اوڅړځايونه په ښه ډول وساتوچې غوره حاصلات ولرو . بايد د هرې سيمې اقليمي وضيعت وڅېړل شي اوهلته داسې بوټې وکرل شي چې دسيمې له اقليم سره برابروي اوغوره حاصل ورکړي. داځکه چې داوبو سرچينې د څړځايونو او د کرنيزو ځمکو لپاره په ښه ډول تر ګټې لاندې ونيول شي. د دې موخو لپاره بايد



١٨
انځور

لازم تدبیرونه ونیول شي او د اوبو د لاسه وتلو مخنیوی وشي.

**د څرځایونو اصلاح اوبیارغاونه**: څرځایونه باید هرکال وڅیړل شي، ترڅو دهغه واښه اوبوټي له منځه ولاړنه شي، دا ځکه چې د نباتي فرش هغه څرځای چې پریمانه اوبه لري او د واښو کیفیت د څر په روزنه او د هغو په حاصل باندې سیده اغیزه لري . باید د څرځایونو سیمې په ټاکلو پولو او نښو سره کنترول شي، دا ځکه چې د څرځای د سیمې کمښت او د وچکالۍ نښه بلل کیږي. وچکالي نه یوازې له څارویو بلکې د کرنیزو حاصلاتو پر کمیت او کیفیت هم ناوړه اغیزه لري. هڅه دې وشي چې له څرځای څخه زیاته ګټه وا نه خستیل شي، دا ځکه چې د بوټو ریښې له منځه ځي اوځای په یوه لوڅه ځمکه بدلیږي، ډیره به غوره وي چې د هیواد طبیعي څرځایونه اصلاح او د څارویو د څر ورتیا په هغوکې لوړه شي. په دې توګه به له هغو بوټو څخه غوره استفاده وشي چې په سیده توګه خلک ورڅخه کار نه شي اخیستل کیدای او عالي حیواني محصولات به ورڅخه تولیدشي. باید په څرځای کې څرداسې تنظیم شي چې دهغوله منځه تللو لامل نه شي. هڅه دې وشي چې نوي څرځایونه جوړ او ویجاړ شوي څرځایونه بیرته ورغول شي او د څرځای د اصولو په رعایت کولوسره د مالدارانو د استفادې وړ وګرځي، له بده مرغه په هیوادکې دایمي او موقتي څرځایونه د وچیدو او له منځه تلو په حال کې دي، د پسونو رمې د واښو د کمښت له امله ډنګرې او ناروغه شوې او آن داچې له منځه ځي، نو ځکه باید د څرځایونو لا پراختیا ته پاملرنه وشي.

## د ټولګي دننه فعالیتونه:

زده کوونکي دې په ډلوویشل شي اوهره ډله دې دځنګلونودساتنې، ځنګلونو دګټې، له ځنګلونو څخه داستفادې، دځنګلونو دله منځه تلو مخنیوي وکړي زمونږیه چاپیریال باندې دځنګلونو داغیزې، د بوټواوڅرځایونودساتنې اوله دغوبوټواوڅرځایونو څخه دانسانانو داستفادې په هکله دې یوبل سره خبرې اترې وکړي، وروسته دې دهرې ډلې استازی دخپلو خبرو اترو پایلې ټولګیوالو ته ووایي.

## پوښتنې:

۱- ځنګلونه څه ډول اقتصادي ارزښت لري،توضیح یې کړئ؟

۲- تاسو څو ډوله ځنګلونه پیژنئ؟

۳- څرځایونه اوبوټي څرنګه ساتلای شو؟

۴- له بوټواوڅرځایونوڅخه څرنګه استفاده کولای شو؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیتونه:

زده کونکی دی د ځنګلونو او څر ځایونو د ارزښت په هکله یوه مقاله ولیکی.

## ج- د وحشي ژویو او ملي پارکونو ساتنه:



۱۹ انځور وحشي ژوي

زموږ په ګران هیواد افغانستان کې په عمومي توګه د مدیترانه یي چاپیریال، نیمه استوایي، معتدله او نیمه قطبي چاپیریالونو کې سره ورته ژوي شته. له دې پلوه افغانستان د نیمه قطبي او نیمه استوایي سیمې ترمنځ د وحشي ژویو لپاره یوه نښلوونکې کړی ده. وحشي ژوي په غرونو او ځنګلونو کې ژوند تیروي. ځوکاله مخکې د نورستان په ځنګلونو کې یړه وه او د آمو د غاړو د لوخو په ځنګلونو کې Tiger ډوله پړانګان هم وو. Leopard پړانګان د هندوکش په ډېرو لرې سیمو کې وو، خو وحشي خره یا ګوره خره (Wild Ass) د هیواد په جنوب لودیځ کې موندل کیدل. لیوان (Wolf)) به په وچکالیو کې له غرونو ښخه راکوزیدل، خو په نور وختو کې به په غرونو کې اوسیدل. سرې ګیدړې، (Red Fox) چې ځانګړې طبي ارزښت لري، هم د هیواد په مرکزي او شمالي غرونو کې موندل کیږي . وحشي پسونه او غرنۍ وزې د واخان په دره او د هغې په شاوخوا کې شته . غرنۍ وزې د افغانستا ن په شمالي سیمو کې هم شته. د هندوکش د غرونو لړۍ د نیمه قطبي او نیم استوایي سیمو ترمنځ یوه بیلوونکې پوله ده، له همدې امله د هندوکش په جنوب ختیځ کې بیزوګیان (Monkey) موندل کیږي چې د نیمه استوایي سیمو ژوي دي، خو سور لنډیان په ټولو سیمو کې شته. موږ باید د هغو د نسل د ساتنې په برخه کې هڅې وکړو چې له منځه ولاړ نشي، دا هم باید وویل شي چې وحشي ژوي د انسانانو د ژوند له سیمو ښخه لرې وي، دا ځکه چې کیدای شي وحشي ژوي انسانان او د دوی ښاروي وداړي.

## له وحشي ژويو څخه سمه او تل ترتله ګټه اخيستل:

- په يوه سيمه کې د الوتونکو او ژويو ډېر زيات ښکار کول د هغوی د له منځه تلو لامل کيږي .

-له الوتونکو او ژويو څخه بايد سمه ګټه واخيستل شي، د بيلګې په توګه هغه چې ډېر لږ دي او روغ وي بايد ښکار نه شي، د وحشي ژويو د تل ترتله پاتې کيدو په خاطر دې هغه ژوې ښکار شي چې شمېر يې د طبيعت له ظرفيت څخه وتلی وي او موجوديت يې ممکن د بې نظمۍ او د سيمې د ايکوسيستم دګډوډۍ لامل شي.

- که د ښکار له قانون سره سم دې په منظم او غوره توګه د ژويو ښکار ترسره شي، کيدای شي د هغو له غوښې او پوستکي څخه د هيواد د اقتصاد په پياوړي کولو کې ګټه واخلو.

-د تل تر تله ګټې په خاطر بايد د ژويو له ډله ييزه ښکار او په ګړنديو موټرو سره د هغو له ځغلولو، پرمختللو ټوپکونو او زهري او چاوديدونکو موادو څخه کار وا نه خيستل شي، ځکه چې دا ډول ښکار د هغوی ټول نسل له منځه وړي.

**د ژويو او الوتونکو د له منځه تلو د مخنيوي لارې- چارې:**

۲۰ انځور



-د ښکار د قانون وضع کول (په هغه کې د دولتي جوازنامې اخيستل، د ښکار د وخت ښودل، د ژويو جنس او عمر بايد وښودل شي ).

- د وحشي ژويو د اوسيدلو د ځايونو له ويجاړولو څخه مخنيوی.

- د ژويو او الوتونکو په پټنځايونو کې د انسانانو د هر ډول لاسوهنې او ويجاړولو مخنيوی.

- د خلکو د ذهنيت روښانه کول او د هغوی د پوهې د کچې لوړول او د هغوی د عادتونو بدلول.

**د ملي پارکونوساتنه**: ملي پارک هغه طبيعي ارزښت لرونکې سيمه ده چې پراخوالی يې له زروهکتارو څخه زيات او د هغې ساتنه د دولت له خوا وشي. ملي پارکونه ديوې ټولنې دوګړو لپاره ګډه ملي شتمني ده، نو بايد په ښکلي. او سمه بڼه وساتل شي، ځينې وخت دې ډول پارکونوته خلک د تفريح په خاطر هم ورځي. ملي پارکونه بايد تل پاک وساتل شي. زمونږ ګران هيواد يو شمير د ښکلو منظرو لرونکي ملي پارکونه لري چې زمونږ د خلکو لپاره د دمې او تفريح ځايونه دي، د جګړويه کلونوکې زمونږ د هيواد ملي پارکونوته ډير زيات زيان واوښت او د هغوونې او بوټې وچ او وحشي ژوی يې دله منځه تلو په حال کې وو، خوله جګړې وروسته ورته بيا پاملرنه شوې ده، دبيلګې په توګه د کابل، قندهار، هرات پارکونه د امير بند او د مملة باغ، آجردره، او نور.



۲۱ انځور

### د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې ډلې ډلې شي،هره ډله به د وحشي ژویو د ساتنې، له وحشي ژویو څخه غوره ګټې اخیستلو، د وحشي ژویو د ډولونو، د وحشي ژویو د اوسیدو د سیمو، د ملي پارکونو د ساتنې او له هغه څخه د استفادې په هکله خبرې وکړي او بیا به د هرې ډلې استازی د خپلو خبر و اترو پایله ټولګیوالوته ووایي.

### پوښتنې:

۱- زموږ د هیواد وحشي ژوي د کومو سیمو د ژویو په شان دي؟

۲- له وحشي ژویوڅخه څه ډول استفاده کیږي؟

۳- وحشي ژوي په هیواد کې کوم اقتصادي اهمیت لري؟

۴- ملي پارک تعریف کړئ؟

۵- ملي پارکونه څرنګه وساتو؟

### له ټولګي څخه بهرفعالیت:

زده کوونکي دې د هیواد د وحشي ژویو د ډولونو او د ملي پارکونو د ساتنې په هکله مقاله ولیکئ

.

نهم لوست:

# د اوبو، خاورې او هوا ساتنه:



۲۲ انځور

تاسې پوهيږئ چې درې حياتي عناصر کوم دي؟

د ځمکې د مخ په سلوکې ۷۱ برخې اوبو نيولې دي، اوبه د ژوند سرچينه ده. انسانان، ژوي او نباتات د ژوند د کولو له پاره اوبو ته اړتيالري، په واقعيت کې د ټولو ژونديو شيانو ژوند اوبو پورې تړلی دی. د ژونديو شيانو د بدن د جوړښت زياته برخه اوبه دي .اوبه د انسان په ورځنی ژوند کې لومړنی نقش لري. په کرنيزو- صنعتي او کورنيو چارو کې ډيرې اوبه په کار کيږي، خو له بده مرغه د ډير اضافي لګښت او د صنعتي او انساني نورو فعاليتونو له امله د اوبو ککړيدل، د اوبو سرچينې له ګواښ سره مخامخ کړې دي، نو د اوبو ساتنه د هر وګړي دنده ده، دا ځکه چې د اوبو ککړتيا د انسانانو، څارويو او- بوټو ژوند له کلک خطرسره مخامخ کوي.

**خاوره** Soil:

د ځمکې د مخ پورتنی طبقه د خاورو له کوچنيو ذراتو، هوا، اوبو او ډيرو کوچنيو ذره بينی موجوداتو څخه جوړه شوې ده. خاورې د فزيکي او کيمياوي تعاملاتو له امله تشکيليږي، فزيکي او کيمياوي شرايط د اقليم په څرنګوالي پورې اړه لري. خاوره بيلابيل ډولونه او بيلابيلې طبقې لري، خاوره ژوندي کوچني موجودات او هومس Humus هم لري چې د بوټو، کوچني ژوندي موجودات او بکترياوو له تجزيې څخه حاصليږي. خاوره د ونو- بوټو د ودې، د کرنې او د څارويو د روزنې مهم عامل دی چې د ځمکې د مخ د ټولې حياتي مجموعې لپاره خوراکي توکي برابروي، خوکه چيرې انسان په سم ډول د خاورې ساتنه ونه کړي، خاوره به ډير ژر وشړيږي او له استفادې څخه به ووځي، نو بيا د هغې د

جوړیدو لپاره کلونه کلونه وخت په کار دی. په دې توګه خاوره یوه ډېره ارزښت لرونکي ماده ده چې انسان له هغې څخه په استفادې سره د خوراکي او صنعتي توکو د تولید په خاطر کرنه وربانديې کوي. کله چې د زيات اورښت له امله سيلاوونه راوځې، دغه سيلاوونه حاصل ورکوونکی غوره خاورې له ځان سره وړي. د خاورې دا ډول شړيدل هغه وخت لازياتيږي چې د خاورې پرمخ بوټي نه وي، په دې حالت کې اوبه ډېرې ګړندۍ بهيږي او خاوره ځان سره وړي.

**هوا**:



۲۳ انځور

هوا زموږ په ژوند کې مهم رول لري موږ ټول بايد د خپل ژوند د دوام په خاطر د هوا له جوړښت او وضعيت څخه خبر اوسو. ټول ژوندي موجودات هوا او اکسيجن ته اړتيا لري . د هوا په جوړښت کې په سلوکې ۷۸ نايتروجن او ۲۱ اکسيجن شته، د دې ترڅنګ اوزون($O_3$ ) هم پکې شته چې زموږ د تنفس لپاره اکسيجن ډير ضرور دي. نباتاتو کې د فوتوسنتيز عمليه کې اکسيجن ته اړتيا لري، نو ځکه بايد مونږ خپله شاوخوا هوا ککړه او ناپاکه نه کړو او د پاکې او صافي هوا د لرلو په خاطر بايد د خپل چاپيريال په پاك ساتلو سره د هوا نظافت مراعات کړو او صنعتي فابريکې بايد د هوا پاکوالي ته پام وکړي. د ښار د هوا د پاك ساتلو په برخه کې بايد پاملرنه وکړو چې هوا ککړه نه شي او د کاربن دای اکسايد ($CO_2$) ګاز، لوګي او مضر شيان په هوا کې خپاره نه شي .

### دټولګي دننه فعاليتونه:

زده کوونکي دې درې ډلې شي، هره ډله دې د هوا، اوبو او خاورې د ساتنې د ګټورتوب په هکله يو له بل سره خبرې اترې وکړي او د هرې ډلې استازي دې د خپلې ډلې د خبرو اترو پايله خپلو ټولګيوالو ته ووايي .

### پوښتنې:

۱- اوبه د ژونديو موجوداتو په ژوند کې څه اغيزه لري؟
۲- خاوره څه شی ده؟ له هغې څخه څه ګټې اخلو؟
۳- هوا زموږ په ورځني ژوند کې څه اهميت لري؟

### له ټولګي څخه بهر فعاليتونه:

زده کوونکي د ې د اوبو، خاورې او هوا د اهميت په هکله يوه لنډه مقاله وليکئ.

# له ککړتیا څخه د کلیو او ښارونو د هوا ساتنه او مخنیوی



۲٤ انځور د فابریکې دود چې هوایې ککړه کړیده، ښیي

په کلیو او ښارونو کې د هوا د ککړتیا په هکله معلومات لرئ؟

هغه اضافي ماده چې په هواکې ګډه شي او د هغې فزیکي، کیمیاوي ځانګړتیاوې چې حیاتي شرایطوته بدلون ورکړي، د هواککړتیا بلل کیږي.

د کابل د ښار بې حده پراختیا چې د ماستر پلان پرخلاف ده، د نفوسو زیاتوالي، د ترانسپورتي وسایطوله حده ډېر زیاتوالی، په تیره بیا په ښارکې د زړو او له وخت څخه اوښتو ترانسپورتي وسایطو ګرځیدل راګرځیدل، د بې کیفیته تیلو اوګازو استعمال او یو شمېر نور لاملونه لکه په حمامونو کې دربړسوځول، په داشونو کې د پلاستیکونو او سوځیدلو مبلائلو سوځول، په کورونو، د ښار سوداګریزو ځایونو، کلیو هټیو او یوشمیرمؤسساتو کې د دغه ډول موادو سوځول د هوا د ککړیدو لامل شوي دي چې په لاندې توګه توضیح کیږي:

* د ترافیکو او عراده جاتو ستونزه.
* په نقلیه وسایطو کې د زړو ډیزلي انجنونو لګول.
* هیواد ته دننه د سوداګرو له خوا د زړو وسایطو واردول.
* په نقلیه وسایطو کې د بې کیفیته نفتي او د سون توکو استعمالول.
* د حلقوي سړکونو د نشتوالي له امله د ښار دننه د نقلیه وسایطو ګرځیدل اوګڼه ګوڼه.
* د ښار دننه د پخوانیو ماډلونو او زړو وسایطو ګرځیدل راګرځیدل.

* د ښار دننه لږ سور لرونکي سړکونه.

* د خلکو د اړتیاوو د پوره کیدو په خاطر د ښاري منظم ترانسپورتیشن (دملي بس وسایطو) نشتوالي.

* د ښار دننه او ښار ته د ننوتلو په دروازو کې د وسایطو د پارکنګ لپاره د ځای نشتوالي.

* په ښارونو کې د کڅه سړکونو له امله د خاورو او ختو ډیروالی او په سړکونو کې د هرې ورځې د خاورو خځلو او د اورښت له امله د ختو ډیروالی.

* د ماسترپلان په خلاف کورونو او ودانیو په مخه کې د پرانیستې فضا نشتوالی اود استوګنځي ستونزې.

د پورتنیو توضیحاتو په پام کې نیولو سره د کابل ښار د افغانستان د ټولو ښارونو په پرتله تر ټولو ککړه هوا لري.

* دکابل په ښار کې د نفوسو شمیر له څلورنیم میلیونو څخه تر پنځومیلیونو پورې رسیږي.

* د ښار په بېلابېلو برخو کې د شنې ساحې او ځنګلونو نشتوالی یوه لویه ستونزه ده.

* د ښار د سړکونو تر غاړو د ګرځنده پلورونکو او طوافانو شتون چې چاپیریال یې په بشپړه توګه ککړ کړی دی.



۲۵- انځور دکثافاتو د اچولو او مینځلوله کبله دکابل سیند چټلوالی ښیي

* په ژمي کې د لرګيو، د ډبروسکرو، ډيزلو او د څارويو په خوشيو باندې د کورونو تودول.
د کاناليزيشن ستونزې:
* په عمومي توګه په ټول کابل کې له نفوسو د زياتوالي سره سره معاصر او روغتيايي کاناليزيشن نشته، د ښار په مرکز او د هغه شاوخوا ناحيو کې د صنعتي فابريکو شتوالی.
* د ښار دننه او په فابريکو کې له ډيزلي جنراتورونو څخه کار اخيستل.
* په حمامونو، د ډوډۍ پخولو اوخښتو په بټيو کې د مبلايلو، ربړونو او پلاستيکو سوځول.
* ګډ ښاري کلتور.
* د ښار او کليو په هره څنډه کې د خاورو خځلو اچول.
* د ګڼ شمير ودانيزو شرکتونو له امله د شګو، خاورو، چونې، او خښتو شتوالی.
* کچه سړکونه چې تخنيکي عوارض لري.
* د ښار دننه د ساختماني او ارتزاقي توکو د ګدامونو آبادول.
* د تيرو ميدولو ژرندو (کرش) او د نورو ودانيزو توکو د چمتوکولو د ماشينونو فعاليت چې خاورې او دوړې توليدوي.
* د مسئوولو ادارو لکه ښاروالیو، روغتيايي ادارو، رسنيو او نورو له خوا د څارنې او کنترول نشتوالی.
* د ځانګړو وسايلو په واسطه په هوا کې د ګرد او غبار او نورو کوچنيو ذراتو نه اندازه کول ترڅو د هوا په ککړتيا باندې نظارت موجود وي.
۱- له لس مايکروګرامو څخه د کوچنيو ذراتو شتوالی چې د تنفسي جهاز له انساجو څخه تيريږي او د انسان سږو ته ننوځي او په پايله کې راز راز تنفسي ناروغۍ رامنځته کوي.
۲- مايکروبي کوچنۍ او له ۲،۵ مايکروګرامو څخه واړه شيان چې په سيده توګه وينې ته ورځي او د انسان په وجود کې د وينې سرطان رامنځته کوي.
* د رسنيو دنده ده چې له دغو ټولو موضوعاتو څخه خلک خبر کړي . د څيړنو له مخې د کابل د ښار په هوا کې د کوچنيو ذراتو د خپريدو له امله هر کال په هوا کې ۱۷۳۶۳ ټنه دغه ډول مواد اضافه کيږي.
* په هوا کې د نايتروجن دای اکسايد اندازه د هوا په ککړتيا کې ۶۱۸۳۱ ټنه کيږي.
* د هوا په ککړتيا کې د سلفرو اکسايد اندازه ۲۴۴۸ ټنه کيږي.

* د کاربن مونو اکساید اندازه ۹۷۰۶۰۸ ټنه کیږي.

* د کاربن دای اکسایداندازه ٦٥٠٨٤٦ټنه کیږي.

* د هوا په ککړتیا کې د موجوده ذراتو د اعظمي تمرکز منځنی حد په ۲۴ ساعتونوکې په لاندې توګه محاسبه شوی.

په داسې حال کې چې ۵۰ مایکروګرامه ستندرد، له ۵۰ څخه تر ۱۰۰ مایکروګرامو پورې نورمال حالت ښکاره کوي له ۱۰۰ مایکروګرامو څخه پورته غیر نورمال حالت دی چې د فضایي خیړنو له مخې موجوده ذرات په یومکعب متر هواکې ۳۶۱، ۲۴ او ۳۷ مایکروګرامه کیږي چې دغه اندازه زموږ ښاریانو ته له حد څخه زیات روغتیایي زیان اړوي .

## په ټولګي کې دننه فعالیتونه:

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي، هره ډله دې د یوې موضوع په اړه د بیلګې په توګه د ښارد هوادککړتیا، د چاپیریال ساتنې، د هوا د ککړتیا د علتونو، د هوا دککړتیاپه مخنیوي کې د انسانانو ونده او روغتیا ته د هوا د ککړتیا د زیان په هکله یو بل سره خبرې اترې وکړي او بیا دې د هرې ډلې استازی د خپلو خبرواترو پایلې خپلو ټولګیوالو ته ووایي.

## پوښتنې:

۱- کوم عوامل د ښار او کلیو د هوا د ککړیدو لامل کیږي؟

۲- څرنګه کولای شو چې د هوا د ککړتیا مخه ونیسو؟

۳- ککړه هوا انسانانو او نورو ژویو ته کوم تاوان ورپیښوي؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

زده کوونکی دې د ښار هوا د ککړتیا او د هغې د زیان په هکله یوه مقاله ولیکي.




انځور ٢٦ د افغانستان ،پاکستان، تاجکستان او ازبکستان زلزله لرونکي سیمې ښیي

د زلزلې په هکله څه پوهیږئ؟

زلزله د ځمکې د مخ ضعیف یا قوي لړزیدو ته ویل کیږي چې په سیمه ییزه بڼه واقع کیږي او ښې شاوخوا خپریږي. د زلزلې شدت او دوام مالي او ځاني خطرونه لري چې باید د پوهنې وزارت زده کوونکي د ښوونځۍ او لوست په چاپیریال کې ورڅخه خبروي او د خطرونو د کمښت لپاره یې پوره چمتووالی ولري.

زلزله څرنګه پېښیږي؟

- الله تعالی مسبب الاسباب دي په کائیاناتو کې هر رنګ تغیر د رامنځ ته کیدلو نسبت هغه ذات ته کیږی.

د زلزلې پېښېدل درې علتونه لري:

١. تکتونیکي لامل
٢. د اور غورځوني لامل
٣. پلو تونیکي لامل

١. تکتونیکی لامل په سیده توګه د ځمکې د مخ بېلابېلو پلیټونو پورې اړه لري. مونږ پوهیږو چې د ځمکې مخ له بېلابېلو پلیټونو څخه جوړ دی. کله چې دغه پلیټونه یو د بل په وړاندې بې موازینې شي، نو یو پلیت د مقابل پلیت په لور حرکت کوي، نو ځکه په دغه سیمه کې زلزله پیښیږي. ( ٢٦ ) شکل کې، د ځمکې غټ پلیټونه، لکه: ایروشیا، د هند

او استراليا پليټ، افريقا، شمالي امريكا، جنوبي امريكا، انتاركتيك او يو شمير نور واړه پليټونه وګورئ. په افغانستان کې د هند او ايروشيا د پليټونو خوځښت زلزله رامنځته کوي چې زياتره له بدخشان څخه د چترال ترسيمو او تاجکستان پورې پيښيږي.



۲۷ - انځور د زلزلو مرکز ښيي




۲۸ - انځور تکتونيکي هستې ښيي

۲. آتشفشاني يا د اور غورځوني لامل: په مديترانه کې د سيسلي او وزو د سيمې، د آسيا د ختيځ سواحلو او د امريکې د لويديځ سواحلو آتشفشانونه د زلزلې د پيښيدو مهمې بيلګې دي چې په جاپان، لرې ختيځ، کلفورنيا او د امريکې په غربي څنډوکې لويې او کوچنۍ زلزلې رامنځته کوي.

۳. پلوتونيک زلزلې: دا په اصل کې د مګما د طبقې د مخ پورته (صعودي) حرکت فشاري دی چې د تودوخې د ګرځيدلو له امله ځينې ځايونو کې زلزله رامنځته کوي. خو ددې پرتله دوه مخکنې ياد شوي لاملونه د ځمکې پرمخ ډيرې زلزلې رامنځته کوي.

## د ټولګي دننه فعاليتونه:

زده کوونکي دې په دوو ډلوو ويشل شي: لومړۍ ډله به د تکتونيکي زلزلو د سيمې نقشه رسم کړي، دويمه ډله به د اور غورځونې زلزلې ساحه په نقشه کې په نښه کړي.

## پوښتنې

- زلزله تعريف کړئ.
- تکتونيکي زلزلې څرنګه او چيرته پيښيږي؟
- اورشيندونکي زلزلې چيرته ډيرې پيښيږي؟

## له ټولګي څخه بهر فعاليتونه:

زده کوونکي دې د نړۍ د نقشې پرمخ د زلزلې سيمې په سره رنګ وښيي.

# د زلزلې خطرونه



۲۹- انځور د زلزلې خرابي د هیواد د شمال په روستاق کې ښیي

- آیا زده کوونکي پوهیږي چې د زلزلې خطرونه څرنګه باید کم شي؟

دا ښکاره ده چې زلزله نشي اټکل کیدای، خو د هغې له امله د پیښیدونکو خطرونو مخه نیولای شو. د زلزلې د زیان کمښت ته باید چمتووالی ولرو او تر ممکن حده پورې یې خطر لږ کړو.

• په زلزله لړونکو سیمو کې باید ودانۍ دغرونو په لمنو، رسوبي ځمکو او پستو خاورو کې جوړې نه شي.

• په ښوونیزو ځایونوکې باید ټولګي او غونډې په ماتیدونکو او د لږ مقاومت لرونکو ودانیو کې جوړې نه شي.

•په ښارونو کې باید ګڼ میشته ځایونه په بېلوبېلو برخو وویشل شي، تر څو د زلزلې زیان کم شي.

• د بنسټیزو جوړښتونو کلکوالي ته پاملرنه.

• په زلزله کې ودانۍ نړیږي، اور لګیږي او آن د ځمکې پر مخ سوري او درزونه جوړیږي، نو ځکه د زلزلې پر مهال د خبرتیا اولارښوونې سیستم ته اړتیا شته، له همدې امله د پوهنې وزارت زده کوونکو او خلکوته خبرتیا او پوهاوی ورکول د ټولنیزو رسنیو او دولتي موسسو دنده ده چې خلک د زلزلې د زیان په وړاندې په عملي توګه چمتو شي.

• د زلزلې په اړه باید موضوعات په عملي، دقیق، مستند او څرګند ډول پرته له خرافاتو وویل شي چې د ټولنې ذهن ګډوډ نشي.

• په ښوونځیو کې د ښوونکو دنده ده چې د زلزلې دخطر په هکله خبرې وکړي او د چمتووالي په هکله زده کوونکوته فلمونه وښودل شي، باید ښوونځي او ټولګي وڅارل شي او د زلزلې په اړه مقدماتي چارې تر لاس لاندې ونیول شي.

## د ټولګي دننه فعالیتونه:

د زلزلو خطرونه ډیر په کومو ځایونو کې منځته راځي؟
زده کوونکي دې په دې هکله د موقت او دایمي ټولنو ځایونه لست کړی او په ټولګي کي دې یې ولولي.

## پوښتني

١. ستاسو د اوسیدلو په سیمه کې ګڼ میشته ځایونه کوم دي؟
٢. کوم ډول ځایونه په زلزله کې ډیر زیانمن کیږي؟
٣. د زلزلې خطرونه څرنګه کمولای شو؟
٤. د ودانۍ کلکوالي څرنګه اټکل کیدای شي؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیتونه:

زده کوونکي دې په ١٠ کرښو کې د زلزلې د زیان د کمښت په اړه یوه یوه مقاله ولیکي او ټولګي کې دې ولولي.

# د زلزلې د اندازې اټکل کول




۳۰- انځور د زلزلو د امواجو ډولونه ښيي

زلزله څرنګه اندازه کيږي؟

هر څه د اندازه کولو ټاکلی واحد لري. د وزن واحد کيلوګرام، من او پاودی. د واټن واحد متر او کيلومتر، فټ او ميل دی. نو د زلزلې د ټکانونو د قوې د اندازه کولو واحد مرکالي او ريختر دی. د زلزلې د ټکانونو له امله د کور لوښي او سامانونه خوځيږي. د زلزلې څپې په بېلابېلو بڼو خپريږي. په دري ډوله دي

۱. لومړنۍ څپې Primary waves

۲. دويم ډول څپې ټکانونه او ضربې Secondary waves

۳. سطحي او برسيرن امواج (څپې) Surface waves

**ډېره سپکه زلزله**:

۱. د ټکان اغيزې په زلزله ښوونکي ماشين کې نه ثبت کيږي

۲. ټکان باندې پوازې انسانان پوهيږي او ځوړند شيان خوځيږي

**سپکه زلزله**:

۳. په ودانۍ کې خوځښت تر سترګو کيږي او ځوړند شيان پوره خوځيږي

٤. ځوړند شيان ډېر ګړندي خوځيږي، کړکۍ او دروازې ښوري، د کړکيو او دروازو په چوکاټ کې درزونه راښکاره کيږي.

**منځنۍ زلزله:**

۵. خلک له ودانۍ څخه بهر هم په زلزله پوهیږي، کوچني شیان بېځایه کیږي، پر دیوال باندې ځړول شوي انځورونه خو ځیږي.

یو څه کلکه زلزله:

۶. ټکان لازیات احساسیږي، خلک له کوټو څخه بهر وزي، له الماریو څخه لوښي را لویږي.

**کلکه زلزله:**

۷. انسان خپل واک له لاسه ورکوي، ودانیو کې هرڅه بېځایه کیږي، موټر چلوونکي په خپل موټر کې په زلزله پوهیږي، کانکریټي ویالې و یجاړیږي.

۸. د موټر تګ اغیزمن کیږي، ودانۍ نړیږي.

**ډېره کلکه زلزله:**

۹. ودانۍ غورځیږی، د اوبو زیرمې شړیږي، د ځمکې پرمخ درز او ماتوالی لیدل کیږي، لرګین پلونه ماتیږي، د اوسپنې پټلۍ خپل توازن له لاسه ورکوي، لوی کاڼي بېځایه کیږي، ځنې وخت شیان پورته غورځي او پایپ لاینونه ویجاړیږي.

زلزلې په رسوبي سیموکې ډېرې لیدل کیږي، خو په غرنیو سیمو کې ودانۍ د غرونو له کمرونو سره یو ځای خوځیږي.

## د ټولګي دننه فعالیتونه:

زده کوونکي دې دوې ډلې شي، هره ډله به د سپکې او کلکې زلزلې ځانګړتیاوې ووایي.

## پوښتنې:

۱. په کوم وخت ودانۍ خوځیږي؟

۲. د اوسپنې پټلۍ د ریختر په کومه درجه کې له ځایه بې ځایه کیږي؟

۳. د زلزلې پیژندنه د کوم لویدیځ عالم له خوا په ټاکلي مقیاس سره وښودل شوه؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکی دې له خپلو میندو- پلرونو څخه وپوښتي چې څه وخت د دوی په سیمه کې کلکې زلزلې پیښې شوې وې او څه اغیزې یې کړې وې. دخپل بحث په نتیجه یې دې په ټولګې کې خبرې وکړي.

# د هیواد زلزله لړونکې سیمې




۲ ۳- انځور د هیواد زلزله لړونکې سیمې

زمونږ د هیواد زلزله لړونکې سیمې کومې دي؟
که د افغانستان نقشې ته په ځیر سره وکتل شي، د زلزله سنجوونکو ریکارډونو له مخې، دافغانستان زلزله لړونکې سیمې زیاتره په شمال ختیځ کې دي، خو جنوب لویدیځ خواته د زلزلو قوت وار په وار کمښت مومي. د پامیر، واخان، فیض آباد، تخار، خان آباد، د کنړ په شمال او نورستان کې هر کال خوځو ځله قوي زلزلې کیږي.
د سیمو له دغو ټکانونو سره یوځای، زیات شمیر ماتوالی (د روزونه) هم تر سترګو کیږي چې یو شمیریې په ننګرهار، بدخشان، کابل او غزني کې تر دي.
د دغو ماتو کربنو ترخنګ یو شمېر سیمه ییزې زلزلې هم منځته راځي چې په دې لړکې د هرات، چمن او بدخشان ماتې کرښې (درزونه) ډیرې د پام وړ دي.
نو له دې امله په افغانستان کې زلزله لړونکې سیمې په څلورو برخو ویشو:

### ۱. د کلکو زلزلو حوزه:

له پامیر څخه پیل، د بدخشان، نورستان او کنړ د ولایتونو ډیره برخه یې نیولې ده، وریسې د بلخ د ولایت جنوب او د جوزجان ولایت پورې رسیږي. د جنوب ختیځ په لورې د پکتیا، پکتیکا اوغزني ځنې سیمې د یوې پټې په بڼه پراخوالی مومي او د کندهار ختیځ ته په یوه کوچنی برخه کې خپریږي چې دغه زلزلې لوی زیانونه اړوي.

### ۲. د منځنی زلزلو حوزه:

د افغانستان په شمالي ولایتونو، مرکزي ولایتونو او د هریرود د سیند پر لورې لیدل کیږي، خو په دغو برخو کې یې زیان لږ دی.

## ۳. د خفیفو زلزلو حوزه:

د پکتیا جنوب، د کندهار شمال، د هلمند شمال ختیځ او همدارنګه د بادغیس او هرات په شمال کې په لږ شدت سره زلزلې لیدل کیږي، زیان یې هم لږ وي.




۳-۳- انځور د هیواد تکتونیکی انځور ښیي

## ۴. هغه حوزه چې زلزلې نه لري یا یې زیان لږ دی:

دغه برخې لکه د افغانستان جنوب لویدیځ سیمې دي چې د کندهار یوشمیر سیمې، د هلمند مرکزي او ټولې جنوبي برخې، نیمروز او د هرات د جنوب یوه برخه او ټوله فراه په کې راځي.

### د ټولګي دننه فعالیتونه:

د مضمون ښوونکی دې د افغانستان زلزله لرونکې سیمې د نقشې پرمخ زده کوونکو ته وښیي. د نقشې پرمخ دې د زلزلې مهم مرکزونه او ماتې کرښې تثبیت کړي، زده کوونکي دې د نقشې له مخې په خپلو کتابچو کې توضیحات ولیکي.

### پوښتنې:

۱. د افغانستان زلزلې لرونکې سیمې کومې دي؟

الف) جنوب ب) لویدیځ ج) شمال د) شمال ختیځ

۲. کنړ د افغانستان د زلزلو په کومه حوزه کې دی؟

الف) منځنۍ زلزله ب) خفیفه حوزه کې ج) د قوي زلزلو حوزه کې د) نا محسوسه حوزه کې

۳. د افغانستان مهمې ماتې کرښې په ګوته کړئ.

### له ټولګي څخه بهر فعالیت:

هر زده کوونکی دې د افغانستان د زلزلو لرونکې حوزې او ماتو کرښو نقشه رسم کړي او ټولګي ته دې راوړي، بیادې د هغو په هکله لنډ معلومات ورکړي.

# سیلاوونه



۳٤- انځور د آمو دسیند نمونه یی سیلابی وضعیه ښیي

پوهیږې چې سیلاو څنګه منځ ته راځي؟
سیلاو د اوبو هغه ناڅاپي راتګ دی چې له غرنیو خوړونو څخه راوځي. په بله وینا په اوبه لرونکو حوزو کې هغه ډېرې زیاتې اوبه چې د سیندونو له کچې څخه پورته او په ډېرې زیاتې چټکتیا سره بهیږي او له ځان سره ځمکې ویجاړوي. سیلاو او هغه ته مخامخ پرتې سیمې ډېرې ښې اټکل کیدای شي، د سیلاو اوبو سر اخیستی وي، په څپووي، له خاورو خځلو ډک تویان ورسره وي او په سیلاو کې حتمي دونو شاخونه ښکاري. سیلاو د طبیعي پیښو یوه ځانګړتیاده، زیات شمیر زیانونه پیښوي. د بیلګې په توګه د سیند غاړې ورې، کلیوالي او ښاري کورونه نړوي، انسانان او ژوي ځان سره وړي، د سمندرونو ترغاړو او د سیندونو په خوله کې سوداګریز بندرونه ویجاړوي او داسې نور. وروسته پاتې هېوادونه د سیلاو په وړاندې ډېر زیانمن کیدای شي. دغه ډول هېوادوته د سیلاو او زلزلې له امله ډېر زیانونه اوړي. باغونه او ځنګلونه له منځه ځي او کرنیزې ځمکې ویجاړوي.
د سیلاو زیان د هغه د اوبو زیاتوالی، څپو او د ځمکو په خوړو پورې تړې چې خومره شګې او تیږې له ځان سره راوړي او دغه اوبو راوړی شیان د زیان لامل او ضربې ګرځي. ځینې وخت سیلاوونه لویې کلاګاني د هغو له اوسیدونکو او شتمنې سره یو ځای له منځه وړي او سل ګونو زرو خلکو ته مرګ ژوبله اړوي، د بیلګې په توګه په ۱۳۲۰ هـ ش کال کې د کوهدامن په ګلدره کې سیلاو دغه سیمه په یو سپیره ډاګ بدله کړه. ګڼ شمیر باغونه، خلک او ژوي یې یوورل. همدارنګه د هوانګهو، برهما پوترا او ګنګا د سیندونو سیلاوونو ډیر ځاني او مالي زیانونه اړولي د ۲۰۰۵ م کال د سونامي سیلاو (سمندري څپو) د آسیا په جنوب کې سل زره خلک ووژل.

## د سیلاو ډولونه:

څلور ډوله سیلاوونه شته:

۱. آوار سیلاو Flash Flood: د موسمي او استوایي اورښتونو له امله پر ځمکو باندې د اوبو کچه لوړه او سیمه ییز زیانونه اړوي.

۲. د سیندونو سیلاو River Flood: د ډېر اورښت له امله سیند ځپاند شي، خپلو دواړو غاړو ته زیانونه اړوي.

۳. سونامي ساحي سیلاوونه Tsunami: دزلزلواو سایکلوني توپانونو له امله په سمندرونو کې لویې څپې پیداکیږي او د سمندر ترغاړو څپې رارسیږي چې دغه څپې ډېرې ځواکمنې او وژونکي وي.

۴. هغه سیلاوونه چې د کنګلو جهیلونو د غاړو د ماتیدو له امله راځي. داسیلاونه زیاتره دهمالیا او تیانشان په غرونو کې لیدل شوي دي.



۳۵- انځور په همالیه کې د یخچالي جهیل چاودیدل

## د ټولګي دننه فعالیتونه:

ښوونکی دې زده کوونکي په څلورو ډلو وویشي، هره ډله دې د سیلاوونو یو یو ډول د ټولګي ترمخه ووایي.

## پوښتنې:

۱. سونامي سیلاو کومو ځایونو کې پیښیږي؟

الف) شمالي قطب کې ب) سویل قطب کې

ج) منځنۍ آسیا کې د) د آسیا د سویل غاړو کې

۲. غرني سیلاوونه کوم دي؟

الف) دکنګلونو سیلاو ب) استوایي سیلاو ج) قطبي سیلاو

۳. په آسیا کې کوم سیند ډېر سیلاوونه لري؟

الف) د غزني سیند ب) د بلخ سیند ج) د برهما پترا سیند

۴. د سیلاوونو ویجاړتیا چیرې ډېره ده؟

الف) کوم ځای چې کلک نه وي ب) آوارو سیمو کې ج) د سیندونو خوله کې

## له ټولګي څخه بهر فعالیتونه:

زده کوونکي دې د خپلو کورنیو د کیسې له مخې د سیلاوونو په هکله نیمه پاڼه لیکنه وکړي او خپلو ټولګیوالو ته دې ولولي.

# د سیلاو زیان او د هغه مخنیوی



۳۶- انځور د همالیه د غره په لمنه کې چې په نیپال کې واقع دی د یخچالي سیلاو خطر په ۲۰۰۶ کال کې ښیي

د سیلاو د زیان په هکله څه پوهیږئ او له هغه څخه به څرنګه مخنیوی وشي؟

د سیلاو زیان که ډیر وي که لږ، بیا هم له ځان سره یو شمیر پیښې لري. له سیلاو څخه پیدا شوي خطرونه دوه ډوله دي:

۱. سیده (مستقیم) خطرونه: په دې ډول کې کرنیزې ځمکې ویجاړیږي، کورونه او بڼونه له منځه ځي،ځنګلونو، پارکونه، موټر، هغه وسایل چې شاوخوا کې وي، څاروي او هغه رمې چې د غرونو لمنو کې خري، انسانان، په تیره، بیا کوچیان زیات زیانمن کیږي

۲. ناسیده (غیرمستقیم) خطرونه: په تګ راتګ کې خنډ او ځنډراولي، خلکو ته ویره پیدا کوي، دپلورونکو کار له ستونزو سره مخامخ کوي، په ورځنیو کارو کې ځنډ پېښیږي، نو ځکه د کارګرانو ګټې له زیان سره مخامخ کیږي. د بریښنا مزي، اوبه، مخابرات، ترافیکي بنسټونه، د اوسپنې پټلۍ، ترمینلونه، سوداګریز مالونه په سیده او ناسیده توګه زیانمنوي چې دغه زیانونه هم په کلیو او هم په ښارونو کې ترسترګو کیږي.

د سیلاوونو له زیان مخنیوی:

• د سیلاو د خطر په وړاندې چمتو والی تر هرڅه مهم دی. چمتو والی هم د خلکو او هم د حکومت له خوا نیول کیدای شي. د سیلاو د خطر په وړاندې باید ټول چمتو اوسي او دغه زیانونه راکم کړي او د ویجاړولو مخنیوی وشي.

• هغه جوړښتونه او ودانۍ چې د سیلاوونوپه مخه کې دي باید ډیر کلک او له معیاري موادو څخه جوړ شوي وي. کورنۍ او نړیوالې سر چینې باید د سیلاوونو د خطر د کمښت پروژې وڅیړي. د سیلاونو په هکله دې ریښتیاني معلومات خپاره شي او خلک باید د سیلاونو له تګلوري څخه خبر شي چې هغوی خپل مال او ځان ورڅخه وساتي. ټولنیزې رسنۍ په دې اړه لویه ملي دنده لري چې هره شیبه خلکوته سم خبرونه ورسوي.

• دولتي اوغیر دولتي سرچینې باید ټول لاسونه سره ورکړي او د ټولنې د زیانمن کیدو مخه ونیسي.

• دملي، نړیوالو، دولتي او نادولتي ارګانونو تر منځ باید اړیکې ټینګې وي چې د ویجاړتیا، اور لګیدو او سیلاوونو له زیان څخه تر ډیره بریده مخنیوی وشي او بیځایه شویو خلکوته خوراک او د سر سیوري چمتو کړي، نو له دې پلوه د ارګانونو تر منځ اړیکې ضروري دي.

## د ټولګي دننه فعالیتونه:

ښوونکی دې زده کوونکوته دنده وسپاري چې هغوی د سیلاو له خطر څخه د بچ پاتې کیدو بیلابیلې لارې چارې بیان کړي چې ځان او مال يې ډاډمن وي.

## پوښتنې:

۱. معیاري استحکامات د سیلاوونو په مخنیوي کې څه کولای شي؟

۲. د سیلاو مخنیوي کې کوم ارګانونه مسؤولیت لری؟

الف) کورنۍ سرچینې  ب) نړیوالې سرچینې  ج) عملیاتي اوکنترولي ډلې  د)یو هم نه

۳. د سیلاونو د راتګ په هکله د خبرتیا په ورکولو کې کوم ارګان ډیر مسؤولیت لري؟

الف) نړیوالې سرچینې  ب) عسکري سرچینې  ج) ملي سرچینې  د) ټولنیزې رسنۍ

## له ټولګي څخه بهر فعالیتونه:

زده کوونکي دې د سیلاوونو په هکله په خپلو کورونو کې خبرې وکړي او په نیم مخ کې دې د خپلو پلرونو او میندوپه مشوره د سیلاونو د زیان د مخنیوي په اړه لیکنه وکړي.

# اور غورځوونکي (آتشفشان)




۳۷- انځور اور غور ځونکي ښيي

تاسې پوهېږئ چې اورغورځوونکي سيمې څه دي او څرنګه رامنځته کيږي؟

اورغورځوونکی (آتشفشان) د ځمکې دننه طبقې (مګما) د اورينو مدارو پورته خواته راتلل دي چې د ډېرې لوړې تودوخې، فشار، کيمياوي تعاملاتو او فزيکي بدلونونو له امله له ځمکې څخه راوځي او د ځمکې پر مخ بدلون راولي. په لاتيني ژبه ورته Volcano ولکانو يا ولکان وايي.

- اورشيندونکي توکي په ډېر لوړ فشار سره دځمکې دننه طبقو څخه راوځي، ځنې وخت په وچه کې مخروطي ډوله غونډۍ جوړوي او په لوړ غږ سره چوي. د اورغورځوونکو له خولې څخه لوګې، ډبرې، د اور ټوټې او ويلې شوې ټينګ توکي راوځي، څلورو خواوو ته خپرېږي، د هغو مخې ته چې هرڅه ورشي د ډېرې تودوخې له امله يې ويلې کوي. د دغو تودوخه د سانتي ګراد له ۷۰۰ څخه تر ۱۲۰۰ درجو پورې رسيږي، اوسپنې، ودانۍ،ځنګلونه، موټر او تيرې چې په مخه ورشي له منځه يې وړي،ويلې او سوځي. دغه خوځند خوټيدونکي توکي، لکه: د بهيدونکو شيانويه شان پرمخ ځي چې لاوا (Lava) ورته ويل کيږي. رنګ يې تک سور يا سپين يا نارنجي وي. ټينګوالی يې لکه د ختې په شان وي چې بهيږي، خو د اوبو په شان نرې نه وي، نو ځکه د ټينګوالي له کبله ورو ورو پر مخ ځي. د چاودنې پر مهال له اورغورځوونکو څخه د اورلوبې په شان سره اوتاوده توکي په بېلابېلو کرېو کې بهر پريوځي، دشپې له خوا ښکلې رڼاګانې کوي. د آرام سمندر ختيځ او لويديځ ته ډېر داسې ځايونه شته چې د جيولوجې په بيلابيلو وختونو کې فعال اوتاوده اور غورځونکی وو. له همدې امله د آرام سمندر غاړې د اورينو کرېو Fire Rings په نوم يادوي چې ځنې وخت دلرې ختيځ ټاپوګان، کمچټکا، هاوايي او د امريکې لويديځې

غاړې هم پکې راځي. د هند سمندر، د اتلس سمندر، تیمور ټاپوګانو، جاوا، بالي ټاپو، د مدیترانې ترغاړو، په تیره بیا د سیسلي او وزو شاوخوا او په ایران کې د ازور او کنري ټاپوګان ټول په تیر وخت کې اورغورځونکي وو. د آیسلند اور غور ځوونکی په کال ۲۱۰ کی دوه ځله فعال شوی چه د هیواد د ککړوالی سبب او همدارنګه د اروپایي هیوادونو الوتکو پروازونه له خنډ سره مخامخ کیدل.




۳۸- انځور په نړۍ کې د زلزلې او اور غورځونکي کمربند ښیي

## د ټولګي دننه فعالیتونه:

زده کوونکي دې دوې ډلې شي، د هرې ډلې یو تن دې د نړۍ د اوغورځوونکو په اړه معلومات ورکړي او د نقشې پر مخ دې اورغورځوونکي ښکاره کړي.

## پوښتني:

۱. اورغورځوونکي تعریف کړئ.

۲. لاوا څه ته وایي ؟

۳- د آیسلند اور غور ځوونکئ څه وخت فعال شو.

## له ټولګي څخه بهر فعالیتونه:

زده کوونکي دې په لسو کرښوکې د زلزلې او اورغورځوونکو په هکله یوه لیکنه وکړي او د آسیا اورغورځوونکي دې د نقشې پرمخ رسم او په نښنه کړي

# په هیواد کې پخوانۍ اورغورځوونکې سیمې (حوزې)



۳۹- انځور د هیواد په مرکز کې د ګل کوه غر ښیي

آیا په افغانستان کې د اورغورځوونکو نښې او حوزې شته؟

د ځمکې پوهنې دپوهانو او د هیواد د جیولوجي د سروې پوهانو د څېړنو او د افغانستان دجیولوجي د نقشو په کتنې سره داسې ښکاري چې په افغانستان کې فعال اورغوځوونکي نشته، خو ځینې داسې نښې شته چې دلته د اورغورځوونکو ساحې ته ورته والی لري او هغه په لاندې توګه دي:

د هندوکش د غرونو د جوړېدو په پیل کې په دغه سیمه کې له تکتونیکي فعالیتونو سره یو ځای لږ شمیر اوغورځوونکي وو. د اورغورځوونکو نښې په مخروطي بڼه یو شمیر غونډۍ، د بزلت په بڼه تیږې، سکوریا، ګردې کوچنۍ ډبرې چې ډېر کوچني کوچني سوري لري او پومایس Pumice ډوله ډبرې چې رڼې او سپکې دي. له دې پرته د تودو اوبو چینې دي چې د اورغورځوونکو ترخنګ واقع دي. کلک بزلت کاڼي د اورغورځوونکو توکو نښه ده چې له لاوا څخه جوړ شوي دي، خو په افغانستان کې د تودو اوبو چینې به د کلسیم کاربونیت د ډبرو له امله وي چې ډېر لږ د اورغورځوونکو څرګندويي کوي، لکه د هرات په ولایت کې (اوبه) او په مزارشریف کې د چشمه شفا چینې چې اوبه یې ژیړ رنګ لري او د سلفر لرونکي بلل شوي دي. د مزارشریف په جنوب کې د البرز په غرونو کې یوه برخه په بشپړه توګه له سلفر لرونکو توکیو څخه جوړه ده چې د جیولوجي د دریمې دورې (ترشیري) دلومړنیو اورغورځوونکو نښه یې بللای شو.

- د بامیان په لویدیځ کې ګل کوه چې یوه منظمه مخروطي غونډۍ ده په ریښتیا سره د جیولوجي د دریمې دورې د اورغورځوونکو جوړښت دی.

- د ګودزرې د ولاړو اوبو جنوب ته د چګاهي غرونه چې د جیولوجي په لومړیو دورو (پری کامبرین

کې رامنځته شوي دي، د اورغورځوونکو پاتې شونې بلل کیږي، خو په دې برخه کې زیاتو څیړنوته اړتیا ده چې د هغو علمي واقعیت څرګند شي.




۴۰- انځور د هیواد جیومور فولوجي بڼیي

## د ټولګي دننه فعالیتونه:

زده کوونکي دې د اورغورځوونکو نښې وواېي او یو بل سره دې خبرې اترې وکړي.

## پوښتنې:

- د اورغورځوونکو دوې نښې وواېئ.
- دګود زرې ولاړې اوبه چیرته دي؟
- دګل کوه جوړښت څه ډول دی.
- د شفا چینه په کوم ولایت کې ده؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیتونه:

زده کوونکي دې د افغانستان نقشه رسم کړي او بیادې ګل کوه او د چګاهي غرونه پکې ښکاره کړي.

# مدني زده کړې

پە دې څپرکي کې دا لاندې درسونه لولئ.

- قانون څه شی دی؛او کومې موضوعګانې څېړي؟
- د قانون بنسټيز عناصر څه شی دي؟
- د قانون موخه څه شی ده؟
- قانون څو ډوله دی؟
- اساسي قانون به له عادي قانون سره پرتله کړای شئ.
- د هېواد د اساسي قانون په هکله به معلومات ترلاسه کړئ.

## د څپرکي موخې

هيله ده چې زده کوونکي به د دې څپرکي له لوستلو وروسته
په لاندې موخو باندې برلاسي شي.

- د قانون په ارزښت او اړتيا به پوه شي.
- قانون ته به په اهميت قايل شي او درناوی به يې وکړي.
- د قانون له موضوع او رکنونو سره به بلدشي.
- قانون جوړونکي عناصر به بيان کړای شي.
- د قانون بنسټ او موخې به وپېژني.
- قوانين به د هغوی له ډولونو سره تشخيص کړای شي.
- اسلامي قانون او وضعي قانون به يو له بله څخه بېل کړای شي.
- اساسي قانون به وپېژني او په ځانګړي توګه به د هېواد له اساسي قانون سره مينه پيدا کړي.

# قانون څه شی دی؟

فعالیت

لکه چې پوهېږو، د قانون له عام کیدو څخه موخه په انساني ټولنه کې د برابري او عدالت ټینګول او د ظلم، حق تلفی، خپلسری، او قانون ماتونې مخنیوي دی. ستاسي له نظره که چېرې په یوه ټولنه کې قانون په سمه توګه پلی نه شي، ټولنه له کومو ستونزو سره مخ کېږي؟ د خپل ګروپ د بحث پایله د خپلو سرګروپانو پواسطه نوروته واوروئ.

قانون د ټولنیز ژوند له ضروري اړتیاووڅخه دی چې له هغه پرته د بسیا او سوله ییز ژوند کول نا شوني ښکاري. په قانون کې د لیکل شوو موادو پواسطه د یو هېواد د اوسیدونکو حقونه څرګند شوي او د پلي کیدو ضمانت یې د دولت له لوري کېږي. قانون د دولتي بنستونو، دولت او خلکو ترمنځ د اړیکو نښلوونکي دی. همدارنګه د یادو خواو د حقونو او دندو د پولو ټاکونکي دی. په ټولنه کې د قانون سم پلي کول او د هغه د حاکمیت ټینګښت د دې لامل ګرځي چې په ټولنه کې د خپلسری او یکه تازی مخه ونیول شي.

د قانون د تعریف په هکله باید وویل شي، کوم خاص او ځانګړی تعریف چې د ټولو پوهانو د تایید وړوي، نشته؛ بلکې هر یوه پخپله خوښه او اراده د هغه لپاره یو تعریف ټاکلی دی چې له هغې جملې څخه، یو یې دا دی: (قانون د هغو قواعدو ټولګه ده چې په ټولنه کې د وګړو کړه وړه په الزامي توګه تنظیموي او د هغه مخالف ته جزا ورکوي). (۱)

اسلامي قانون له اسلامي شریعت څخه عبارت دی چې د الشوری د مبارك سورت په (۱۳)آیت کې په دې هکله داسې راغلي دي:

**(شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ)**

ژباړه: ( بیان کړی دی ما تاسو ته له هغه دین څخه چې لاربښونه (وصیت) کړې و موږ په هغې سره نوح (ع) ته او هغه څه چې وحي کړې ده ما تاته ( اې محمد (ص) او هغه چې حکم کړې و موږ په هغه سره ابراهیم (ع)، موسی(ع) او عیسی (ع) ته، داسي چې سم ودروئ دین او په هغې کې اختلاف مه کوئ.

کابلي تفسیر نوموړي آیت داسي توضیح کړي دي: له آدم (ع) وروسته اولین رسول حضرت نوح(ع) دی چې په حقیقت کې د احکامو د تشریع لړی له نوح(ع) څخه پیل او د پیغمبرانو په وروستني پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندې پای ته رسیدلی ده. حق تعالی په دې هکله په ښکاره ډول فرمایلي چې اصل دین تل یوشي و په عقایدو، اخلاقو او اصولو کې ټول په یو نظرو، خدای تعالی د دین د ټینګیدو لاره په هره زمانه کې ځانګړی وضع کړې ده لکه چې په بل آیت کې راغلي دي:

---

(۱) الاسلام و الدستور، توفیق بن عبدالعزیز اسدیری. الطبعه الاولی، الناشر الدعوت والارشاد. السعودیه،۱٤۲۵هـ.ق.

لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا (١)

ژباړه: ستاسي هر يوه لپاره مي شريعت اولاره مقرره كړي ده.

د پورتني آيت له تفسير څخه معلومېږي چي د هر امت دكار طريقه او ايين خداى تعالى په هر وخت كي د هغوى له حال او استعداد سره سم ټاكلي دى. سره له دي چي واړه انبيا او ټول حقه دينونه د دين په عمومي اصولو كي يو پربل باندي تصديق كوي او د ټولو پيغمبرانو اصول يو شي دى، نو ځكه د اسلام د سپيڅلي دين پلويان له اسلام څخه پرته بل كوم قانون ښه نه بولي او نه هم كوم قانون وجود لري.

حقوق پوهان او ټولنپوهان په دي آند دي چي قانون(Law) د لاتيني كلمي عربي شوي بڼه ده او په لغت كي د خط كش په معنا دى.د عربي ژبي په لغت كي قانون د شيانو د مقياس او اندازي په معنا او هم د موضوع د مقرراتو په معنا، معنا شوى دى. يا قانون د اصل او مقياس او هم د هغو مقرراتو او احكامو په معنا دى چي د واكمني ( باصلاحيته) اداري له خوا د هېواد د چارو د سمون او تنظيم په خاطر وضع كېږي.(٢)

همدارنگه ( قانون له رسم، قاعدي، ايين، طريقي او ټولنيز امر څخه عبارت دى چي په ټولو جزياتو باندي يي منطبق او عملي شي او د جزياتو احكام له هغه څخه وپېژندل شي) (٣)

له پورتني محتوا څخه دي پايلي ته رسيږو چي قانون او د هغه احكام دي چي د انسان ژوند د نيكمرغى او انسانيت خواته كشوي. كه چېري قانون ته غاړه كېږدو او خپل كړه وړه له هغه سره برابر كړو، په ژوندانه كي به بريالي و اوسيږو.

## د لوست لنډيز

- ----------------------------------------
- ----------------------------------------
- ----------------------------------------

## پوښتني

١-د قانون د حاكميت اهميت څه شى دى؟

٢ - د قانون د تطبيقولو ضمانت له كومي مرجع څخه كېږي؟

٣ - حقوق پوهانو قانون څه ډول تعريف كړى دى؟

٤ - د دي لپاره چي ښه او ښيا ژوند ولرو څه بايد وكړو؟

### كورنى دنده

د هغه چا د برخليك په هكله چي له قانون څخه سرغړونه كوي، پنځه كرښي وليكئ.

(١)دمائده سورت ٤٨ ايت.

(٢) (٣)مروری بر قوانين اساسی افغانستان، قانون پوه محمد اشرف رسولی صفحهٔ ١ انتشارات سعيد ١٣٨٨.

# د قانون موضوع

په تېر لوست کې مو زده کړل چې د قانون موجوديت د انساني ټولنيز ژوند د اړتياوو له جملې څخه دی او د انسان د ټولنيز او هوسا ژوند د پرمخ بيولو يوازينی لامل ګڼل کېږي. د يوه هېواد د اوسېدونکو حقوق پکې تعيين، تحديد او بيان شوي دي او په ټولنه کې د هغو پلي کول او رعايتول د دولت له خوا تضمينېږي.

فعاليت

لکه چې پوهېږو د قانون وضع کول او موجوديت د ټولنيزو اړيکو په تنظيمولو، د بنسټونو او ټولنې د وګړو د حقونو او وجايبو په بيانولو او څرګندولو کې غوره او مهم امر ګڼل کېږي. دقانون پرته ټولنه د هغه رمې په څېر ده چې شپون و نه لري او هرې خواته منډې وهي. ستاسې په اند: په کومه ټولنه کې چې قانون نه وي، هغه به څه ډول ټولنه وي؟ د ګروپونو د بحث پايله دې د ګروپونود نماينده ګانو له خوا نوروته واورول شي.

څرنګه چې انسانان ټولنيز موجودات دي نو طبيعي غوښتنې او اړتياوې يې هم د ګډ او ټولنيز ژوند تامينول دي. ټولنيزژوند د دوی ټول کړه وړه د ځينو ځانګړو مقرراتو تابع کوي ترڅو د دوی په ژوندانه کې نظم او سمون راشي. قانون د دوی د ژوندانه واړه ټولنيز اړخونه، حقوق، دندې او مکلفيتونه د خپل ځان، نورو او دولت په وړاندې او د هغو برعکس په پام کې نيسي او د هغو حدود او اندازه تعينوي.

همدارنګه د دې لپاره چې له درد، تيت او پرکوالي څخه خلاص قانوني ژوند ولري. دې ډول ژوند ته د رسيدو لارې چارې ورښيي او له قانوني سرغړونو څخه يې چې بد عواقب لري، منع کوي.

د قانون اصول او قواعد له يوې خوا د انسان اړيکې له نورو انسانانو سره ټينګوي، له بلې خوا د ټولنې د ټولو وګړو حقوق د نورو له تېرې څخه ساتي . له دې کبله ويلې شو که چېرې قانون موجود نه وي زورور او شتمن به د ټولنې په نورو خلکو باندې حکومت کوي او د کمزورو خلکو حقوق به تريښولاندې شي.

### د لوست لنډیز

• د انسانانو غوښتنې او طبیعي اړتیاوې، د ټولنیز ژوند تامینول دي.

• ------------------------------------------------------------

• ------------------------------------------------------------

• ------------------------------------------------------------

### پوښتنې

۱-ولې په ټولنه کې د قانون موجودیت اووضع کول او د ټولنیز ژوند له غوره او مهمو کارونو څخه ګڼل کېږي؟

۲- ټولنیز ژوند د انسان پر کړو وړو باندې څه اغېز ه لري؟

۳- قانون د انسان ژوند کوم اړخونه په پام کې نیسي؟

۴- د قانون مرا عا تول د انسان په اړیکو او حقونو باندې څه اغېز لري؟

کورنی دنده

د قانون د مراعاتولو د ګټو او نه مراعاتولو د زیانونو په هکله پنځه کرښې مقاله ولیکئ.

# د قانون ارکان او عناصر

په دویم لوست کې مو د قانون، د ټولنې د وګړو ترمنځ د اړیکو د تنظیمولو، د خلکو په حقونو او مالکیت باندې د تېري د مخنیوي او د قانون د اهمیت په باره کې معلومات ترلاسه کړل؛ اوس په دې لوست کې د قانون ارکان او عناصر زده کوو.

فعالیت

## آیا پوهېږئ چې قانون هم له ځانه عناصر او ارکان لري؟

څرنګه چې پوهېږو د ځمکې پر مخ ټول شیان له کوچنیو ذرو څخه جوړشوي دي، یا په بل عبارت جسمونه د هغو عناصرو له مجموعې څخه جوړ شویدي چې هریوې دیوه عمومي او مشترک هدف د سرته رسولو په خاطر په منظم او مرتب ډول یو له بل سره په همغږې ډول کار او فعالیت کوي؛ په همدې ډول، قانون هم داسې ارکان اوعناصر لري چې هغه یې منځته راوړي دی عبارت دي له: د حکم عمومیت، مکلفیت او د پلي کیدو ضمانت .

- د حکم عمومیت: یعني د ټولنې په ټولو افرادو باندې بیله استثنا د قانون تطبیقول، د ټولنې هېڅ یو کس که نروي اوکه ښځه، زوړوي او که ځوان، کوچنی وي اوکه لوي په هر ټولنیز پوړ کې چې وي، د قانون له واکمنی او حکم څخه مستثنا نه دي.

-مکلفیت: د هغه وعدو او ژمنوله تطبیق او سرته رسولو څخه عبارت دي کومې چې په قانون کې خلکوسره شوي دي.

- د پلي کیدو ضمانت: له هغه غبرګون څخه عبارت دی چې د هېواد واکداران یې قانون ماتوونکو ته د جزا په شکل او یا نورو هغو شکلونو چې په اسماني یا وضعي قانون کې یې یادونه شوي وي، په ټولنه کې د نظم ساتلو لپاره عملي کوي؛ د حکومتونو له جوړیدو څخه د مخه وختونو کې د پلي کیدو له ضمانت څخه ګټه اخیستنې حق نېغ په نېغه د زیانمنو خلکو او یا د هغوی د خپلوانو په واک کې و؛ لیکن ورو ورو دغه حق رسمي مقاماتو ته ورانتقال شو.

فعالیت د قانون سم او عادلانه پلي کول د ټولنې لپاره څه ګټه لري؟ په دې هکله په خپلو ګروپونو کې بحث وکړئ او د بحث پایله د سرګروپانو په واسطه نوروته واورئ.

د موضوع له منځپانګې څخه دې پایلې ته رسیږو چې قانون هغه وخت ارزښت او اهمیت پیدا کوي چې عناصر او ارکان یې په عادلانه توګه بیله استثنا څخه پر ټولو باندې پلي او عملي شي؛

په داسې حالت کې خلک قانون د دوی ساتونکی ګڼي او له هغه څخه ملاتړ کوي. خو که چېرې چارواکي هغه وعدې چې په قانون کې خلکو ته ورکړ شوي دي سمې او په خپل وخت په عادلانه ډول عملي نه کړي، خلک په قانون باندې بې باوره کېږي او له هغه څخه لرې والی غوره کوي او قانون اهمیت له لاسه ورکوي او د خلکو له ملاتړ څخه بې برخې کېږي، خدای تعالي په دې هکله داسې فرمایلي دي:

﴿لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ...﴾ (۱)

ژباړه: په تحقیق سره موږ خپل پیغمبران په څرګندو دلایلو سره استولي دي او د هغوی سره مو کتاب او تله نازل کړې دی، د دې لپاره چې خلک په عدل او انصاف باندې ودرېږي.

په پورتني مبارك ایت کې په ظاهري توګه له عدل څخه موخه ټولنیز عدل دی چې د ټولنې د هر غړي په باره کې د هغه حقونو ته پاملرنه وشي او په ناحقه یو څوک د بل چا ځای ونه نیسي.

## د لوست لنډیز

- ټول شیان له کو چنیو او وړو عناصرو څخه چې د هغوی جوړونکي دي جوړ شوي دي.
- ----------------------------------------
- ----------------------------------------
- ----------------------------------------

## پوښتنې

۱- د قانون عناصر او ارکان څو دي نوم یې واخلئ؟
۲- د حکم عمومیت په څه معنا دی؟ بیان یې کړئ.
۳- د خلکو زړه څه وخت له قانون څخه توریږي او پر هغه باندې بې باوره کېږي؟
٤- له ټولنیز عدل څخه موخه څه شی ده؟

## کورنۍ دنده

د حکم د عمومیت په هکله خپل نظر په څلورو کرښو کې ولیکئ.

---

۱- د حدید سورت ۲۵ ایت

# د قانون بنسټ (اساس)

په دریم لوست کې مو د قانون د ارکانو او عناصرو، کړو وړو او د هغه د پلي کېدو د ګټو په باره کې معلومات حاصل کړل؛ په دې لوست کې په دې هکله چې د قانون بنسټ څه شی دی معلومات پیدا کوئ.

فعالیت

که چېرې د زورورو د زورزیاتي مخه د قوانینو پواسطه نیول شوې نه واي، نوله به له کومو ستونزو سره مخ شوي واي؟ د خپلو ګروپونو د بحث پایله د سرګروپونو پواسطه نورو ته واوروئ.

لکه چې واره پوهېږو بشري ټولنې د ژوند په مختلفو پړاوونو کې په هره بڼه او هرځای کې چې وې د خپل ژوندانه د چارو د ترتیب او تنظیم لپاره یې قانون او مقرراتو ته اړتیا درلوده. دغه قوانین په ځینو دورو کې د دود او دستور په بڼه و او ډېره لږه لیکل شوې بڼه یې درلوده. لکه څرنګه چې لومړني انسانان د قانون تابع او د هغه عملي کېدوته یې اړتیا درلوده، نننی انسانان هم د خپل ژوندانه د سویې په کچه قوانینو او مقرراتو ته اړتیا لري، ترڅو د دوی ژوندانه ته نظم ورکړي. په بله ژبه هغه لاملونه چې په تېرو وختونو کې یې قانون منځته راوړی دی، دوه شیان دي: یو یې قدرت چې کولای شو هغې ته د اسماني قانون نسبت ورکړو او بل یې د دود او دستور څواک دی.

انسانانو د خپل پیدابښت په لومړیو وختونو کې د خپل منځي شخړو د حل لپاره هر هغه څوک چې زورور و، په نورو باندې یې ظلم او تېری کړی دی؛ څرنګه چې د زورور و دغه تېری له یوې ورځې نه بلې ورځې ته مخ په زیاتیدو و، د قوم مشران او سپین ږیري له دغې وضعې څخه په تنګ شوي او د حل لارې په لټه کې شوي دي. هغوی په دې وپوهېدل چې هېڅ یوه ټولنه تر هغه پورې خپل سرمنزل ته نه رسېږي، ترڅو چې د هغوی حقوق دندې او وجایب د قانون او مقرراتو تابع ونه ګرځي، نه دا چې زورور خپله اراده پر کمزورو باندې تحمیل کړي، همدا وجه وه چې اصول، قوانین او مقررات د دود او دستور په بڼه راڅرګند شول او خلکو ترې ملاتړ وکړ او یا هم دا چې د الله (ج) له خوا پیغمبر د قوانینو له وضع کیدو سره څمکې ته رالیږل شو. که چېرې کوم یوې پروا او بې لارې شوي سړي به د عقایدو او ارزښتونو په وړاندې بې اعتنایي کوله، د خلکو له خوا به مجبوریده چې قوانینو او قواعدو ته

غاړه کېږدي. د یوه نیك او خیر غوښتونکي انسان په څېر په ټولنه کې خپل ژوندانه ته ادامه ورکړي. وروسته د وخت په تېرېدو سره دغو اصولو او قواعدو ټینګښت بیاموند او د حقونو علم چې د لازمي قوانینو او لازم الاجرا مقرراتو علم دی، منځته راغی او د وګړو، ملتونو او د دولتونو په اړیکو باندې حاکم وګرځیده.

قانون پوهان په دې باندې د نظر یووالی لري چې ټول قوانین په لومړي سر کې دیني او هر قانون چې په ټولنه کې واکمن و، دیني او سپیڅلي جنبه یې درلوده؛ له هغه څخه اطاعت کول نه یوازې دا چې په دنیا کې د صلاح او خلاصون لامل ګرځیده، بلکې د آخرت د ثواب موجب هم ګرځیده؛ کله چې وضعي قانون منځته راغي د آسماني شریعت سپیڅلتوب یې نه درلوده او نه به یې هېڅکله هم ولري؛ اوس چې خلك غلا، ظلم، بې عدالتي او داسې نور بد بولي، همغه د دیني حرمت اغېز دی.(۱)

له پورتني منځپانګې څخه دې پایلې ته رسیږو چې د یوې سالمې، په زړه پورې او هوسا ټولنې را منځته کیدو لپاره پوهانو، عالمانو، پرهیزګارو او ایماندارو کسانوته اړتیا ده. نو راځئ چې خپل ځانونه د ایمان په ګاڼه سمبال کړو، ځکه چې د اسلام پیروان د کوم بهرني فشار پرته له ناوړو عملونو څخه ځان ژغوري؛ ښه عملونه ترسره کوي او په پایله کې د یوې نیکمرغه، هوسا او سالمې ټولنې د رامنځته کیدو لامل ګرځي.

## د لوست لنډیز

• په پخوا وختونو کې قوانینو د دود او دستور بڼه درلوده او لږه اندازه په لیکلي بڼه موجود وو.

• -----------------------------------------------

• -----------------------------------------------

## پوښتنې

۱-آیا د پخوا زماني قوانین نن ورځ هم د پلي کیدو وړتیا لري؟

۲- کوم شیان په تېرو وختونو کې د قوانینو د منځته راتلو لامل ګرځیدلي وو؟ نمونه یې واخلئ.

۳- د قوم سپین ږیري او مشران ولې په دې لټه کې شول چې د خلکو حقوق او وجایب د قانون او مقرراتو تابع وګرځوي؟

٤- د دې لپاره چې یو ښه نیکمرغه، هوسا، انساني او له دنیوي او اخروي وېرې پرته ژوند ولرو څه باید وکړو؟

کورنۍ دنده

د قوانینو د تطبیق د ګټو په هکله شپږ کرښې مقاله ولیکئ.

---

(۱)اساسات حقوق اسلام، غلام محي الدین، دریز، صفحه ۲۱ ، ۱۳۸٤ هـ .ش.

# د قانون موخه

په تېر لوست کې مو زده کړل چې د قانون اساس څه شی دی؛ د قانون شتوالی د ژوندانه د چارو د سمون، ترتیب او اصلاح لپاره اړین دی؛ نه یوازې دا چې پخوانیو خلکو قانون ته اړتیادرلوده ، بلکې د نننی زمانې خلك هم د خپل ژوندانه د سوېې په کچه قانون ته اړتیا لري.

فعالیت

•هغه موخې چې قانون یې په ټولنه کې تعقیبوي، د ټولنې په وضعیت او حال باندې څه اغېزکوي؟

لکه چې پوهېږو د انسان ټولې هلې ځلې هغه موخې ته د رسیدو په خاطر ترسره کېږي چې د مخه یې ټاکلي وي. دغې موخې ته د رسیدو په خاطر مجبور دی چې له ډېرو کړلیچیو څخه تېر شي. یو پوه، معقول او پرهېزګار انسان تل معقولې او انساني موخې تعقیبوي.

موخه ( هدف) په لغت کې د مقصد او مرام په معناده او په اصطلاح کې د یوې موضوع په هکله د یوې وړاندوینې پایله ده. د شریعت موخې د ټولنې د چارو د تنظیم د پیوستون د تحقق او د دنیا اواخرت له نیکمرغۍ څخه عبارت دی. د دغو لوړو اسلامي موخوڅخه په الهام اخېستو سره د قانون پوهانو تر منځ هم د قانون د موخې په نسبت د اختلاف زمینه کمه ده؛ ځکه چې د قانون عقلي، اساسي او وروستنۍ هدف د ټولنې خیر او ښېګڼه، د وعده خلافۍ او مطلق العنان حکومتونو د خپلسرۍ مخنیوی، د وګړو، طبقاتو او دولتونو د پخپل سر مداخلو مخنیوی او د ټولنیز نظام ساتل دي او وروستنۍ موخه یې د وګړو او ټولنې په عملونو، قولونو او اړیکو کې د نظم او ترتیب منځته راوړل او له خپلسرۍ، زورګویۍ، چل، بې اتفاقۍ، جګړې او وژنې څخه مخنیوی دی.

د قانون رعایتول د ټولنې پر ټولو خلکو باندې لازم دي. له قانون څخه سرغړونه بدعواقب لري؛ د سرغړونکي لپاره جزا وجود لري او اعتبارېې د وعدې په ترسره کولو پورې اړه لري. قانون وايي چې کوم عمل ترسره شي او د کوم عمل ترسره کول منع شوې دي. او د هغه عمل اجراکوونکی چې کول یې منع شوي دي، د کومې جزا مستحق دی.

فعالیت په خپلو ګروپونو کې په دې هکله چې: که چېرې مجرمین او قانون ماتوونکي مجازات نه شي، ټولنې ته څه زیان رسیږي؟ بحث وکړئ او د بحث پایله د سر ګروپانو په واسطه نوروته واوروئ.

له هغه څه چې تردې دمه موولوستل، دې پایلې ته رسېږو چې: په کومه ټولنه کې چې عدل او قانون حاکم نه وي، د یوه کس غوښتنه او یا د یو ځانګړې ګروپ پرېکړې به پر خلکو باندې حکومت کوي؛ په داسې ټولنه کې د فکر او ذهن روزل د وروسته پاتې والي لامل ګڼل کېږي، د داسې

وضعیت ادامه ډېر زیان اړونکي عواقب لري او د ټولنې د تباهی او زوال لاملونه برابروي. د پرمختګ بهیرېه ټپه ودرېږي او ټولنه هره ورځ له لومړۍ ورځې څخه له نیستی، بدمرغی او هک پک او حیران حالت سره لاس او ګریوان کېږي. خو په هغه ټولنه کې چې عدل او قانون حکومت کوي، ازادي خپل وزرونه غوړوي او د انصاف سیوري خورېږي، په پایله کې د علم او پوهې بازار ګرمیږي. په داسې ټولنو کې د وګړو حدود د حق په اصولو او د انصاف په معیارونو سره ټاکل کېږي. خلك په ډاډه زړه او آرام فکر سره خپل ژوند ته دوام ورکوي.

خدای(جَلَّ جَلاَلُه) په قرآن کریم کې په دې هکله داسې فرمايلي دي:

(إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤدُّواْ الامَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُواْ بِالْعَدْلِ)[1]

ژباړه: (په تحقیق سره الله تعالی تا سو ته امر کوي چې امانتونه د هغو څښتنانو ته وسپارئ او کله چې د خلکو په منځ کې پرېکړه کوئ په انصاف سره پرېکړه وکړئ).

په نړۍ کې تر ټولو غوره او ازاد هېواد، هغه هېواد دی چې عادلانه قوانین یې د خلکو د ژوندانه په ټولو کارونو باندې حاکم وي او ټول خلك یې چې په هر قوم، نژاد، او طبقه پورې تړلي وي بیله کوم ډار او وېرې څخه د قانون ترسیورې لاندې ژوند وکړي.

## د لوست لنډیز

- د شریعت موخه د ټولنیزو چارو له تنظیم او د دنیا او اخرت د نیکمرغی او هوسا ژوند له تحقق څخه عبارت ده.
- --------------------------------------------------------------------
- --------------------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱- انسان خپلې موخې ته د رسیدو په خاطر، څه کارونه باید ترسره کړي؟

۲ - ولې د قانون دهدف په هکله د قانون پوهانو په منځ کې د اختلاف زمینه کمه ده؟

۳ - په کومه ټولنه کې چې عدل او قانون حاکم نه وي څه شی پرخلکو باندې حکومت کوي؟

٤- په نړۍ کې تر ټولو غوره او ازاد هېواد کوم ډول هېواد دی؟ دلیل راوړئ.

### کورنۍ دنده

د قانون د موخو په هکله شپږ کرښې معلومات ولیکی او له ځان سره یې راوړی.

---

(۱) النسا سورت ۵۸ ایت

# د قوانینو وېش

په تېر لوست کې مو زده کړل چې انسان خپلو موخوته د رسیدو په خاطر څه کارونه باید سرته ورسوي؛ ولې د قانون پوهانو په منځ کې د قانون د موخو په هکله د اختلاف زمینه کمه ده؛ د هر قانون یوازینی عقلي اساس او وروستنی هدف د ټولنې ښېگڼه او د ناخوالو مخنیوی دی.

فعالیت

•آیا ټولې موضوعگانې او مسالې د یو ډول قانون پواسطه حل وفصل کېدای شي؟ که چېرې داسې نه ده، نو له څو ډوله قوانینو سره اشنایاست؟ د دې ډول ډول والی علت د خپلو گروپونو د نمایندهگانو پواسطه نورو ته بیان کړئ.

دا یو ښکاره او باوري واقعیت دی چې کومه ټولنه چې له کوچنیو ټولنو، گروپونو او مختلفو قشرونو څخه جوړه شوې وي، د ځینو عواملو له کبله ځینې اختلافات، تېروتنې، د چا مال ته لاس وراوږدول او داسې نور پکې پېښېږي او د بې نظمی، تاوتریخوالي او د چا حق ترپښو لاندې کولو لامل گرځي. په دا ډول ټولنو کې چې د یاد شوو مفاهیمو موجودیت پکې حتمي وي، باید چې له هغو سره سم په متناسبه اندازه قوانین چې د دا ډول پېښو د مخنیوې ښه وسیله ده، موجود وي، ترڅو د هغه ټولنې د اوسېدونکو حقوق وجایب او مسؤولیتونه د یو بل په وړاندې تعین کړي او له هغه څخه د را ولاړو شوو جنگ جگړو او شخړو مخه ونیسي. که چېرې په دا ډول ټولنو کې قانون او داسې حکمران چې د پورته یادو شوو مفاهیمو مخه ونیسي موجود نه وي، د ټولنې اړیکې یوه له بلې څخه جلا کېږي، نو ویلي شو چې د ټولنې د تیت او پرک کېدو د مخنیوي ډېره ښه وسیله د قوانینو موجودیت او د هغه عادلانه پلې کول دي.

په اسلامي هېوادونو کې سربېره پردې چې اسماني قوانین خپله لوړتیا او غوره والي لري، ځینې نور قوانین د وضعي قوانینو په نامه هم شته چې په ځینو مواردو کې ترې کار اخېستل کېږي، نو ځکه ویلي شو چې قوانین په دوو برخو یعنې د شریعت قوانین یا اسلامي فقه او وضعي قوانینو باندې وېشل شوي دي.

وضعي قوانین هم په خپل وارسره په دوو برخو وېشل شوي دي: داخلي قوانین او بهرني یا نړیوال قوانین.

۱- هغه قوانین چې په ټول هېواد کې د ننه لازمه الاجرا وي کورني یا داخلي قوانین ورته وایي لکه: اساسي قوانین او یا فدرالي قوانین، په هغو هېوادونو کې چې د حکومت طرزېې جمهوري وي.

۲- بهرني یا نړیوال قوانین دوه ډوله دي: عمومي او خصوصي

الف- هغه قوانین چې د دولتونو اړیکې نېغ په نېغه یو له بله سره او یا له نړیوالو دستگاوو لکه: ملگرې ملتونه او د هغو اړوند مؤسساتو سره تعینوي عمومي قوانین دي.

ب - هغه قوانین چې د یوه هېواد د اتباعو د اړیکو په هکله له یو بل دولت یا ملت سره خبرې کوي او د بحث موضوع یې هغه لیکنې او تالیفات وي چې یو خپلواک هېواد د بل خپلواک هېواد د قوانینو لپاره قایل وي، خصوصي نړیوال قوانین بلل کېږي.

هغه وضعي قوانین چې زموږ په هېواد کې نافذ او مرعي الاجرا دي په لاندې ډول دي:
د جزا قانون، د ملکي خدماتو قانون، د مالیاتو قانون، د پوهنې قانون، د افسرانو ذاتي قانون، د ښاروالیو قانون، د ترافیکو قانون او داسې نور چې هر یو یې خپله ځانګړې لار او ځانګړې موخې تعقیبوي.

(( په اسلامي فقه کې، دین او حقوق یو له بله سره ګډ شوي دي او د دغه قانوني سیستم بنسټ په معنویاتو باندې ابښودل شوی دی او لومړني قانون ګذار الله تعالی دی چې د خپل سپیڅلي کتاب په رالېږلو او یا د خپل پیغام راوړونکي په ژبه ( حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ) سره یې تشریع ( بیان) او قانون ګزاري کړې دي له دې کبله ده چې اسلامي قانون له نورو یا وضعي قوانینو سره چې یوازې د دولت له خوا خپرېږي، جدایي پیداکوي))[1]

هغه قانون چې د خلکو د نیکمرغۍ، نیک بختۍ او هوساینې ضامن او پر ټولو قوانینو باندې حاکم دی، د الله تعالی قانون دی چې د فطرت، عدالت، انصاف، انسانیت او ابدالابد او نه بدلیدونکي قانون ورته ویل کېږي. د قرآن کریم د سورت فاطر د ٤٣ آیت کې داسې لولو:

«... فَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ اللَّهِ تَبْدِيلًا وَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ اللَّهِ تَحْوِيلًا »

ژباړه: پس هېڅکله به ونه مومې ته په سنت (قانون) د الله کې بدلون او هېڅکله به ونه مومې ته په قانون د الله کې تحویل ( ګرځول)

د دې لپاره چې یو هوسا، نیکمرغه، ډاډمن او پرته له وېرې او ډار ژوند ولرو باید لومړی د الله تعالی قانون او بیا وضعي قانون چې هغه هم د خدای او رسول له قول څخه نشأت کړې وي، درناوی وکړو؛ پخپله یې رعایت کړو او نور هم د هغه رعایتولو ته وهڅوو؛ برعکس سربېره پردې چې له ژوندانه څخه به خوند وانخلو، د الله تعالی د عذاب وړ به هم وګرځو.

## د لوست لنډیز

- انساني ټولنه د خپل ژوندانه د چارو د سمون لپاره د قوانینو موجودیت ته اړتیا لري.
- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------

## پوښتنې

١-د قانون موجودیت د ټولنې لپاره څه اهمیت لري؟
٢- هغه ټولنه چې قانون و نه لري، له کوموستونزو سره مخ کېږي؟
٣- د ټولنې د ثبات او پرکوالی مخنیوی په څه شي سره کېږي؟
٤- قوانین په څو برخو وېشل شوي دي؟ نمونه یې واخلئ

## کورنۍ دنده

په خپل شخصي ژوندانه کې د قوانینو د تطبیق د ګټو په باره کې یوه مقاله ولیکئ.

---

(١)فلسفهٔ قانونگذاری در اسلام،دکتر صبحی رجب محمسانی، ص٢٠٢،انتشارات اندیشه، ١٣٨٦هـ.ش.

# اساسی قانون

فعالیت

**څوک کولای شي ووايي چې عادي قانون له اساسي قانون سره څه توپير لري؟**

په تېر لوست کې مو زده کړل چې ګډ ژوند د خلکو په منځ کې د اختلافاتو، سرغړونو او تېري کولو لامل ګرځيدلی دی؛ له دې کبله ده چې که په ټولنه کې قانون موجود نه وي د ټولنې حالت ګډوډېږي په دې لوست کې د اساسي قانون په هکله چې د دولتي ادارو ترمنځ له يوې بلې سره د اړيکو او هم له دولت سره د خلکو د حقونو او اړيکو د څرګندولو او تنظيمولو د قواعدو اساسي ټولګه ده، معلومات حاصلوئ.

## اساسي قانون يعنې څه؟

اساسي قانون له هغه وثيقې، تړون او عالي قرارداد څخه عبارت دی چې د هېواد د فردي او ټولنيز ژوند اړخونه تنظيموي او د هغو تګ لوری ټاکي. (۱)

هېڅ يو عادي جاري قانون چې د مقننه قوې له خوا تصويبېږي نه شي کولای چې د اساسي قانون سره مغايرت ولري؛ (۲).له دې کبله ده چې اساسي قانون د قوانينو د (مور) په نامه هم يادوي او د ايجاد د منشا له لحاظه له شرعي قوانينو پرته نسبت نورو قوانينو او مقرراتوته په لوړه درجه کې قرار لري.

د اساسي قانون د احکامو د تجديد نظر او تعديل لپاره په ډېرو هېوادونو کې د مؤسسانو د مجلس په نامه يوځانګړی مجلس (چې زموږ په هېواد کې دغه مجلس د لويې جرګې په نامه يادېږي) مستلزم دی؛ لويه جرګه يو خاص افغاني لغت دی چې بېلګه يې په ګاونډيو ټولنو او هېوادونو کې نه ليدل کېږي. يوازې زموږ د هېواد له مهمو تاريخي عنعنو څخه ده چې د راپېښو شوو ستونزو د حل او فصل په خاطر تشکيلېږي (۳).

فعالیت د اساسي قانون د احکامو تجديدنظر او تعديل د کومې مرجع له خوا ترسره کېږي؟ د خپلو ګروپونو د بحث پايله د سرګروپونو پواسطه نورو ته واوروئ.

---

(۱)دافغانستان نوي اساسي قانون له تسويده ترتوشيح،دويم ټوک، ص ۶۱۶، ۱۳۸۲ل.

(۲)قانون اساسي،ميثاق ملي،داکتر سيد اکبر زيوري، ص، ۵۹، ۱۳۸۲هجري،ش.

(۳)لويه جرګه اضطراري جوزاي ۱۳۸۱،کمسيون مستقل حقوق بشر افغانستان.

د یوه اساسي قانون د تدوین او تصویب  لپاره معمولاً د ځینو ځانګړو مراحلو اوتشریفاتو تېرولو ته اړتیا لیدل کېږي چې د عادي قوانینو د تصویب لپاره دغه ځانګړو  تشریفاتو ته اړتیا نه لیدل کېږي؛ ځکه چې د یوه هېواد اساسي قانون د هغه هېواد د اساسي حقونو اساسات، د سیاسي رژیم ډول او د قواوو د تفکیک اصل توضیح کوي، پروګرامونه سیاسي او حقوقي دستورونه تنظیموي او د هغو قواعدو او اصولو بنسټ ږدي کوم چې د هغو پر بنیاد مقننه قوا د قانون د وضع کولو توان پیدا کوي.
له دې کبله هغه مجلس چې اساسي قانون جوړوي، د بنسټیزې قوې ( لویې جرګې) په نوم یادېږي، لویه جرګه یو ستر او فوق العاده مجلس دی، له نورو عادي تقنیني مجلسونو سره توپیر لري.
کله چې اساسي او یا عادي قوانین په عادلانه توګه پلي یا عملي نه شي، خپل اهمیت له لاسه ورکوي؛ نو پر دولت او خلکو دواړو باندې لازم دي چې: د هغو په عادلانه تطبیق کې عدالت وساتي او خلک په هغو کې د ورکړل شوو حقونو په ترلاسه کولو کې هلې ځلې وکړي؛ ځکه په دې کار کې غفلت کول په ټنبخ باندې د خپلې پښې د وهلو او غوځولو په معنا دي.

### د لوست لنډیز

- د خپل ژوندانه د ورځنیو چارو د سمون  په خاطر، قوانینو ته اړتیاده.
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------

### پوښتنې

۱- اساسي قانون د عادي قوانینو په پرتله څه ښېګنه او پر لاسی لري؟
۲-  اساسي قانون ولې د قوانینو د مور په نامه یادوي؟
۳- د هېواد د اساسي قانون د احکامو تجدید نظر او تعدیل د چا صلاحیت دی؟
٤- د اساسي قانون د تصویب او تدوین لپاره څه شي ته اړتیا ده؟

### کورنۍ دنده

د خپلو مشرانو او ښوونکيوالو په مرسته  د لویې جرګې د غړو د ټاکنو په باره کې پنځه کرښې ولیکئ

# زموږ د ګران هېواد افغانستان اساسي قانون

په تېر لوست کې مو زده کړل چې ټولنه د ژوندانه د نظم د ساتلو په خاطر او د خپلو ورځنیو سیاسي،فرهنګي او ټولنیزو چارو د لا ښه نظم ورکولو لپاره قانون او اساسي قانون ته اړتیا لري. دا چې زموږ ګران هېواد افغانستان د نړیوالې ټولنې یو جز دی، نو د نورو هېوادونو په څېر عادي او اساسي قوانینو ته اړتیا لري.

فعالیت



(۱) انځور د افغانستان د اوسني اساسي قانون کتاب

په ډوګروپونو باندې ووېشل شئ او په لاندې ډول پخپلو ګروپونو کې بحث وکړې او بیا د بحث پایله د خپلو سرګروپانو پواسطه نوروته واوروئ.

لومړی ګروپ: که چېرې زموږ په جګړه ځپلي هېواد کې چې د فرهنګ جنګي اړخ یې د فرهنګ د نورو برخو په نسبت درونددی عادي او اساسي قوانین وجود و نه لري، څه به راپېښ شي؟

دویم ګروپ: که چېرې قانون په سمه توګه پلي شي، څه ګټې به ولري؟ پایله دې د ډلې یو استاذی نوروته بیان کړي.

لکه چې پوهېږو اساسي قانون د هر هېواد د سیاسي او حقوقي جوړښت معرفي کوونکی دی چې د قوانینو د مور په حیث له اسماني قوانینو پرته، په ټولنه کې موجود و قوانینو ته الهام ورکوونکی دی او هغه قانون ته ویل کېږي چې د حکومت څرنګوالی، حدود، واکونه او د وګړو کره او اساسي حقوق او دندې ټاکي.

د هېوادونو اساسي قوانینو منځپانګې یوه له بلې سره توپیر لري؛ په دې دلیل سره چې هر دولت له خپلو سیاسي شرایطو سره سم د خپل اساسي قانون د موضوعاتو حجم ټاکي؛ نو ځکه ځینې اساسي قوانین اوږده او مفصل وي او ځینې نور یې لنډ او مختصر.

د افغانستان سیاسي مختلفو رژیمونو هم له دې اصل څخه په ګټه اخېستنې سره د اساسي قوانینو په جوړولو لاس پورې کړی دی او له خپلو ځانګړوسیاسي شرایطو سره سم یې تدوین کړي دي.

د افغانستان لومړنی اساسي قانون د ( نظامنامه اساسي) په نوم د امان الله خان پاچا په همت سره د ۱۳۰۳ لمریز کال د پغمان په لویه جرګه کې چې ۱۵۰٤ کسو نماینده ګانو پکې برخه اخېستې وه، تدوین او تصویب شو. د دې نظامنامې ځینې حقوق او ازادی په دې ډول دي: د هېواد ټولو اتباعو لپاره د مساوي تابعیت حق، د شخصي ازادۍ حقوق، د شخصي خوندیتوب ( مصونیت) ازادي، د مریي توب لغو کول او د مریي او اسیر په توګه د وګړو د استخدام منع کول، د ښوونې او روزنې حق، د ښوونځیو او شخصي مدارسو ازادي، د لومړنیو زده کړو اجباري کول، د ملکیت خوندیتوب، د ځورونې (سکنجې) منع کول او داسې نورو څخه عبارت دی.

دویم اساسي قانون د محمد نادر خان د پاچاهۍ په وخت کې تدوین شو. د ۱۳۰۹ لمریز کال د لویې جرګې په ترڅ کې چې ٥۲٥ استازو پکې ګډون درلوده د افغانستان د اصول نامې په نامه تصویب شو. په دې قانون کې یوازینی موضوع چې هغه ته ولسي جنبه ورکوي د لومړني پارلمان له جوړېدو څخه عبارت ده چې د ( ملي شورای او اعیانو) دوه مجلسونه یې درلودل؛ د دې اصولنامې مطابق کابینه د پارلمان په وړاندې مسؤوله وه.

دریم اساسي قانون د محمد ظاهر شاه د پاچاهي په وخت کې: د نوي اساسي قانون په متن باندې له زیاتې

لانجي کولو وروسته د ٤٥٩ استازو له خوا لاس لیك شو او د محمد ظاهر شاه له خوا تر توشیح وروسته د تطبیق وړ وګرځیده. دغي قانون د افغانستان خلکوته د ژوندانه په سیاسي، فرهنګي او عدلي برخوکې د مهمو بدلونونو وعدي ورکړي.څلورم اساسي قانون د سردار محمد داود خان د جمهوریت په وخت کې تدوین شو، د جمهوریت تأسیس په پیل کې محمد داود پخپله هغه ویناکې چې د ۱۳۵۲ لمریز کال د چنګاښ په ۲۶ مه نېټه یې هېوادوالوته وکړه، د رښتیني دموکراسی پرېنسټ ولاړ اساسي قانون د تصویب وعده ورکره.
دغه وعده له کوم دلیل پرته نژدي څلورو کلونو لپاره وځنډیده؛ په پای کې د۱۳۵۵کال دکب دمیاشتي په پنځمه نېټه دلویې جرګې له خوا تصویب کړای شو. د دې اساسي قانون مثبت ټکي:
د افغانستان په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د لویې جرګې له خوا د جمهور رئیس ټاکل، د جرم او ملي خیانت کولو په صورت کې د دولت د رئیس مسؤول کېدل، د ولسي جرګې له خوا د دولت د رئیس تورن کیدل او د لویې جرګې له خوا د هغه محاکمه کېدو څخه عبارت دی.
د افغانستان پنځم اساسي قانون د افغانستان د موکراتیک جمهوریت د اساسي اصولو په نامه په ۱۳۵۹ لمریز کال د افغانستان د موکراتیک جمهوریت د انقلابي شورا له خوا په (۱۰) فصلونو او (۶۸) مادوکې په موقتي ډول تصویب او د اجرا وړوګرځیده.
شپږم اساسي قانون د دکتور نجیب الله د جمهوریت په وخت کې وضع شو چې د ۱۳۶۶ لمریزکال په لویه جرګه کې په ۱۳ فصلونو او ۱۴۹ مادوکې تصویب او د دکتور نجیب الله له خوا توشیح شو.
زموږ د هېواد اوسنی اساسي قانون: د دې اساسي قانون ( اوم اساسي قانون) مسوده د اساسي قانون په لویه جرګه کې چې د ۱۳۸۲ لمریز کال د لیندۍ د میاشتې په ۲۳ مه نېټهٔ چې د ۲۰۰۳ م کال د دسامبر د ۱٤مې نېټې سره سمون خوري تر غور او بحث لاندې ونیول شوه او د ۱۳۸۲ لمریز کال د مرغومي د میاشتې په ۱٤ نېټه تصویب شوه او د جمهور رئیس حامد کرزي له توشیح وروسته نافذه شوه. زموږ د هېواد د اوسني اساسي قانون منځپانګه یوه مقدمه، دو ولس فصله او ۱۶۲مادې لري.

**د لوست لنډیز**

- زموږ اساسي قانون چې د قوانینو د مور په نامه هم یادیږي له اسماني قوانینو پرته نورو ټولو قوانینو ته الهام ورکوونکی دی.
- ----------------------------------------
- ----------------------------------------

**پوښتني**

۱-زموږ د هېواد اوسنی اساسي قانون څو فصله او څو مادې لري؟
۲- اساسي قانون څه ډول قانون ته ویل کیږي؟
۳- د اساسي قانون موضوع او محتوا له کومو شیانو څخه جوړیږي؟
٤-د هغه ازادیو او حقونو په باره کې چې د امان الله خان نظامنامه کې وې، ستاسې نظر څه دی؟

**کورنۍ دنده**

د اساسي قانون د عادلانه تطبیق د ښېګڼو په باره کې پنځه کرښې ولیکئ.

# دویم څپرکی

په دې څپرکي کې  دا لاندې مطالب لولئ

- د فرهنگ ریښه، د فرهنگ جوړوونکي عناصر، د فرهنگ ځانګړنې او له ټولنې سره د هغه تړاو.
- کوچني فرهنگونه او فرهنگ ته د ټولنې د اړتیا لاملونه.

## د څپرکي موخې

له زده کوونکو څخه هیله کېږي چې په لاندې پوهنیزو، مهارتي او ذهنیتي موخو باندې پوه شي:

- په فرهنگ او د هغه  په اهمیت پوه شي.
- سمبولونو او د هغو پر ډولونو او د استعمال په ځایونو پوه شي.
- په ارزښتونو، قواعدو او مقرراتو باندې پوه شي.
- د ارزښتونو درناوی وکړي.
- د قانون او مقرراتو له رعایت کولو سره مینه پیدا کړي.
- کوچنی فرهنگ له لوی فرهنگ څخه بېل کړای شي.
- فرهنگ ته د ټولنو د اړتیا لاملونه بیان کړای شي.

# فرهنگ (کلتور) څه شی دی؟

په تېر لوست کې مو د اساسي قانون، د اساسي قانون محتوا او ډولونه، د خپل هېواد د اساسي قانون د مختلفو نومونو په هکله معلومات ترلاسه کړل؛ په اوسني لوست کې د فرهنگ په باره کې چې د ژوندانه طرحه او یا نقشه بلل کېږي، بلدتیا پیداکوو.

فعالیت


(۲)اخوږ د اختر د لمانځه تر اداکولو وروسته اخترمبارکي کول، د افغاني فرهنگ یوه اسلامي بېلگه

د فرهنگ په مفهوم باندې له بحث وروسته دې د هر گروپ نماینده د خپل ژوندانه له محل څخه دوه، دوه مثالونه یو له مادي فرهنگ څخه او بل له معنوي فرهنگ څخه نوروته واوروي.

د انسان له ځانگړتیاوو څخه یو یې د فکر کولو ځواک دی؛ په واقعیت کې انسان له دغه ځواک څخه په گټه اخیستنې سره د دې توان پیداکړی دی چې د نورو حیواناتو پرخلاف د طبیعت له بې قید او شرطه تسلیمۍ او تړاو څخه ځان خلاص کړي او پر هغه باندې د واکمن کېدو او مبارزې لپاره مختلفې لارې چارې او وسایل جوړکړي چې د هغو ټولگې ( مجموعې) ته فرهنگ ویل کېږي.

## دفرهنگ (کلتور)تعریف

د فرهنگ د تعریف په هکله باید ووایو چې په دې باره کې زیات تعریفونه وجود لري؛ دلته یوازې له یو څو هغو تعریفونو څخه چې ډېر اهمیت لري، یادونه کوو.

- په فرهنگ کې د انسان ټول فعالیتونه شاملیږي او د انسانانو د ژوندانه واقعي خېره ده؛ یا په بل عبارت فرهنگ د علومو، معتقداتو، هنر، اخلاقیاتو، قوانینو، عاداتو، ادابو او داسې نورو ډېروشیانو منظمه ټولگه ده چې انسان د ټولنې د یوه غړي په توگه، هغه له ټولنې  څخه زده کوي.
- په ټولنیز ژوندانه کې د انسانانو د هلوځلو واقعي لاسته راوړنې په ټولیزه توگه فرهنگ بلل کېږي.
- همدارنگه فرهنگ د زده کړای شووکړو وړو هغه ترکیب دی چې د ټولنې د غړو په وسیله له یوه نسل څخه بل نسل ته انتقالیږي او د ټولنې د غړو ترمنځ مشترک دی.
- په لنډ ډول باید وویل شي چې فرهنگ د ژوندانه له لارو چارو څخه عبارت دی چې هر

قوم يې د خپل ځان لپاره لري.

**فعاليت** ايا پوهېږې چې فرهنګ په څو اساسي برخو وېشلی دی؟د بحث پايله دې سرګروپان نوروته واوروي؟

- فرهنګ کولای شو په دوو بنسټيزو برخو ووېشو: مادي فرهنګ او غير مادي(معنوي) فرهنګ.

**مادي فرهنګ**: د محسوسو او ملموسو پديدو هغه ټولګې ته وېل کېږي چې د کمي او علمي معيارونو او قوانينو پواسطه د اندازه کولو وړوي؛ د لمس وړشيان، وسيلې او هغه شيان پکې شامل دي چې د تېرو وختونو د خلکو له خوا جوړ شوي او د ټولنې اوسنيو خلکو ته ميراث پاتې شوي دي لکه: د کار سامانونه، صنعتي او کرنيز وسايل، کالي، د کور وسايل، د توليد وسايل... او داسې نور په بله ژبه مادي فرهنګ په واقعيت کې د ټولو مادي لاسته راوړنو يا تکنالوژۍ څخه عبارت دی چې په يوه ټولنه کې موجود دي.

**غير مادي يا معنوي فرهنګ**: په دې فرهنګ کې هغه موضوعات شامل دي چې کيفي جنبه لري. په کمي معيارونو او موازينو باندې د اندازې وړنه دي او په اسانۍ سره نه شو کولای چې هغه پرتله کړو او وېې ارزوو. اداب او رسوم، معتقدات، اخلاقيات، ادبي او هنري اثار او عامه پوهونې ( فولکلور) او.... چې په عمومي توګه د ژبې او ليک پواسطه زده کېږي، د معنوي فرهنګ اجزاوې دي او په واقعيت کې د يوې ټولنې ( فرهنګي هويت) جوړوي.

### د لوست لنډيز

- د انسان له ځانګړتياوو څخه يوه يې د عقل او فکر څواک دی.
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------

### پوښتنې

۱-انسان د څه شي پواسطه د طبيعت د بې قيد او شرطه واکمنی او تړاو څخه ځان خلاصولی شي؟
۲- د فرهنګ له تعريفونو څخه هر يو يې چې په ياد لرئ، نوروته يې واوروئ.
۳- د لمس وړ هغه شيان او وسايل چې د انسانانو په لاس جوړ شوي دي، د څه شي په نوم سره يادېږي؟
٤- اثار، رسوم، معقتدات او .... چې د ژبې او ليک پواسطه زده کېږي، د څه شي په نام يادېږي؟

**کورنۍ دنده** له درسي کتاب څخه په ګټه اخېستنې سره، د مادي او معنوي فرهنګ په هکله څلور کرښې مقاله وليکئ.

# سمبولونه

په تېر لوست کې مو زده کړل چې د انسانانو له ځانګړتیاوو څخه یوېې د تفکر ځواک دی چې له هغه څخه په کار اخېستنې سره د نورو حیواناتو برخلاف ځان د طبیعت له واکمنۍ څخه خلاصوي. په دې مبارزه کې مختلفې لارې چارې او وسایل منځته راوړي چې د هغو ټولګې ته فرهنګ وايي. په اوسني لوست کې (سمبولونه) چې د فرهنګ او مفاهیمو د انتقال اساسي عناصر دی، پېژنو.




( )دانځورزموږ دولتي نښان د سمبول یوه بېلګه

**فعالیت**

په خپلو ګروپونو کې بحث سره وکړې او د هغو سمبولونو مثالونه چې ستاسې د استوګنې په ځای کې شته د خپلو سرګروپانو پواسطه نورروته واوروئ.

په ټولیز ډول هر څوک له نورو سره د اړیکو ټینګولو او نوروته د خپلو پیغامونو د انتقال لپاره له مختلفو وسیلو څخه، چې د سمبولونو په نامه یادېږي، کار اخلي. په بل عبارت سره ( اړیکه) د معنا او پیغام له انتقال څخه عبارت ده.

**سمبول څه ته وايي؟** سمبولونه هر ډول شفاهي او غیر شفاهي څرګندوني دي چې موخه یې یو چاته د یوه شي ورښودل وي او په هغوکې له لېږونکي څخه اخېستونکي ته د مفاهیمو په انتقال کې کار اخېستل کېږي. یا سمبولونه هغه نښې او علایم دي چې انسان ته د هغه حالاتو ورښودونکي دي چې په ورځنۍ ژوند کې له هغو سره سر وکار لري او په دوه ډوله دي: شفاهي یا کلامي سمبولونه او غیر شفاهي یا غیر کلامي سمبولونه. ژبه ( چې راتلونکي لوست دی) د شفاهي یا کلامي سمبولونو له جملې څخه ده چې د شفاهي او تحریري دوو برخو څخه جوړه شوې ده. غیر شفاهي یا غیر کلامي سمبولونه چې د جسماني ژبې په نامه هم یادېږي هغه سمبولونه دي چې د جسمي مختلفو حرکتونو په اجرا کولو سره مفهوم افاده کوي.

**فعالیت** د غیر کلامي سمبولونو درې نمونې چې پرې پوهېږې او د مختلفو جسمي حرکتونو پواسطه مفهوم افاده کوي، نوروته وښیاست.

رومي پوه سیسرون تر دوه زره کلو زیات دمخه په دې هکله ویلي دي (څېره د روح انځور دی)، د نوموړي موخه له دې څرګندونوڅخه داده چې د انسان هیجانات، احساسات او یا نورې رواني ځانګړتیاوې د هغه په څېره کې څرګندېږ.

په همدې ډول پخوانیو شاعرانو سترګې (د روح، پنجره) بللې ده؛ ځکه چې زیاتره د سترګو له لارې د نورو د احساساتو په باره کې ډېر څه لاسته راوړو. د مثال په توګه: دوامداره او معمولي کتل د دوستۍ او محبت نښه ګڼو. همدارنګه یو مشهور متل دی چې وایي: (سترګوته یې وګوره او زړه یې ولوله). په همدې ترتیب سره سمبولونه هغه څه دي چې یو مطلب واضحه او روښانه کوي؛ د بېلګې په توګه د سرې میاشتې د علامې په لیدلو سره موږ پوهېږو چې دغه نښه یا علامه هغه بنسټ موږ ته راپېژني چې دنده یې له زیانمنو خلکو سره مرسته کول دي، د بیرغ په لیدو سره زموږ هېواد را په یادېږي چې موږ یې اتباع یو. د ملي سرود په لیدو یا اوریدو سره پوهېږو چې زموږ په هېواد کې د میشتو خلکو د یووالي سمبول دی، کوم چې د اساسي قانون پر بنیاد د مساوي حقونو په لرلو سره یو د بل ترڅنګ ژوند کوي. د ښوونځي جامې ( یونیفورم) موږته راښیي چې د ښوونځي زده کوونکي یو او یا د (V) نښه چې خلک یې د خپلو دوو ګوتو په خلاصولوسره ښیي، د هغوي د پیوستون نښه ده. دوی د دې نښې په ښودلو سره دا معنا انتقالوي چې (موږ دلته یو؛ موږ ټینګ ولاړیو یا دا چې مقاومت کوو؛ موږ شتون لرو؛ موږ نه تسلیمیږو) په لنډه توګه ویلی شو چې هغه سمبولونه چې د اړیکو په ټینګولو کې په کار وړل کېږي په ټولیزه توګه (ژبه) بلل کېږي او له یوې ټولنې څخه تر بلې ټولنې پورې فرق کوي؛ په دې معنا چې هر سمبول په هره ټولنه کې یو شان معنا نه ورکوي.

## د لوست لنډیز

- سمبولونه د فرهنګ او مفاهیمو د انتقال مهم او اساسي عناصر دي.
- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱- انسان د دې لپاره چې په ټولنه کې خپل ژوندانه ته دوام ورکړي، څه شي ته اړتیا لري؟
۲- انسانان له نورو سره د اړیکو ټینګولو او د پیغام د انتقال لپاره له څه شي څخه کار اخلي؟
۳- سمبولونه څه ډول نښې ( علایمو) ته ویل کېږي؟
٤- سمبولونه په ټولیزه توګه په کوم نامه سره یادېږي؟

## کورنۍ دنده

د سمبولونو د اهمیت په اړه پنځه کرښې ولیکئ.

# ژبه

فعالیت

په دې باره کې چې د ژبې موجودیت د انسانانولپاره کومې اسانتیاوې برابرې کړې دي؟ بحث وکړئ او د بحث پایله دې سر ګروپان نوروته واوروي.

ژبه په ټولنیز ژوندانه کې هغه وسیله ده چې یوازې په انسان پورې اختصاص لري، د افهام، تفهیم او پیوستون لامل ده. د ټولنیزو ګروپونو په یو کیدو او جلا کیدو باندې زیات اغیز لري.

ژبه په یو کس پورې تړلې ټولنیزه پدیده ده چې د انسان او ټولنې د تکامل بهیر له یو نسل څخه بل راتلونکي نسل ته ورانتقالوي، که چېرې ژبه له انساني ټولنې څخه واخېستل شي، د ټولنیز حرکت د پلونو (عربو) حرکت به ورو شي؛ ټولنه به سره تیت او پرک شي، بشري فرهنګ او تمدن به له ورکیدو سره مخ شي.

ژبه د انسانانو ترمنځ د اړیکو نیولو لومړنۍ وسیله ګڼل کېږي، نن سبا ژبه د تېر وخت په شان د انسانانو ترمنځ یوازې د ساده اړیکو نیولو وسیله نه؛ بلکې د یوه ژوندي ملت د پېژندلو، موجودیت او ځانګړنې مهم لامل دی.

د هر ملت ژبه د ځمکې په کُره کې د هغه ملت د موجودیت د عامل په څېرده . د یوه ملت د پېژندنې لپاره باید د هغه ملت ژبه وپېژنو. فرانسویان د ژبې د اهمیت په هکله یو متل لري چې وایي: (( هر څوک چې پخپله مورنۍ ژبه باندې ونه پوهېږي، یو وحشي دی)). (۱)

همدارنګه جان ستورات وایي: (( که چېرې استعمار وغواړي چې کوم ملت تر خپلې ولکې لاندې راولي، لومړی د هغه د ژبې او هویت په لټه کې کېږي. (۲)

فعالیت

هغه ملت چې خپل فرهنګ او ژبه ونه ساتلی شي، له کومو ستونزو سره مخامخ کېږي؟

که چېرې کوم ملت خپله ژبه او فرهنګ له لاسه ورکړي، تل به د تاریخ په اوږدوکې د نورو ملتونو تر استعمار او تېري کوونکي فرهنګ لاندې وي څکه اقتصادي او ټولنیز استثمار او استعمار له فرهنګي استثمار څخه پیلیږي.

---

(۱) و (۲) روانشناسی اجتماعی، پوهنمل سراج الدین علیمی، پوهنیار ذبیح الله صدیقی، ص، ۱۷، کابل ۱۳۹۱

ژبې د معنویت او انسانیت خزانې دي؛ د یوه ملت د ژبې تر پښولاندې کول نه یوازې دا چې د هغې ژبې له ویونکو سره جفا ده، بلکې د هغه ملت د فرهنګ او معنویت سره دښمني هم ده. نو موږ ته اړینه ده چې د هغې د لا پرمختګ او بشپړ تیا په لارکې هلې ځلې وکړو. څرنګه چې هره ژبه د هغې ژبې د ویونکو لپاره عزتمنه ده، نو موږ هم باید هغوی ته د درناوی کولو په خاطر، د دوی د ژبې درناوی وکړو.

### د لوست لنډیز

- ژبه په ټولنیز ژوندانه کې په انسان پورې تړلې او د افهام او تفهیم وسیله ده.
- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------

### پوښتنې

۱- ژبه د ټولنیزو ګروپونو په یووالي کې څه تاثیر لري؟
۲- ژبه د فرهنګ په انتقال کې څه اغېز لري؟
۳- هغه ملت چې خپل اصیل فرهنګ او ژبه له لاسه ورکړي، له کومو ستونزو سره مخ کېږي؟
٤- د یوه ملت د ژبې تر پښولاندې کول، د هغه ژبې دویونکو لپاره د څه شي معنا لري؟

### کورنۍ دنده

د ژبې د پرمختګ، بشپړتیا او د ساتنې په باره کې د خپلې دندې په هکله پنځه کرښې مقاله ولیکئ او سبا ته یې ټولګي ته له ځانه سره راوړئ.

# عقاید، قواعد او ارزښتونه

په تېر لوست کې مو زده کړل چې ژبه د افهام او تفهیم وسیله ده. په انسان پورې اختصاص لري؛ د انسان د تکامل او ودې، فرهنګ د بهیر په انتقال کې ستر رول لوبوي؛ که چېرې ژبه له ټولنې څخه واخېستل شي، د هغې فرهنګ او تمدن له ورکیدو سره مخ کېږي. په دې لوست کې عقاید، قواعد او ارزښتونه چې د فرهنګ د جوړوونکو عناصرو له جملې څخه دي، زده کوو.



فعالیت

لکه چې پوهېږو هر جسم د هغه وړو او کوچنیو ذرو ټولګه ده چې د عنصر یا د هغه جسم د ډېر کوچني جوړوونکي واحد په نامه یادیږي. ستاسې په اند عقاید، قواعد او ارزښتونه ولې د فرهنګي عناصرو په نومونو سره یادوي؟ که چېرې دغه عناصر موجود نه وي، فرهنګ منځته راتلای شي کنه؟ د خپلو ګروپونو د بحث پایله دې د ګروپونو سر ګروپان نورو ته واوروي.

(٤) انځور جامع جومات، د اسلامي عقایدو د یوې برخې (لمانځه) د اداکولو ځای.

د فرهنګ د مفهوم له تحلیل او تجزیې څخه کولای شو تیت او پرک عناصر تشخص کړو چې هغه د فرهنګ په جوړېدو او پیدا کیدو کې ستر رول لوبوي چې هر یو یې په ترتیب سره په لاندې ډول لولو:

۱- **عقاید**: د عقیدې جمع ده او له هغه فکر څخه عبارت دي چې انسان پر هغه باندې باور او یقین لري او هغه درست او صحیح بولي او یا دا چې باوروونه د نړۍ او ټولنې د ماهیت په باره کې کلي او نا معلوم عقایددي چې له یوه فرهنګ څخه تر بل فرهنګ ان تر دې چې له یوه کوچني فرهنګ څخه تر بل کوچني فرهنګ پورې توپیر کوي. د بېلګې په توګه: اسلامي نړۍ له خپلو ځانګړو اسلامي عقایدو څخه پیروي کوي. اسلام د هغې دین په نامه چې د انساني ژوند ټولې چارې په برکې نیسي، پخپله له ډېرغني فرهنګ څخه برخمن دی. دغه فرهنګ له اسماني وحي سره موافق دی چې له اسلامي ښوونو څخه سرچینه اخلي؛ د بېلګې په توګه: په مومن به باندې ایمان راوړل چې د اسلامي عقایدو بنسټ جوړوي او عبارت دي له:

(آمَنتُ بِاللهِ وَ مَلائِکَتِه وَ کُتُبِه وَ رُسُلِه وَالیوم الآخِرِ وَ القَدرِ خَیره وَ شَرِّه مِنَ اللهِ تَعَالي وَالبَعثِ بَعدَ المَوتِ).

ژباړه: ایمان لرم په الله (ج)، په ملائکو د الله تعالی، په کتابونو د الله تعالی، په رسولانو د الله تعالی، په ورځ د اخرت او په اندازه د خیر او شر باندې چې د الله تعالي له خوا دي او په ژوند وروسته له مرګه.

(آمَنتُ بِاللهِ کماهو بِأسمائهِ و صفاتهِ وقَبلتُ جَمْیع احکامهِ وارکانهِ اقرار باللسان و تصدیق بالقلب)

ژباړه: ( ایمان مې راوړې دی په الله تعالی باندې لکه څنګه چې هغه دی، د هغې په نومونو باندې، د هغې په صفتونو باندې او منلي مې دي د هغه ( الله) ټول احکام او ارکان اقرار کوم په ژبه باندې او تصدیق کوم په زړه باندې.

**قواعد**: د قاعدې له جمعې، قوانینو او ځانګړو لارو چارو څخه عبارت دی چې د ټولنې زیاتره خلک په ځانګړو حالاتو کې خپل عملونه له هغو سره برابروي؛ د بېلګې په توګه: د هغه څه په مقابل کې چې اخلو یې، پیسې ورکوو؛ د واټ په ښی خواکې موټر چلوو؛ د مصیبت په وخت کې له دوستانو سره خوا خوږي کوو؛

لنډه دا چې هغه عادتونه چې زموږ په اعمالو باندې حاکم دی او موږ نه پرېږدي چې د هغه مخالف رفتار وکړو له قواعدو څخه عبارت دي. همدغه قواعد دي چې زموږ په ډېرو عملونو باندې حکم چلوي او موږ ته په يوې خاصې طريقې سره د عملونو د اجرا او سرته رسولو لارښوونه کوي. که چېرې دغه قواعد تر پښو لاندې کړو، د ټولنې نور غړي يې نه خوښوي او مجازات کېږو؛ نو وايو چې قواعد يو شمېر هغه دستورالعملونه دي چې د انسانانو ژوند تنظيموي او سمې لارې ته يې رهنمايي کوي.

**ارزښتونه**: ارزښتونه په ټوليز ډول د هغه څه په باره کې نظريې او فکرونه دي کوم په ټولنه کې درست يا نادرست ګڼل کېږي. د بېلګې په توګه: ژوند با ارزښته دی، نو ځکه بايد څوک ونه وژنو.

ارزښتونه فرهنګي معيارونه دي چې خلک د هغو له طريقه د يو چا او يا کوم شي مطلوبيت، جذابيت، ښکلا او ښېګڼه ارزوي او هغه د خپل ټولنيز ژوند رهنما ګرځوي.

**فعاليت** د يوې ټولنې د ارزښتونو مهم والی څه شی دی؟ د بحث پايله نوروته واوروئ.

هر هغه څه چې انسانان يې مطلوب، ښه او مناسب بولي د هغه خاص فرهنګ د تاثير له وجهې دي په کوم کې چې ژوند کوي. د يوې ټولنې ارزښتونه په دې دليل مهم دي چې د هغې ټولنې د قواعدو او مقرراتو منځپانګه تر خپل اغېز لاندې راولي، د بېلګې په توګه که چېرې کومه ټولنه ښوونې او روزنې ته ډېر لوړ ارزښت ورکړي، نو د هغې ټولنې قواعد او مقررات يوه ټولنيزه ښوونه او روزنه رواجوي.

د ارزښتونو پېژندنه او تشخيص يو څه مشکل دی ځکه چې د هرې ټولنې ارزښتونه بايد د هغې ټولنې له قواعدو او مقرراتو څخه لاسته راوړو؛ د بېلګې په توګه: د اسلام د پنځه ګونو بناوو اداکول، ، د اخترونو لمونځونه، د مړي کفن کول، جنازې او ښخولو په مراسمو کې ګډون، صداقت، رښتينوالي، له هېواد سره مينه، د مور او پلار درناوی کول، عدالت او ترحم زموږ په ټولنه کې زيات ارزښت لري. د ښه ژوند کولو، له بدمرغی او مصيبتونو څخه د خلاصون په خاطر بايد د خپلو مذهبي او اخلاقي ارزښتونو پابند واوسيږو، همدارنګه له خپلو خپلوانو او اولادونو څخه غوښتنه وکړو چې هغه رعايت کړي او د خپل ژوندانه دکار دستور ( سرمشق) يې وګرځوي.

## د لوست لنډيز

- د فرهنګ د مفهوم د تحليل او تجزيې په پايله کې د هغه د جوړوونکو عناصرو په موندلو بريالي کېږو.
- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------

## پوښتنې

١- عقايد يا باورونه څه ډول فکر او نظريې ته وېل کېږي؟
٢- اسلامي امت بايد له څه ډول عقايدو څخه پيروي وکړي؟
٣- هغه څه چې د اسلامي عقايدو بنسټ جوړوي، د څه شی په نامه سره يادېږي؟
٤- د ارزښتونو له تعريفونو څخه يو يې خپلو ملګروته واوروئ.

**کورنۍ دنده** د يوه ټولنيز ارزښت په اړه په خپله خوښه سره څلور کرښې مقاله وليکئ.

# د فرهنگ (کلتور) ځانګړتیاوې

په تېرلوست کې مو زده کړل چې فرهنګ د ادابو، رواجونو، عنعناتو، هنر او ... یو کلي ترکیب دی چې د دې عناصرو یووالی د فرهنګ په پیداښت او جوړېدو کې ستر رول او زیات اغېز لري، په دې لوست کې د فرهنګ د ځانګړتیاوو په هکله زده کوو.

فعالیت: فرهنګ د ټولنې خلکو ته څه ډول توصیه کوي؟ د خپل بحث پایله د خپلو سرګروپانو پواسطه نوروته واوروئ.

لکه څرنګه چې د مخه هم ورته اشاره شوې ده، یوازې انسان دی چې فرهنګ لري او د همه دغه ځانګړتیا له نورو موجوداتو څخه د هغه د بېلتون او توپیر وجه ده. خدای تعالی انسان ته عقل ورکړی دی او زیاتره د هغه زده کړو پر بنیاد چې پخپل ټولنیز ژوند کې یې حاصلوي، عمل کوي؛ په داسې حال کې چې نور حیوانات پخپل ارثي یا شعوري ډول عمل کوي.

فعالیت: انسانان فرهنګ څرنګه زده کوي؟ د بحث پایله دې سرګروپان نوروته واوروي.

فرهنګ د هر انسان په فکر او ذهن کې چې له نورو سره د معاشرت په پایله کې یې زده کړې دی، وجود لري او د وخت په تېرېدو سره راتلونکو نسلونو ته په میراث پاتې کېږي، فرهنګ د ژوندانه د لارو چارو ټولګه ده؛ ځکه د هرې ټولنې فرهنګ دا تعینوي چې د ټولنې خلک څه ډول احساس وکړي، څه ډول کړه وړه ( رفتار) ولري او درک یې څه ډول وي.

فرهنګ د ټولنیز ژوند شیره ( عصاره) ده او زموږ په ټولو فکرونو، الفاظو او فعالیتونو کې څرګندېږي.

فرهنګ یوه منظمه مجموعه او یوه سازمان شوې ټولګه ده؛ کله چې وایو: یوه منظمه مجموعه، مطلب مو دا دی چې د هغې د اجزاوو په منځ کې په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول اړیکې وجود لري او هر جز د کل په پایښت او بقاکې خپل رول لوبوي.

فرهنګ د ټولنیز کنټرول لپاره یوه وسیله ده: څرنګه چې خلک د خپلو کړو وړو لارې چارې او فرهنګي نمونې د ټولنې له لارې د رسمي یا غیر رسمي زده کړو په وسیله زده کوي، فرهنګ د دوی کړه وړه او غوښتنې سره یو رنګ کوي او د هغو مجازاتو په واسطه چې عملي کوي یې، په ټولنه کې د کنټرول او نظم د راوستو لامل ګرځي.

فرهنگ یوه متحرکه، انتقال منونکي او پایداره پدیده ده: فرهنگ یو متحرك جریان دی چې د زده کړې له لارې له یو نسل څخه بل نسل ته انتقالیږي، ادامه پیدا کوي او بدلون مومي، لکه: د جامو رنګونه او د ګنډلو ډولونه یې، ډوډۍ خوړل، د پېرلو او پېرودلو ډول، د تولید ډول، مېلمه پالنه او داسې نور، کله چې په یوه فرهنګ کې نوي عناصر ولېدل شي، د هغه په اثر د هغه فرهنګ منځپانګه او جوړښت بدلون مومي او فرهنګي بدلون یا تحول منځته راځي؛ خو دغه تغییرات دومره ورو او بطي وي چې په لږ وخت کې هېڅ نه محسوسیږي او ثابت ښکاري.

## د لوست لنډیز

- فرهنګ له نورو موجوداتو سره د انسان د تمایز یا بېلتون وجه ده.
- ---
- ---
- ---

## پوښتني

١- انسان هغه فرهنګ چې په فکر او ذهن کې یې دی، څه ډول زده کړی دی؟
٢- په فرهنګ کې تغییر یا بدلون څه وخت رامنځته کېږي؟
٣- د فرهنګ په انتقال کې له څه شي څخه کار اخېستل کېږي؟
٤- د فرهنګي څلورو عامو نمونو یوازې نومونه واخلئ.

کورنۍ دنده

د خپل ماحول د فرهنګي ورته والي او اختلاف په هکله د نورو په مرسته پنځه کرښې مقاله ولیکئ.

# فرهنګ(کلتور) او ټولنه

په تېر لوست کې مو زده کړل چې یوازې انسان دی چې فرهنګ لري، فرهنګ له نورو موجوداتو سره د هغه د بېلتون او توپیر لامل ګڼل کېږي. انسان د خپل استعداد او تجربو سره سم چې پخپل ټولنیز ژوند کې یې زده کړي دي، عمل کوي او نور حیوانات په ارثي یا شعوري ډول عمل کوي، په اوسني لوست کې د فرهنګ او ټولنې په هکله چې د ټولنیز ژوند بنسټ ګڼل کېږي، معلومات حاصلوو.

فعالیت

لکه چې پوهېږو انسان په ټولنه کې پیدا کېږي او لویېږي، له ټولنې څخه یې زده کوي او هغې ته یې ورزده کوي، د یو لړ قوانینو او مقرراتو په منلو سره خپل ژوندانه ته دوام ورکوي او د یو لړ فرهنګي عناصرو د را پیداکیدو لامل ګرځي، ستاسې په نظر: د انسان له مداخلې او فعالیت پرته د فرهنګي عناصرو داخیلدل په پخوانی فرهنګي ټولګه باندې څه اغېز کوي؟

فعالیت د خپل ګروپي کار پایله د سرګروپانو په واسطه نورو ته بیان کړئ.

فرهنګ د مفهوم له لحاظه له ټولنې سره توپیر لري، ټولنه د وګړو ترمنځ د متقابلو اړیکو هغه ټولګې ته ویل کېږي چې ګډ فرهنګ لري او د خپلو بنسټیزو اړتیاوو د پوره کولو لپاره یو له بله سره متقابل ټولنیز اړیکې لري؛ هیڅ فرهنګ نه شي کولای چې له ټولنې پرته وجود ولري، لکه چې له فرهنګ پرته هېڅ ټولنه هم وجود نه لري.

ټولنه د خلکو له هغې ډلې څخه عبارت ده چې یو له بله سره ډول، ډول مختلفې اړیکې لري او فرهنګ د ژوندانه د ارزښتونو، عادتونو او رسمونو هغه طریقه ده چې ټولنه یې منځته راوړي.

خدای تعالی دغه خاورین عالم د نیستی له نړۍ څخه د هستی عالم ته راووړ او هغه انسانان چې په هغه کې ژوند کوي، ټول له نیستی څخه هست شول او د ځمکې په مختلفو سیمو کې یې ژوند کول پیل کړل، همدغه انساني ګروپونه وو چې د خپلو ځانونو لپاره یې ځانګړې ادبونه، رسمونه او عقاید غوره کړل او دیني راسخه عقیده یې له خدای تعالی څخه د نبیانو پواسطه زده کړه چې د وخت په تېریدو سره د خلکو او ټولنې په زیاتیدو او د نورو د مداخلو په سبب په دغو ادبونو، رسمونو او عقایدو کې هم بدلونونه منځته راغلل او د نوو ادبونو، رسمونو او عقایدو د منځته راتلو

سبب وګرځېدل. فرهنګ ټول شیان او نعمتونه په برکې نیسي کوم چې خدای تعالی د ځمکې پرمخ د خپلو بندګانو د ګټې اخېستلو لپاره پیدا کړي دي او ټول یې په هغو کې سره شریک کړي دي. دغه شیان دوه ډوله دي: مادي او معنوي، چې فرهنګ هم د هغوی پر بنیاد په دوو برخو یعنې مادي او معنوي باندې وېشل شوی دی.

**مادي فرهنګ**: د فرهنګ هغه برخه چې د لمس، اندازه کولو، ارزونې او پرتله کولو وړ وي، د فرهنګ مادي برخه جوړوي لکه: مادي شیان، د کار وسایل، صنعتي، کرنیز او د عکاسي وسایل. مادي فرهنګ په واقعیت کې په ټولنه کې ټولې مادي او تکنالوژیکي لاسته راوړنې په برکې نیسي. د فرهنګ دغې برخې ته تمدن هم وایي.

**معنوي فرهنګ**: د فرهنګ له هغې برخې څخه عبارت دی چې کیفي جنبه لري او د پرتله کېدو او اندازه کولو وړتیا نه لري، یا داچې د اندازه کولو لپاره یې کوم ثابت معیار وجود نه لري؛ ادبي، هنري او فکري اثار،رواجونه او اخلاق او داسې نور د دې فرهنګ جز ګڼل کېږي.

## د لوست لنډیز

- د انسان، ټولنې او فرهنګ اصطلاحات د مفهوم له لحاظه یو له بله سره بېلولی شو.
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱- ټولنه او فرهنګ د څه شي له لحاظه یو له بله بېلولی شو؟

۲- باید د څه لپاره د خپلو او د نورو د فرهنګي ارزښتونو درناوی وکړو؟

۳- مادي فرهنګ کوم شیان په برکې نیسي؟

٤- کوم شیان د نوو فرهنګي عناصرو د منځته راتلو لامل ګرځي؟

## کورنۍ دنده

د خپل ماحول د معتبرو عنعناتو څخه د یوه په باره کې پنځه کرښې مقاله ولیکئ.

# کوچني فرهنګونه

په تېر لوست کې مو زده کړل چې انسان په ټولنه کې پیدا کېږي، لويېږي، زده کړه کوي او نوروته يې ورزده کوي. د هغه برعکس حيوانات په ارثي او شعوري ډول عمل کوي په دې لوست کې د کوچنيو فرهنګونو په هکله چې په ځينو ځانګړو ګروپونو پورې اړه لري، معلومات حاصلوو.

فعاليت: د خپل هېواد افغانستان د مختلفو سيمو خلک په پام کې ونيسي. د هغوی د خوګډو او مختلفو خصوصياتو په هکله پخپلو ګروپونو کې بحث وکړئ او بيا د بحث پايله د سرګروپانو پواسطه نوروته واوروئ.

کوچني فرهنګونه په يوه لويه ټولنه کې د يوه کوچني ګروپ د ژوند له ډول او طريقو څخه عبارت دی. د کوچني ګروپ د ژوند طريقه له يوه پلوه له هغه فرهنګ سره چې دی يې احاطه کړی دی، يوشان او له بله پلوه له هغه څخه توپير لري، کوچني فرهنګونه د ستر فرهنګ د ژوند ډېرې طريقې مني، خو په هغو مواردو کې چې د مادي چارو په قواعدو او د کار کولو په طريقو پورې اړه پيدا کوي، د کوچني ګروپ غړي د هغو په باره کې متفاوت نظرونه لري، د دې کوچنيو فرهنګونو له منځ څخه سيمه ييز، مذهبي، سنتي يا دوديز، قومي، قبيله يي فرهنګونه او همدارنګه د سيمه ييزو، محلي، کسبي، خپلوي، د مذهبي لړکيو، د ډلو فرهنګونه او په پای کې د يوې ټولنې مختلف قشرونه هر يو ځانته کوچني او ځانګړي فرهنګونه لري چې په همغه ځانګړي ټولنيز ګروپ پورې اړه پيدا کوي. په ټوليز ډول له دې ګروپونو څخه په هر يوه کې د فرهنګ هويت او اختصاصي شکل وجود لري چې د کوچني فرهنګ يا د ستر فرهنګ يوه برخه ورته ويل کېږي. له دې کبله کوچنی فرهنګ د خلکو په ګروپ کې د متداولو او مروجو عقايدو، ادبونو او رواجونو سره توپير لري. په بل عبارت د کوچني فرهنګ مفهوم د فرهنګ هغو نمونو ته ويل کېږي چې د ټولنې يوه برخه له هغه ټولې ټولنې (کل) څخه بېلوي. ټولنپوهان د دې لپاره چې دا وښيي چې ايا د خلکو يوه ډله (ګروپ) د کوچني فرهنګ جوړوونکی دی او که نه؟ لاندې ځانګړنې په پام کې نيسي:

• ژبه ، ارزښتونه، قواعد او مشترک جغرافیایي قلمرو ولري.

• د دې ډلې د غړو ترمنځ متقابل ټولنيز عمل د نورو ډلو په پرتله ډېر وي.

• د ټولو کوچنيو فرهنگونو د گډو خصوصياتو (ځانگړتياوو)څخه يوېې دا دی چې غړي يې د ځينو لاملونو له امله د ټولنې له نورو غړو څخه ځانونه جلا احساسوي او گوښي کېږي. دغه انزوا يا گوښه والی کيدای شي چې داوطلبانه وي او يا د نورو عواملو پايله وي. د دې لړې والی دليل چې هر څه وي، خو کوچني فرهنگونه ( په ځينو برخو کې) د ټولنې له اصل فرهنگ څخه په بله لار حرکت کوي. څرنگه چې کوچني فرهنگونه هم ځانته پلويان او طرفداران لري، نو له دې کبله بايد د هغوی درناوی وشي او چاته موقع ورنه کړای شي چې د هغوی بې احترامي او سپکاوی وکړي.

## د لوست لنډيز

• کوچني فرهنگونه په يوه لوی فرهنگ کې د يوه گروپ د ژوند له طرز څخه عبارت دي.

• ------------------------------------------------------------

• ------------------------------------------------------------

• ------------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱- هغه هويت او اختصاصي شکل چې په گروپونو کې شته، د څه شي په نوم سره ياديږي؟

۲- د کوچني فرهنگ مفهوم څه ډول فرهنگ ته ويل کېږي؟

۳- ټولنپوهان د دې لپاره چې وښيي چې ايا د خلکو يو گروپ د کوچني فرهنگ جوړوونکي دی کنه څه شی په پام کې نيسي؟

٤- د کوچنيو فرهنگونو له گډو ځانگړتياوو څخه يوه يې له څه شي څخه عبارت ده؟ نوم يې واخلئ.

## کورنی دنده

د کوچني فرهنگ د يوې نمونې په باره کې پنځه کرښې مقاله وليکئ.

# ولې ټولنې فرهنګ ته اړتیا لري؟

په تېر لوست کې مو زده کړل چې د عامو فرهنګونو سربېره کوچني فرهنګونه چې په یوه لوی فرهنګ کې د یوه ګروپ د ژوند طرز څرګندوي، هم وجود لري. هر کوچنی فرهنګ له یوه پلوه له لوی فرهنګ سره چې هغه یې احاطه کړی دی هم غاړی ( هم جهت) دی او له بله پلوه له هغه سره توپیر لري. په اوسني لوست کې به دې باره کې چې ولې ټولنې فرهنګ ته اړتیا لري؟ معلومات حاصلوو.

**فعالیت** په خپلو ګروپونو کې په دې هکله چې ولې انساني ټولنې خپل فرهنګ جوړوي؟ خبرې وکړئ او بیا د خپل بحث پایله نورو ته واوروئ.

لکه چې تراوسه پورې مو ولوستل چې انسانان په دې دلیل خپل فرهنګي نظامونه جوړوي چې هغو ته اړتیا لري؛ دغه نظامونه پراختیا مومي، ترڅو متقابل عمل او تنظیمول اسان کړي. همدغه اړتیاوې او په یوه فرهنګ باندې د هغوی بدلیدل، قواعد، رواجونه او ارزښتونه جوړوي چې په ټولنه کې د نظم راوستو لامل ګرځي او په هغه ټولنه کې چې دغه فرهنګ یې منلی دی د پیاوړتیا، پیوستون او ټینګ ارتباط لامل ګرځي. هغه ټولنې چې پخپله وده او لوړتیا کې په فرهنګونواو عقایدو باندې ولاړې وي، د همغو فرهنګونو مطابق چې د ټولو خلکو له خوا منل شوي وي، د یوه او بل ټولنیزې اړتیاوې پوره کوي. متفکر انسانان له خپلو موجودو امکاناتو څخه په ګټې اخیستنې سره په دې توانیدلي دي چې غرونه، درې، ځنګلونه، دښتې، ساحلي او قطبي سیمې تر خپلې ولکې لاندې راولي؛ ځکه چې تل یې په داسې ځایونو کې د ژوند کولو لپاره ځانګړې تخصصي وسایل تهیه کړي دي.

**فعالیت** که چېرې د فرهنګي عناصرو انتقال له یوه نسل څخه بل راتلونکي نسل ته صورت نه نیوه، ټولنه به له کومو ستونزو سره مخامخ کېده؟

فرهنګ د یوې ټولنې د پرمختګ او لوړتیا له ډېرو مهمو لاملونو څخه دی. همدغه ګډ فرهنګ دی چې ګډ ژوند یې ممکن کړی دی او له یوه نسل څخه بل نسل ته د فرهنګ له انتقال پرته به دا لازمه وای چې هر نوی نسل د انساني ژوند ډېر ساده مسایل له سره پیل کړي او همدارنګه مجبور به وو چې کورنی نظام له سره ایجاد کړي، نوې ژبه منځته راوړي، اورکشف کړي او ماشینونه جوړکړي.

زموږ ټولنه هم د نورو ټولنو په څېر فرهنګ لري چې له یوه نسل څخه بل نسل ته انتقال شوی دی. دغه فرهنګ زموږ ټکنالوژي، مذهبي بنسټونه، ژبه، ارزښتونه، عقاید، قوانین او دودونه په برکې نیسي. د هرې ټولنې اړتیاوې د بدلونونو په اثر زیاتېږي. د دې اړتیاوو د پوره کولو لپاره ټولنه نوو وسایلو ته اړتیا لري چې د دې نوو وسایلو او عواملو د رامنځته کېدو او د زړو عواملو د دوام په پایله کې د ټولنې په فرهنګ باندې ورزیاتېږي او یو څه لویه فرهنګي ذخیره منځته راوړي.

تاریخ ښودلې ده چې ټولنه د خپلې اقتصادي ودې په پړاو کې روح لري چې هغه روح هماغه فرهنګ دی. که چېرې یوه ټولنه د یوه جسم په شان په پام کې ونیسو، فرهنګ د هغې ټولنې روح دی، همدا دلیل دی چې هېڅ ټولنه له خپل فرهنګ پرته وجود نه لري؛ څرنګه چې زموږ ټولنه یوه اسلامي ټولنه ده او د یوې ټولنې فرهنګ هغه وخت د روح مرحلې ته رسیږي چې په هغه ټولنه باندې واکمنه فضا بشپړه اسلامي فضا وي، خلک یې له اسلامي اخلاقو سره عادت شوي وي، له اسلامي قوانینو او مقرراتو سره بلد شوي وي، اسلامي اداب په پام کې ولري، یعنې دا چې په ټولنه کې اصیل او تغییر نه منونکې اسلامي فرهنګ پلي شوی وي.

## د لوست لنډیز

- له فرهنګ پرته ټولنه او له ټولنې پرته فرهنګ وجود نه لري.
- ------------------------------------------------
- ------------------------------------------------
- ------------------------------------------------

## پوښتنې

۱- ولې ټولنه له فرهنګ پرته وجود نه لري؟

۲- فرهنګونه څرنګه له یوه نسل څخه بل نسل ته انتقالیږي؟

۳- که چېرې څوک د یوې نوې ټولنې له فرهنګ سره بلد نه وي، له کومو ستونزو سره مخامخ کېږي؟

۴- ولې د نورو د فرهنګونو درناوی وکړو؟

## کورنۍ دنده

د فرهنګي عناصرو د پېژندلو او رعایتولو په باره کې پنځه کرښې مقاله ولیکئ.